# د مالِک عیسیٰ مسیح په حقله د حضرت لوقا زيرے

## پېژندګلو

د حضرت لوقا زيرے د يو خط په شکل کښې دے چې تيوفيلوس ته ليکلے شوے دے. کله چې حضرت لوقا رسول د حضرت عيسىٰ مسيح په حقله ډېر په احتياط سره حقائق راټول کړل نو بيا يې دا زيرے وليکلو. حضرت لوقا د حضرت عيسىٰ د پېدايښت نه مخکښې خبرې، د هغۀ خِدمت، مرګ او د مړو نه د بيا ژوندى پاڅېدلو په حقله ليکل کړى دى. حضرت عيسىٰ خپل خِدمت د روحُ القُدس په طاقت سره کولو، او د خلاصون د زيرى اعلان به يې کولو. هغۀ بےشمېره خپل رحم غريبانانو او هغه خلقو ته چې هيچا به يې تپوس نۀ کولو ښکاره کړے دے. هغۀ پېشګوئې پوره کړه او خپل مقصد يې سر ته ورسولو چې ورک شوى ولټوى او بچ يې کړى. حضرت لوقا زمونږ سوچ او خيال دې خبرې ته راګرځوى چې خُدائ پاک په خپله د تاريخ لوئ واکدار دے چې په کائنات کښې يې لوئ بدلون راوستے دے په کوم کښې چې وړومبى وروستى او وروستى وړومبى شول، کبرژن عاجز کړے شول او عاجزان لوئ کړے شول. حضرت لوقا د پېشې په لحاظ طبيب وو او د پولوس رسول نزدې ملګرے وو، او د هغۀ ټولې خبرې يې په تفصيل سره وليکلې. د حفظ کولو دپاره ۶:۲۲ آيت "تاسو بختور يئ کله چې خلق تاسو نه نفرت کوى او د خپل مينځ نه مو شړى او درته سپکې سپورې وائى او د اِبن آدم د مريدئ په وجه په تاسو اِلزام لګوى."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مقدمه

١ (١) ډېرو خلقو په دې لاس پورې کړے دے چې د هغه واقعاتو ترتيب وار
بيان وکړی کوم چې زمونږ په مينځ کښې تير شوی دی. (٢) بلکې هغوئ مونږ ته
خبرې حواله کړې دی او چا چې دا واقعات د سر نه په خپلو سترګو ليدلی وُو
هغوئ د زيری خادِمان وُو. (٣) نو زۀ هم په خپل وار، اے خوږه تيوفيلوسه، ستا
دپاره د پوره تحقيق نه پس دا ټولې خبرې په ترتيب سره ليکم. (٤) دا د دې دپاره
چې ستا په هغه خبرو پوره يقين وشی د کومو نه چې تۀ خبر کړے شوے يې.

## د حضرت يحيیٰ د پېدايښت پېشګوئي

(٥) د يهوديه د هيروديس بادشاه په زمانه کښې يو يهودی اِمام وو چې نوم يې
زکرياه وو. دے د ابياه د خاندانه وو. د هغۀ ښځه د هارون د اولاده وه. د هغې
نوم اليشبع وو. (٦) دوئ دواړه د خُدائ پاک په وړاندې رښتينی وُو او د مالِک
خُدائ ټول حُکمونه او قانونونه يې بې‌عيبه منل. (٧) خو د هغوئ اولاد نۀ وو ځکه
چې اليشبع شنډه وه او دوئ دواړه د ډېر عُمر وُو. (٨) يو ځلې چې د زکرياه د
خاندان د خِدمت وار وو او هغۀ د اِمامت فرض پوره کولو، (٩) نو د اِمامت د
طريقې په مطابق د هغۀ د نامی هسک راووتلو چې د مالِک خُدائ کور ته ننوځی
او خوشبوئی وسيزی. (١٠) دا د خوشبويۍ د سيزولو وخت وو او بهر ټوله جمع
په عبادت کښې مشغوله وه، (١١) چې د مالِک خُدائ يوه فرښته د خوشبويۍ د
قربان‌ګاه ښی طرف ته ولاړه ښکاره شوه. (١٢) د دې په ليدلو زکرياه حيران شو
او يرې واخستو. (١٣) خو فرښتې هغۀ ته وفرمائيل، ”زکرياه. يرېږه مه. ستا دُعا
قبوله شوه، ستا د ښځې اليشبع به يو زوئ وشی او تۀ به د هغۀ نوم يحيیٰ کېږدې.
(١٤) ستا زړۀ به د خوشحالۍ نه ډوبونه وهی او ډېر خلق به د هغۀ په پېدايښت
خوشحاله شی، (١٥) ځکه چې هغه به د مالِک خُدائ په نزد لوئ وی. هغه به مے
او شراب کله هم نۀ څښی، د مور د ګېډې نه به هغه په روحُ القُدس معمور وی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ او هغه به ډېر بنی اِسرائيل د مالِک خُدائ پاک لارې ته راواړوی. ۱۷ هغه به
د الياس په روح او طاقت د مالِک نه وړاندې روان وی، چې د پلارانو په زړونو
کښې خپلو بچو دپاره دوباره مينه واچوی او چې نافرمانه د صادقانو حکمت ته
راوګرځوی او خلق د مالِک خُدائ د تابعدارۍ دپاره تيار کړی.“ ۱۸ زکرياه
فرښتې ته وفرمائيل، ”زهٔ څنګه په دې باور کولے شم؟ زهٔ په خپله بوډا يم او زما
ښځه هم بوډۍ ده.“ ۱۹ فرښتې جواب ورکړو چې، ”زهٔ جبرائيل يم، زهٔ د خُدائ
پاک په حضور کښې ودرېږم او زهٔ يې تا سره د خبرو کولو او د دې زېرى
درکولو دپاره رالېږلے يم. ۲۰ خو اوس واوره چې تهٔ به د خبرو طاقت بائيلې او
د دې کار د کېدو پورې به ستا خولهٔ بنده وى ځکه چې تا په ما باور ونهٔ کړو، او
په خپل مقرر وخت به زما خبره صحيح ثابته شى.“ ۲۱ په دې دوران کښې خلق
د زکرياه په اِنتظار وُو او سوچ يې کولو چې هغه د خُدائ په کور کښې ولې دومره
ايسار شو. ۲۲ کله چې هغه راووتو نو د هغوئ سره يې خبرې نهٔ شوې کولے او
هغوئ پوهه شُو چې هغهٔ د خُدائ په کور کښې څهٔ رويا وليده. او هغوئ ته يې
اِشارې کولې خو ژبه يې نهٔ چلېده. ۲۳ کله چې د هغهٔ د خِدمت ورځې ختمې
شوې نو زکرياه کور ته لاړو. ۲۴ د دې نه پس د زکرياه ښځه اليشبع اُميدواره
شوه او پينځهٔ مياشتې هغې خپل ځان پټ وساتلو. ۲۵ دا يې ووئيل چې، ”دا د
مالِک خُدائ رضا ده چې اوس هغهٔ زما سترګې اوچتې کړې او زهٔ يې د بنى آدمو
په وړاندې په خپل فضل سره د سپکاوى نه بچ کړم.“

## د حضرت عيسىٰ د پېدايښت پېشګوئي

۲۶ بيا د هغې په شپږمه مياشت خُدائ پاک جبرائيل فرښته د ګليل ناصرت
نومې ښار ته يوې پېغلې ته ورولېږله ۲۷ چې کوژدن يې د داؤد د خاندان يوسف
نومې سړى سره شوې وه او د دې پېغلې نوم مريم وو. ۲۸ هغې ته فرښته ښکاره
شوه او ورته يې وفرمائيل، ”مبارک شه. په تا ډېر فضل شوے دے، مالِک خُدائ
ستا مل دے.“ ۲۹ هغې چې څهٔ وفرمائيل مريم په هغې ډېره فکرمنده شوه او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حېرانه وه چې د دې مبارکۍ څهٔ مطلب دے. ۳۰ بيا فرښتې هغې ته وفرمائيل
چې، ”مريمې. يرېږه مه. خُدائ پاک په تا مهربانه شوے دے. ۳۱ ګوره، تهٔ به
اُميدواره شې او يو زوئ به دې وشی او تهٔ به د هغهٔ نوم عيسیٰ کېږدې. ۳۲ هغه
به لوئ وی او هغه به د خُدائ تعالیٰ زوئ وبللے شی. مالِک خُدائ پاک به هغهٔ ته
د خپل نيکهٔ داؤد تخت ورکړی. ۳۳ هغه به د تل دپاره د يعقوب په خاندان
بادشاهی کوی او بادشاهی به يې هيڅکله نهٔ ختميږی.“ ۳۴ مريمې وفرمائيل چې،
”دا څنګه کېدے شی؟ زهٔ خو لا وادهٔ شوې هم نهٔ يم.“ ۳۵ فرښتې جواب ورکړو،
”روحُ القُدس به په تا نازل شی او د خُدائ تعالیٰ قُدرت به په تا سورے وکړی او
په دې وجه به هغه مقدس ماشوم د خُدائ پاک زوئ بللے شی. ۳۶ بله دا چې
ستا خپلوانه اليشبع هم اُميدواره ده او په زوړ عُمر به زوئ راوړی او څوک چې
په شنډه مشهوره وه، د هغې د اُميدوارۍ شپږمه مياشت ده. ۳۷ ځکه چې هيڅ يو
کار د خُدائ پاک دپاره ناممکنه نهٔ دے.“ ۳۸ مريم وفرمائيل چې، ”زهٔ د مالِک
خُدائ وينځه يم. تا چې څهٔ فرمائيلی دی، هم داسې دې وشی.“ بيا فرښته د هغې
نه لاړه.

## د بی‌بی مريمې د اليشبع سره ملاقات

۳۹ په دغه وخت مريم نبغه راپاڅېدله او يو ښار ته لاړه کوم چې د يهوداه په
غريزه علاقه کښې وو. ۴۰ هغه د زکرياه کره ورغله او په اليشبع يې سلام
واچولو. ۴۱ کله چې اليشبع د مريمې سلام واورېدو نو ماشوم د هغې په ګېډه
کښې په ټوپونو شو نو اليشبع د روحُ القُدس نه معموره شوه. ۴۲ او په زوره يې
ووئيل، ”په ټولو ښځو کښې تهٔ مبارکه يې او ستا د ګېډې مېوه مبارکه ده. ۴۳ زهٔ
څوک يم چې زما د مالِک مور دې زما تپوس له راشی؟ ۴۴ چې څنګه ستا سلام
زما تر غوږو شو نو زما په ګېډه کښې زما بچی ټوپ ووهلو. ۴۵ خومره بختوره
ده هغه چې په دې يې ايمان دے چې د مالِک خُدائ قول به پوره شی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بي‌بي مريمې حمد و ثنا وئيل

﴿۴۶﴾ او مريمې وفرمائيل چې، ”اے زما زړۀ. د مالِک خُدائ لوئ بيان کړه. ﴿۴۷﴾
اے زما زړۀ. خوشحالي وکړه، خوشحالي وکړه. زما د خلاصوونکی خُدائ پاک
په نوم، ﴿۴۸﴾ چې هغۀ د خپلې عاجزې وينځې په حال دومره لوئ نظر کړے دے.
د نن ورځې نه پس به راتلونکی ټولې پيړۍ ما ته بختوره وائی. ﴿۴۹﴾ ځکه هغۀ زما
دپاره دومره لوئ کارونه کړی دی. د هغۀ نوم پاک دے. ﴿۵۰﴾ او څوک چې د هغۀ
نه يريږی، په هغوئ د هغۀ رحم پيړۍ په پيړۍ دے. ﴿۵۱﴾ او هغه کارونه چې د هغۀ
لاس کړی دی، د هغۀ قوت څرګندوی. کبرژن او مغروره يې په خپلو خيالونو
سره دانه وانه کړی دی. ﴿۵۲﴾ هغۀ حکمرانان د تختُونو نه راغورزولی دی خو
غريبانان يې لويو مرتبو ته رسولی دی. ﴿۵۳﴾ اوږی يې په ښۀ څيزونو ماړۀ کړی
دی او مالدار يې تش لاس شړلی دی. ﴿۵۴﴾ هغۀ د خپل خادِم بنی اِسرائيل مدد
کړے دے، لکه چې زمونږ نيکونو ته هغۀ وئيلی وُو، ﴿۵۵﴾ هغۀ په اِبراهيم او د هغۀ
په اولاد رحم کول چرې هېر نۀ کړل.“ ﴿۵۶﴾ مريم د اليشبع سره درې مياشتې پاتې
شوه او بيا کور ته واپس راغله.

## د حضرت يحيیٰ پيدايښت

﴿۵۷﴾ بيا د اليشبع د بچی پېدا کېدو وخت پوره شو او د هغې زوئ پيدا شو. ﴿۵۸﴾
هر کله چې د هغې ګاونډيانو او خپلوانو دا واورېدل نو ډېره زياته خوشحالی يې
ورسره وکړه چې مالِک خُدائ پرې لوئ رحم وکړو. ﴿۵۹﴾ او هغوئ په اتمه ورځ
بيا راغلل چې ماشوم سنت کړی او هغوئ دا غوښتل چې د هغۀ د پلار نوم
زکرياه پرې کېږدی. ﴿۶۰﴾ خو د هغۀ مور ورته ووئيل چې، ”نه. دے به يحيیٰ بللے
شی.“ ﴿۶۱﴾ خو هغوئ ووئيل چې، ”ستا په خاندان کښې خو د هيچا هم داسې نوم
نشته.“ ﴿۶۲﴾ بيا هغوئ د هغۀ د پلار نه په اِشارو تپوس وکړو چې، ”د دۀ نوم څۀ
ايښودل په کار دی؟“ ﴿۶۳﴾ هغۀ د ليکلو يوه تختۍ راوغوښته او په دې ټول حېران



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول چې هغهٔ دا ولیکل چې، ”د دهٔ نوم به یحییٰ وی.“ ۶۴ سمدستی د هغهٔ
شونډې او ژبه آزاد شول او هغه ګویا شو او د خُدائ پاک ثنا يې ووئيله. ۶۵ ټول
ګاونډيان په دې خبره هيبت واخستل او دا خبرې د يهوديه په غريزه علاقه کښې
هرې خوا ته خورې شولې. ۶۶ چا چې دا واوريدل په هغوئ ډېر اثر وشو او وې
وئيل چې، ”د دې ماشوم نه به څهٔ جوړېږی؟“ ځکه چې د مالِک خُدائ لاس د دهٔ
په سر دے.

## د حضرت زکرياه نبوت

۶۷ بيا د هغهٔ پلار زکرياه د روحُ القُدس نه معمور شو او دا پېشګوئي يې وکړه،
۶۸ ”ثنا دې وی د بنی اِسرائيل په مالِک خُدائ پاک، ځکه چې هغهٔ په خپلو
بنديانو نظر وکړو، او هغوئ يې په بيعه واخستل او آزاد يې کړل. ۶۹ او د خپل
خادِم داؤد په کور کښې يې يو زورَور خلاصونکے پيدا کړو. ۷۰ او لکه چې هغهٔ
د وړومبو مقدسو نبيانو په خولهٔ څو پيړۍ وړاندې وعده کړې وه ۷۱ چې هغه به
مونږ د خپلو دشمنانو نه خلاص کړی او د هغوئ ټولو د لاسونو نه څوک چې
راسره کينه ساتی. ۷۲ او دا چې هغه به زمونږ په پلار نيکهٔ رحم وکړی او خپله
مقدسه وعده به ياده ساتی. ۷۳ هم دا قَسم هغهٔ زمونږ د پلار اِبراهيم سره کړے
وو، ۷۴ چې هغه به مونږ د دشمنانو د لاسه بچ ساتی، او د يرې نه به امان راکړی
۷۵ چې مونږ ټول عُمر په پاکۍ او په صداقت د هغهٔ عبادت وکړُو. ۷۶ او اے
زما وړوکيه، تهٔ به د خُدائ تعالیٰ نبی بللے شې ځکه چې تهٔ به د مالِک په وړاندې
تير شې چې د هغهٔ لارې تيارې کړې، ۷۷ او تهٔ به د هغهٔ خلق په دې پوهه کړې
چې خلاصون د ګناهونو په معافۍ کښې دے. ۷۸ زمونږ د خُدائ پاک د خالص
رحم په وجه به د سحر نمر په مونږ راوخېژی، ۷۹ او په هغوئ به وځليږی څوک
چې په تيارهٔ کښې او د مرګ په سوری کښې ناست وی او چې زمونږ قدمونه د
خير او سلامتۍ په لاره سم کړی.“ ۸۰ څنګه چې دغه ماشوم لوئېدو نو روحانی
قوت يې موندو او تر هغې ورځې پورې په بيابان کښې اوسېدو ترڅو چې هغه بنی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائیلو ته ښکاره راڅرګند شو.

## د حضرت عیسیٰ پېدایښت

۲ ۱ په هغه ورځو کښې د رومی قیصر اوګوستوس د طرف نه دا فرمان
جاری شو چې په رومی بادشاهۍ کښې دې د ټولو خلقو مردمشماری وشی. ۲
دا وړومبۍ مردمشماری وه چې د شام د ګورنر کیرینیوس په وخت کښې وشوه.
۳ د دې دپاره هر یو کس خپلې خپلې ښارپې ته د مردمشمارۍ دپاره لاړو. ۴
نو دغه شان یوسف هم د ګلیل د ناصرت نه یهودیه ته لاړو چې د داؤد په ښاریه
بیت‌لحم کښې خپل نوم ولیکی ځکه چې هغه د داؤد د خاندان نه وو. ۵ او هغه
سره د مریمې لاړو څوک چې د هغهٔ چنغله وه او هغه د مخکښې نه اُمیدواره وه.
۶ او کله چې هغوئ لا هلته کښې وُو نو د هغې ماشوم د پېدا کېدو ورځې پوره
شوې، ۷ او د هغې اول زوئ پېدا شو. هغې هغه په اوړنی کښې ونغښتو او په یو
اخور کښې یې کېښودو ځکه چې په سرائی کښې د هغوئ دپاره ځائ نهٔ وو.

## شپونکی او فرښتې

۸ هم په دغه علاقه کښې څهٔ شپونکی وُو چې په پټو کښې یې د شپې د خپلو
رمو څوکیداری کوله، ۹ چې ناګهانه د مالِک خُدائ فرښته د هغوئ په وړاندې
راڅرګنده شوه او د مالِک خُدائ نُور د هغوئ چارچاپیره خور شو او هغوئ یرې
واخستل. ۱۰ خو فرښتې هغوئ ته وفرمائیل چې، ”یرېږئ مه. ما تاسو له یو ښهٔ
زیرے راوړے دے چې د ټولو خلقو دپاره به یوه لویه خوشحالی وی. ۱۱ نن د
داؤد په ښار کښې ستاسو خلاصونکے پېدا شوے دے چې هغه مسیح مالِک
دے. ۱۲ او ستاسو دپاره د هغهٔ دا نښه ده چې تاسو به یو ماشوم په اوړنی کښې
انغښتے په اخور کښې وموموئ.“ ۱۳ ناګهانه د هغې فرښتې سره د آسمانی لښکر
یوه ډله راڅرګنده شوه او د خُدائ پاک دا ثنا یې ووئیله چې، ۱۴ ”د خُدائ پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمد دې وی پاس په آسمان کښې، او په زمکه دې د هغه خلقو دپاره خير او
سلامتی وی د چا نه چې هغه رضا دے.“ ۱۵ کله چې فرښتې د هغه ځايه آسمان
طرف ته رُخصت شوې نو شپونکو يو تر بله ووئيل، ”ځئ چې اوس سمدستی
بيتلحم ته لاړ شُو او دا شوے کار ووينو کوم چې مالِک خُدائ مونږ ته څرګند
کړے دے.“ ۱۶ هغوئ په منډه لاړل د مريمې او يوسف پته يې ولګوله او هغه
ماشوم يې په اخور کښې پروت ومونډلو. ۱۷ کله چې هغوئ هغه ماشوم وليدو
نو زر يې دا خبره خوره کړه څۀ چې دوئ ته د هغۀ په حقله وئيلے شوی وُو. ۱۸
او د دې شپونکو خبره چې چا واورېدله، ټول حق حيران شول. ۱۹ خو مريمې
په دې ټولو واقعو سوچ کولو او په زړۀ کښې يې ساتلی. ۲۰ خو شپونکو په واپس
تلو کښې د خُدائ پاک ثناء صِفت بيانولو ځکه چې بلکل هر څۀ يې هغه شان
وليدل او واورېدل لکه څنګه چې فرښتې ورته فرمائيلی وُو. ۲۱ اتۀ ورځې پس
هغه سنت شو او د هغۀ نوم يې عيسىٰ کېښودو. دا هغه نوم وو چې د هغۀ د مور
په ګېډه کېدو نه مخکښې فرښتې په هغۀ اېښودے وو.

## د خُدائ په کور کښې د حضرت عيسىٰ پېش کول

۲۲ نو د موسىٰ د شريعت په مطابق چې د هغوئ د څلوېښتىٰ ورځې پوره شوې
نو يروشلم ته يې بوتلو چې مالِک خُدائ ته يې پېش کړی، ۲۳ لکه چې د مالِک
خُدائ په شريعت کښې ليکلی دی چې، ”هر وړومبے نر ماشوم چې پيدا شی هغه
به مالِک خُدائ ته وقف شی.“ ۲۴ نو هغوئ بيا د مالِک خُدائ د شريعت په
مطابق قربانی وکړه، يعنې يوه د کُرکوړو جوړه يا د کونترو دوه بچی. ۲۵ په هغه
ورځو کښې په يروشلم کښې شمعون نومې يو سړے وو. هغه رښتينے او
پرهيزګاره وو، څوک چې د بنی اِسرائيلو د بچ کېدو په طمع وو او د روحُ القُدس
نه معمور وو. ۲۶ روحُ القُدس هغۀ ته دا پيغام ورکړے وو، ترڅو پورې چې تا د
مالِک خُدائ مسيح ليدلے نۀ وی تر هغې به تۀ نۀ مرې. ۲۷ نو هغه د روحُ القُدس
په هدايت د خُدائ کور ته راغلو. او کله چې د عيسىٰ مور پلار هغه ماشوم عيسىٰ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دننه راوړو چې د شریعت په مطابق یې خُدائ ته وقف کړی، ۲۸ نو شمعون هغه
په غېږ کښې واخستو او د خُدائ پاک ثنا یې ووئیله، او داسې یې ووئیل چې، ۲۹
”اے مالِکه، نن تۀ خپل خادِم د خپلې وعدې په مطابق په سلامتۍ سره
رخصتوې، ۳۰ ځکه چې ما په خپلو سترګو ستا هغه خلاصون ولیدلو ۳۱ چې
تا د ټولو قومونو په وړاندې تیار کړے دے. ۳۲ هغه به د د غېریهودیانو دپاره رڼا
وی او بنی اِسرائیلو ته به جلال ورکړی.“ ۳۳ د ماشوم مور او پلار هغه خبرو ته
ګوته په خولۀ وو کومې خبرې چې د هغۀ په حقله وئیلے شوې. ۳۴ بیا شمعون
د هغۀ دپاره برکت وغوښتو او د هغۀ مور مریمې ته یې ووئیل چې، ”دا ماشوم په
بنی اِسرائیلو کښې د ډېرو د بربادېدو او آبادېدو دپاره مقرر شوے دے، او د
خُدائ پاک د طرف نه داسې نښه ده چې ډېر خلق به د هغۀ مخالفت کوی ۳۵
ځکه چې د ډېرو خلقو د زړُونو پټ خیالونه به ښکاره شی. او د غم په وجه به ستا
حال داسې وی لکه ستا زړۀ چې په تُوره وهلے شوے وی.“ ۳۶ په دغه ورځو
کښې د آشر په خیل کښې حناه نومې یوه پېغمبره وه خوک چې د فنوایل لور وه.
هغه ډېره بوډۍ ښځه وه او د وادۀ په اوۀم کال کونډه شوې وه، ۳۷ او بیا د
څلورو اتیاو کالو پورې کونډه وه. هغې د خُدائ د کور د تلو راتلو پابندی کوله،
شپه او ورځ به یې روژې ساتلې او دُعا به یې کوله ۳۸ نو په هغه ساعت هغه
راغله او د خُدائ پاک شُکر یې وکړو. نو هغې هغه ټولو خلقو ته د هغه ماشوم په
حقله خبرې وکړې چې د یروشلم د آزادۍ په اِنتظار وُو. ۳۹ هرکله چې یوسف
او مریم د مالِک خُدائ د شریعت په مطابق هر څۀ پوره کړل نو هغوئ په ګلیل
کښې خپلې ښارېې ناصرت ته واپس شول. ۴۰ نو دغه ماشوم لوئېدو، قوت او
حکمت یې موندلو او د خُدائ پاک فضل ورسره وو.

## حضرت عیسیٰ د خُدائ په کور کښې

۴۱ د عیسیٰ مور پلار به هر کال یروشلم ته د فسحې اختر له تلل. ۴۲ او چې
هغه د دولسو کالو شو نو هغوئ د خپل دستور په مطابق د اختر دپاره لاړل. ۴۳



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو چې د اختر ورځې پوره شوې او هغوئ کور ته واپس روان شول نو عيسیٰ په
يروشلم کښې ايسار شو خو مور پلار ته يې پته نهٔ وه. ﴿۴۴﴾ او هغوئ ټوله ورځ په
دې خيال سفر وکړو چې ګنې هغه به په قافله کښې چرته وی، خو ماښام يې بيا
په خپلو خپلوانو او دوستانو کښې د هغهٔ لټون شروع کړو. ﴿۴۵﴾ چې وې نهٔ موندلو
نو يروشلم ته راواپس شول چې هلته يې ولټوی. ﴿۴۶﴾ په دريمه ورځ يې هغه د
خُدائ په کور کښې ناست وموندلو چې د اُستاذانو سره ناست وو او د هغوئ
خبرو ته يې غوږ نيولے وو او تپوسونه يې ترې کول. ﴿۴۷﴾ او هغوئ ټول چا چې د
هغهٔ خبرې واورېدې، د هغهٔ په پوهه او په جوابونو اريان دريان وُو. ﴿۴۸﴾ مور پلار
د هغهٔ په ليدو حق حېران شول او د هغهٔ مور ورته ووئيل چې، "زويه. تا مونږ
سره داسې ولې وکړل؟ ستا پلار او ما تهٔ ډېر په فکرمندئ سره لټولې." ﴿۴۹﴾ هغهٔ
ورته وفرمائيل چې، "تاسو زهٔ ولې لټولم؟ تاسو ته پته نهٔ وه چې ما ته د خپل پلار
په کور کښې پاتې کېدل په کار وو؟" ﴿۵۰﴾ خو هغوئ د هغهٔ د خبرې په مطلب ونهٔ
رسېدل. ﴿۵۱﴾ بيا هغه د هغوئ سره ناصرت ته واپس لاړو او د هغوئ د تابعدارئ
لاندې يې وخت تېرولو. مور يې دا ټولې خبرې په زړهٔ کښې پټې وساتلې. ﴿۵۲﴾ او د
عيسیٰ حِکمت او ونه لوئېدل او د خُدائ پاک او د بنی آدمو په نظر کښې يې
قبوليت وموندو.

## د حضرت يحيیٰ بپتسمه ورکوونکی وعظ کول

۳ ﴿۱﴾ د قيصر تيبريوس د حکومت په پينځلسم کال کښې پنطوس پيلاطوس د
يهوديه ګورنر وو او هيروديس د ګليل ګورنر، د هغهٔ ورور فيليپوس د اِتُوريه او
تراخونيتيس او ليسانياس د ابيلينے ګورنران وُو. ﴿۲﴾ د مشرانو اِمامانو اناس او
کائفس په وخت کښې د زکرياه په زوئ يحيیٰ باندې په بيابان کښې د خُدائ پاک
کلام نازل شو. ﴿۳﴾ هغه د اُردن په ټوله سيمه کښې ګېرچاپېره وګرځېدو او دا
بيان يې کولو چې د توبې بپتسمه واخلئ او ستاسو ګناهونه به معاف شی. ﴿۴﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې د يشعياه نبی په صحيفه کښې ليکلے شوی دی چې، ”په بيابان کښې د
نعرې وهونکی آواز دے چې، د مالِک خُدائ لاره جوړه کړئ او د هغۀ لارې نېغې
کړئ. ﴿۵﴾ هره دره به ډکه شی، هره غونډۍ او غر به هوار شی. کاږۀ به نېغ کړے
شی، او ناهمواره لار به هواره کړے شی. ﴿۶﴾ او ټول مخلوق به د خُدائ پاک
خلاصون ووينی.“ ﴿۷﴾ ګڼ خلق بهر راووتل چې د يحيئ نه بپتسمه واخلی خو
هغۀ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”اے د مارانو بچو، تاسو ته چا خبردارے درکړو
چې د راتلونکی غضب نه وتښتئ؟ ﴿۸﴾ نو داسې کارونه وکړئ چې ورنه ستاسو د
توبې ايستلو پته ولګی. تاسو ځان سره داسې سوچ مۀ کوئ چې ګنې تاسو د
اِبراهيم اولاد يئ، ځکه چې زۀ درته دا وايم چې خُدائ پاک د دې کاڼو نه هم د
اِبراهيم دپاره اولاد پيدا کولے شی. ﴿۹﴾ اوس هم د ونو جرړو ته تبر نيولے شوے
دے او هره هغه ونه چې ښۀ مېوه نۀ نيسی هغه به پرې کړے شی او د اور لمبو ته
به اچولے شی.“ ﴿۱۰﴾ خلقو ترې تپوس وکړو، ”نو بيا مونږ څۀ وکړو؟“ ﴿۱۱﴾ هغۀ
جواب ورکړو چې، ”د کوم سړی سره چې دوه قميصونه وی، يو دې هغۀ له
ورکړی چې د چا سره يو هم نۀ وی، او د چا سره چې خوراک وی هغه دې هم
داسې وکړی.“ ﴿۱۲﴾ ځينې محصولچيان هم بپتسمې اخستلو له راغلی وُو او هغوئ
ترې تپوس وکړو چې، ”اُستاذه. مونږ څۀ وکړو؟“ ﴿۱۳﴾ هغۀ ورته وفرمائيل چې،
”ستاسو دپاره چې څۀ مقرر شوی دی د هغې نه زيات مۀ اخلئ.“ ﴿۱۴﴾ سپاهيانو
هم ترېنه دا تپوس وکړو چې، ”مونږ څۀ وکړو؟“ هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”د
چا نه په زوره پېسې مۀ اخلئ او په چا د دروغو اِلزام مۀ لګوئ، په خپله تنخواه
صبر کوئ.“ ﴿۱۵﴾ خو ټول خلق د مسيح په اِنتظار وُو او د يحيئ په حقله يې په
خپلو زړُونو کښې سوچ کولو چې ګنې هغه به مسيح وی. ﴿۱۶﴾ خو يحيئ هغوئ
ټولو ته وفرمائيل چې، ”زۀ تاسو له په اوبو بپتسمه درکوم خو څوک چې
راتلونکے دے هغه زما نه ډېر زورَور دے، او زۀ د هغۀ د پېزار د تسمو د پرانستلو
جوګه هم نۀ يم. هغه به تاسو ته په روحُ القُدس او په اور بپتسمه درکوی. ﴿۱۷﴾
ښاخې د هغۀ په لاس کښې ده. هغه به خپل درمند په ښۀ شان پاکوی او غنم به په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله خمبه کښې جمع کوی، خو بوس به په هغه اور کښې سوزوی چې هيڅکله
نۀ مری.“ ۱۸ په دې شان سره هغۀ خلق نور هم ډاډه کول او زېرے يې ورته
اورولو. ۱۹ خو يحيىٰ هيروديس ګورنر د خپل ورور د ښځې هيروديياس سره په
وادۀ کولو او په نورو بدو کارونو ملامته کړو. ۲۰ خو د دې ټولو بدو کارونو
دپاسه يې يحيىٰ ګرفتار کړو او په قيدخانه کښې يې واچولو.

## د حضرت عيسىٰ بپتسمه

۲۱ کله چې ټولو خلقو بپتسمه واخسته نو عيسىٰ هم بپتسمه واخسته، او چې
دُعا يې کوله نو آسمان پرانستے شو، ۲۲ او روحُ القُدس د يوې کونترې په شکل
په عيسىٰ راکوز شو او د آسمان نه يو آواز راغلو چې، ”تۀ زما محبوب زوئ يې،
ستا نه زۀ راضى يم.“

## شجره د حضرت عيسىٰ

۲۳ څۀ وخت چې عيسىٰ خپل خِدمت شروع کړو نو تقريباً د دېرشو کالو وو او
د خلقو په خيال دے د يوسف زوئ وو، زوئ د عيلى، ۲۴ زوئ د متات، زوئ د
ليوى، زوئ د مِلکى، زوئ د ينا، زوئ د يوسف، ۲۵ زوئ د متتياه، زوئ د
عاموس، زوئ د نحُوم، زوئ د اِسلياه، زوئ د نجى، ۲۶ زوئ د ماعت، زوئ د
متتياه، زوئ د شمعى، زوئ د يوسيچ، زوئ د يوداه، ۲۷ زوئ د يوحنا، زوئ د
ريسا، زوئ د زرُبابل، زوئ د شلتىاېل، زوئ د نيرى، ۲۸ زوئ د مِلکى، زوئ د
ادى، زوئ د قوسام، زوئ د اِلمدام، زوئ د عير، ۲۹ زوئ د يشوَع، زوئ د
اِلىعزر، زوئ د يوريم، زوئ د متات، زوئ د ليوى، ۳۰ زوئ د شمعون، زوئ د
يهوداه، زوئ د يوسف، زوئ د يونام، زوئ د اِلياقيم، ۳۱ زوئ د ملياه، زوئ د
مِناه، زوئ د متتاه، زوئ د ناتن، زوئ د داؤد، ۳۲ زوئ د يَسى، زوئ د عوبيد،
زوئ د بوعز، زوئ د سلمون، زوئ د نحشون، ۳۳ زوئ د عمىنداب، زوئ د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ادمین، زوئ د ارنی، زوئ د حصرون، زوئ د فارص، زوئ د یهوداه، ۳۴ زوئ د یعقوب، زوئ د اِسحاق، زوئ د اِبراهیم، زوئ د تارح، زوئ د نحور، ۳۵ زوئ د سروګ، زوئ د رعو، زوئ د فلج، زوئ د عِبر، زوئ د سِلح، ۳۶ زوئ د قینان، زوئ د ارفکسد، زوئ د شیم، زوئ د نوح، زوئ د لمک، ۳۷ زوئ د مِتهوشلہ، زوئ د حنوک، زوئ د یارد، زوئ د مهلل‌ایل، زوئ د قینان، ۳۸ زوئ د انوش، زوئ د شیث، زوئ د آدم چې د خُدائ پاک د طرف نه وو.

## د حضرت عیسیٰ آزمېښت

**۴** ۱ عیسیٰ چې د روحُ القُدس نه معمور وو او د اُردن د سیند نه واپس شو نو روحُ القُدس هغه بیابان ته بوتلو، ۲ چرته چې هغه تر څلوېښتو ورځو پورې په بیابان کښې د اِبلیس په لمسون کښې وآزمائیلے شو. په دې دومره ورځو کښې عیسیٰ هیڅ ونهٔ خوړل او په آخر کښې هغه نار نهور شو. ۳ اِبلیس هغهٔ ته ووئیل چې، ”کهٔ تهٔ د خُدائ پاک زوئ یې نو دې کاڼی ته حکم وکړه چې روټئ شی.“ ۴ عیسیٰ جواب ورکړو، ”صحیفې فرمائی چې، بنی آدم تش په روټئ نهٔ پائی.“ ۵ بیا اِبلیس هغه په لوړه وخېژولو او د دُنیا ټولې بادشاهئ یې د سترګو په رپ کښې ورښکاره کړې. ۶ او اِبلیس ورته ووئیل چې، ”زهٔ به د دې ټولو اختیار تا له درکړم او هغه شان او شوکت هم چې د دې سره تړلی وی ځکه چې دا ما ته په اختیار کښې راکړے شوی دی او زهٔ یې هغه چا له ورکوم چا له چې یې زما زړهٔ غواړی. ۷ کهٔ تهٔ ما ته صرف سجده وکړې نو دا هر څهٔ به زهٔ تا له درکړم.“ ۸ عیسیٰ جواب ورکړو، ”صحیفې فرمائی چې، تهٔ تش مالِک خُدائ پاک ته سجده کوه او صرف هم د هغهٔ عبادت کوه.“ ۹ بیا اِبلیس هغه یروشلم ته بوتلو او د خُدائ پاک د کور د میناړې په سر یې ودرولو او ورته یې ووئیل چې، ”کهٔ تهٔ د خُدائ زوئ یې نو خپل ځان دلته نه ښکته وغورزوه، ۱۰ ځکه چې صحیفې وائی چې، هغه به ستا په حقله خپلو فرښتو له حُکم ورکړی چې ستا حفاظت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړی. ⑪ او هغوئ به تا په خپلو لاسونو کښې پورته کړی هسې نه چې په کاڼی
تینډک وخورې.“ ⑫ عیسیٰ هغهٔ ته جواب ورکړو، ”دا وئیلے شوی دی چې،
تاسو په خپل مالِک خُدائ پاک آزمېښت مهٔ کوئ.“ ⑬ دغه شان چې د اِبلیس
ټول لمسون سر ته ورسېدو نو هغه يې تر بلې موقعې پورې ځانله پرېښودو. ⑭
بیا عیسیٰ د روحُ القُدس د قُدرت نه معمور ګلیل ته واپس راغلو او په ټول مُلک
کښې د هغهٔ آوازه ګېرچاپېره خوره شوله. ⑮ او هغهٔ د هغوئ په عبادتخانو کښې
تعلیم ورکولو او ټولو خلقو د هغهٔ لوئی بیانوله.

## په ناصرت کښې د حضرت عیسیٰ رد کېدل

⑯ بیا هغه ناصرت ته راغلو چرته چې هغه لوئ شوے وو او د سبت په ورځ
عبادتخانې ته د معمول په مطابق لاړو. هغه د کلام د تلاوت دپاره ودرېدلو، ⑰
او ورته د یشعیاه نبی طومار ورکړے شو. هغهٔ طومار کولاو کړو او هغه ځائ ته
راغلو چې په کښې لیکلی وُو چې، ⑱ ”د مالِک خُدائ روح په ما نازل دے ځکه
چې زهٔ هغهٔ مسح کړے یم، او دې له يې رالېږلے یم چې غریبانانو له زېرے
ورکړم، چې قېدیانو ته د آزادئ اعلان وکړم او ړندو ته د بینائی اِعلان وکړم، او
چې مظلومان آزاد کړم، ⑲ او په دې کال به د مالِک خُدائ د احساناتو اعلان
وکړم.“ ⑳ هغهٔ طومار ونغښتو، خادِم ته يې واپس ورکړو او کښېناستو او په
عبادتخانه کښې ټولو خلقو هغهٔ ته نېغ کتل. ㉑ بیا هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل، ”نن
چې تاسو کوم کلام واورېدلو، نو هغه پوره شو.“ ㉒ هغوئ ټولو د هغهٔ صِفت
وکړو او د هغهٔ د خولې نه د داسې برکتناک کلام په اورېدو حیران شول. هغوئ
ووئیل چې، ”ولې دا د یوسف زوئ نهٔ دے څهٔ؟“ ㉓ بیا عیسیٰ وفرمائیل،
”بېشکه چې تاسو به ما ته دا متل ضرور واوروئ چې، حکیمه. خپل ځان روغ
کړه او دا به ووایئ چې، تا چې هر څهٔ په کفرنحُوم کښې کړی دی مونږه هغه
اورېدلی دی، هغه څهٔ دلته په خپله ښاریه کښې هم وکړه. ㉔ خو زهٔ تاسو ته
رښتیا وایم چې یو نبی هم په خپل ښار کښې چا قبول کړے نهٔ دے. ㉕ خو زهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ته وایم چې د الیاس په ورځو کښې په بنی اِسرائیلو کښې ډېرې ضرورتمندې
کونډې وې ځکه چې د درې نیمو کالو راسې باران نۀ وو شوے او په ټول مُلک
باندې سخت قحط راغلے وو. ۲۶ خو الیاس په دوئ کښې یو ته هم د امداد
دپاره ونۀ لېږلے شو بغېر د هغې غېر یهودی کونډې نه څوک چې د صیدا په
علاقه د صارفت په ښاریه کښې اوسېدله. ۲۷ او بیا د الیشع نبی په زمانه کښې
په اِسرائیل کښې ډېر جذامیان وُو، خو د نعمان شامی نه بغېر په هغوئ کښې یو
هم پاک نۀ کړے شو." ۲۸ په دې اورېدو د عبادتخانې ټول خلق په قهر شول.
۲۹ هغوئ پورته شول، هغه يې د ښارېې نه بهر وویستو او د هغه غرۀ سر ته يې
بوتلو چې دغه ښاریه پرې آباده وه، مطلب يې دا وو چې د هلته نه يې ښکته
وغورزوی. ۳۰ خو هغه د هغوئ د مینځ نه ووتو او لاړو.

## پیریانو نیولے سړے

۳۱ نو بیا د ګلیل کفرنحُوم ښارېې ته په راکوزېدو عیسیٰ د سبت په ورځ خلقو له
تعلیم ورکولو. ۳۲ هغوئ د دۀ په تعلیم حق حېران شول ځکه چې هغۀ په پوره
اختیار سره خبرې کولې. ۳۳ په عبادتخانه کښې یو سړے وو چې پیریانو نیولے
وو. هغۀ په زوره چغې کړې، ۳۴ "تۀ زمونږ نه څۀ غواړې اے عیسیٰ ناصری؟ تۀ
راغلې چې مونږ هلاک کړې څۀ؟ زۀ دې پېژنم چې تۀ څوک يې، تۀ د خُدائ پاک
قُدوس يې." ۳۵ عیسیٰ هغه ورټلو او وې وفرمائیل چې، "غلے شه او د دۀ نه
راوځه." بیا پیری هغه سړے د خلقو په مینځ کښې په زمکه راوویشتو او بغېر د
څۀ نقصانه يې هغه پرېښودو. ۳۶ خلق حق حېران شول او یو بل ته يې ووئیل،
"د دې سړی په ژبه کښې څۀ کمال دے؟ هغه پوره په اختیار پیریانو ته حُکم
ورکوی او هغوئ راوځی." ۳۷ نو دغه شان د هغۀ په حقله دا خبره په ټول مُلک
کښې خوره شوه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ډېرو خلقو روغول

۳۸ د عبادتخانې نه په وتو هغه د شمعون کور ته لاړو، د شمعون خواښې سختې
تبې نيولې وه او هغوئ هغۀ ته خواست وکړو چې مدد يې وکړه. ۳۹ هغه ورغے
او د هغې په خوا کښې ودرېدلو او تبه يې ورټله، نو د هغې نه تبه لاړه، سمدستی
پاڅېده او د هغوئ په خِدمت کولو شروع شوه. ۴۰ د نمر پرېوتو په وخت ټولو
خلقو خپل دوستان خپلوان چې په مختلفو بيمارو آخته وُو، هغۀ له راوستل او
هغۀ په هر يو باندې خپل لاسونه کېښودل او روغ يې کړل. ۴۱ د ډېرو نه پيريان
هم پاڅېدل او دا چغې يې وهلې چې، ”تۀ د خُدائ پاک زوئ يې.“ خو هغۀ هغوئ
ورټل او د خبرو نه يې منع کړل ځکه چې هغوئ ته پته وه چې دے مسيح دے.

## زېرے د هر چا دپاره دے

۴۲ چې سحر شو نو عيسیٰ بهر يو خوشې بيابان ته لاړو خو خلقو د هغۀ تلاش
شروع کړو نو چې وې موندلو په سخته يې ورته ووئيل چې، ”مونږ نه مۀ ځه.“
۴۳ خو هغۀ ورته وفرمائيل، ”په کار دی چې زۀ د خُدائ پاک د بادشاهئ زېرے
نورو ښارونو ته هم ورسوم ځکه چې زۀ د دې دپاره رالېږلے شوے يم.“ ۴۴ دغه
شان د يهوديه په عبادتخانو کښې يې بيان جاری وساتلو.

## د اولنو مريدانو بلل

۵ ۱ يوه ورځ چې عيسیٰ د گِنيسرت درياب په غاړه ولاړ وو نو لويه گڼه ترې
راچاپېره وه چې د خُدائ کلام واوری، ۲ نو هغۀ دوه کِشتئ د اوبو په غاړه
ولېدلې چې ماهيګران ترې نه راکوز شوی وُو او خپل جالونه يې وينځل. ۳ هغه
يوې کِشتئ ته وروختو کومه چې د شمعون وه او هغۀ ته يې وفرمائيل چې، ”د
غاړې نه يې لږه وراخوا کړه.“ بيا هغه په کِشتئ کښې کښېناستو او خلقو ته يې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تعليم شروع کړو. ۴ هر کله چې هغهٔ خبرې بس کړې نو شمعون ته يې
وفرمائيل چې، "ژورو اوبو ته لاړ شه او د ښکار دپاره خپل جالونه واچوه." ۵
شمعون ورته جواب ورکړو، "اُستاذه. مونږ ټوله شپه خوارى وکړه خو هيڅ مو
ونهٔ نيول خو چې تهٔ داسې وائې نو زهٔ به جالونه ورواچوم." ۶ هغوئ داسې
وکړل او ډېر کبان يې راونيول او د هغوئ جالونه په شلېدو شول. ۷ نو هغوئ د
بلې کِشتۍ ملګرو ته چغې کړې چې، "راشئ او زمونږ مدد وکړئ." هغوئ داسې
وکړل او دواړه کشتۍ يې دومره ډکې کړې چې ډوبېدو ته نزدې شوې. ۸ کله
چې شمعون پطروس دا نظاره وليدله نو د عيسىٰ په پښو پرېوتو او وې وئيل چې،
"اے مالِکه، زما نه لاړ شه ځکه چې زهٔ ګناه ګار يم." ۹ ځکه چې هغه او د هغهٔ
ټول ملګرى د ډېرو کبانو په ليدو سخت حېران شوى وُو، ۱۰ او دغه شان د
زبدى زامن يعقوب او يوحنا چې د شمعون ملګرى وُو هم حېران پاتې شول.
عيسىٰ شمعون ته وفرمائيل چې، "مهٔ يرېږه، د دې نه پس به تهٔ انسانان نيسې."
۱۱ کله چې هغوئ کِشتۍ غاړې ته راوستلې نو هر څهٔ يې پرېښودل او په هغهٔ
پسې روان شول.

## د يو جذامى پاکول

۱۲ يو ځلې هغه په يوه ښاريه کښې وو چې هلته يو سړے وو چې سخت جذام
پرې لګېدلے وو. هغهٔ چې کله عيسىٰ وليدو نو هغه ورته په سجده پرېوتو او مِنت
زارى يې ورته وکړه چې، "مالِکه، کهٔ تهٔ وغواړې نو ما روغولے شې." ۱۳ عيسىٰ
خپل لاس وراوږد کړو، او په هغهٔ يې کېښودو او وې فرمائيل چې، "آو، زهٔ غواړم.
پاک شه." او په هغه ساعت د جذام نه جک جوړ شو. ۱۴ عيسىٰ هغهٔ ته حُکم
ورکړو چې، "ګوره چې هيچا ته د دې په حقله څهٔ ونهٔ وائې." او وې فرمائيل چې،
"لاړ شه او خپل ځان اِمام ته وښايه او کومه شکرانه چې موسىٰ مقرره کړې ده
هغه ورکړه دا به د هغوئ دپاره ستا د روغېدو ګواهى شى." ۱۵ خو د هغهٔ په
حقله دا خبرې نورې هم خورې شوې. ډېر خلق د هغهٔ اورېدو له راغونډېدل او د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو رنځونو نه روغېدل. ١٦ او هغه به د دُعا دپاره خوشې بيابان ته تلو.

## د يو شل سړی روغول

١٧ يوه ورځ عيسیٰ تعليم ورکولو او فريسيان او د شرعې عالمان ورته هم نزدې
ناست وُو چې د ګليل، د يهوديه او د يروشلم د هر کلی نه راغلی وُو، او د مالِک
خُدائ د شفا ورکولو قوت د هغهٔ سره وو. ١٨ نو بيا يو څو کسانو يو شل سړے
په کټ راوړو. هغوئ کوشش وکړو چې هغه وردننه کړی او د عيسیٰ په مخکښې
يې کېږدی. ١٩ خو ګڼه دومره زياته وه چې هيڅ لاره يې ونهٔ موندله. نو هغوئ
پاس وختل او بره د چت نه يې چَوکې اخوا کړې او سورے وکړو او په بستره
کښې يې راښکته کړو او د خلقو په مينځ کښې يې د عيسیٰ په مخکښې کېښودو.
٢٠ کله چې عيسیٰ د هغوئ ايمان وليدو نو وې فرمائيل، "ګرانه، ستا ګناهونه
معاف شول." ٢١ نو د شرعې عالمانو او فريسيانو يو بل ته ووئيل چې، "دا
څوک دے چې کُفر وائی؟ د خُدائ پاک نه بغير هم لا څوک د چا ګناهونه
بخښلے شی څهٔ؟" ٢٢ خو عيسیٰ د دوئ په خيال پوهه وو چې دوئ څهٔ خيال
کوی نو جواب يې ورکړو چې، "تاسو په خپلو زړونو کښې داسې خيالونه ولې
راولئ؟ ٢٣ آيا دا آسانه خبره ده چې ووائی چې ګناهونه دې معاف شُو، او کهٔ دا
چې ووائی چې پاڅه او وګرځه؟ ٢٤ خو دا ځکه چې تاسو په دې پوهه شئ چې
اِبن آدم سره په دُنيا کښې د ګناهونو د بخښلو اختيار هم شته." هغه شل سړی ته
يې وفرمائيل چې، "زهٔ تا ته وايم چې پاڅه، او بستره دې واخله او کور ته ځه."
٢٥ او هغه د هغوئ په وړاندې سمدستی پاڅېدو او هغه بستره چې دے پرې
پروت وو، يې واخسته او کور ته روان شو او د خُدائ پاک ثنا يې ووئيله. ٢٦
هغوئ ټول سخت حيران شول او د خُدائ پاک ثنا يې ووئيله او يرې واخستل او
وې وئيل چې، "نن مونږ څهٔ عجيبه کارونه وليدل."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عيسیٰ متی رابلل

٢٧ وروستو چې بيا عيسیٰ بهر لاړو نو هغهٔ ليوی نومې يو محصولچی وليدو چې
د محصُول په کُرسیٰ ناست وو او هغهٔ ته يې وفرمائيل چې، ”ما پسې راځه.“ ٢٨
او هغه پاڅيدو، هر څهٔ يې پرېښودل او په هغهٔ پسې روان شو. ٢٩ بيا وروستو
ليوی په خپل کور کښې د عيسیٰ لويه مېلمستيا وکړله. په دې مېلمنو کښې ګڼ
محصولچيان او نور خلق هم شريک وُو. ٣٠ فريسيانو او د هغوئ د فرقې د
شرعې عالمانو د عيسیٰ مريدانو ته دا ګيله وکړله چې، ”تاسو د محصولچيانو او
ګناهګارو سره ولې يو ځائ روټئ خورئ؟“ ٣١ عيسیٰ هغوئ ته جواب ورکړو
چې، ”روغو خلقو ته د طبيب حاجت نهٔ وی خو بيمارانو ته يې وی. ٣٢ زهٔ د دې
دپاره نهٔ يم راغلے چې صادقانو ته دعوت ورکړم بلکې د ګناهګارو دپاره چې توبه
وکړی.“

## د روژې په حقله تپوس

٣٣ بيا هغوئ عيسیٰ ته وفرمائيل چې، ”د يحيیٰ مريدان خو روژې نيسی او
عبادتونه کوی او دغه شان د فريسيانو مريدان هم، خو ستا مريدان خوری
څښی.“ ٣٤ عيسیٰ جواب ورکړو، ”ولې تاسو به جنجيانو هغه وخت روژه نيولے
شئ کوم وخت چې زلمے د هغوئ سره وی؟ ٣٥ خو يو وخت به راشی چې
زلمے به د دوئ نه بوتلے شی او دغه وخت به دوئ روژې نيسی.“ ٣٦ عيسیٰ
هغوئ ته دا مِثال هم وفرمائيلو چې، ”هيڅوک هم د نوې چُوغې نه د دې دپاره ټوټه
نهٔ شلوی چې زړه پرې پيوند کړی. کهٔ چرې هغه داسې وکړی نو هغه به په نوې
چُوغې کښې سورے وکړی او دا نوې ټوکړه به د زړې سره هيڅ سمون ونهٔ
خوری. ٣٧ او څوک هم نوی مے په زړو مشکونو کښې نهٔ اچوی، ګنې نو نوی
مے به مشکونه وشلوی او مے به ضائع شی او مشکونه به تباه شی. ٣٨ نو په
کار دی چې نوی مے په نوؤ مشکونو کښې واچولے شی. ٣٩ او هر چا چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زاړۀ مے ښْبلی وی د نوؤ میو خواهش به نۀ کوی، ځکه چې هغه وائی چې زاړۀ
ښۀ دی.“

## د سبت په ورځ وَږی شوکول

۶ ① نو یو ځل د سبت په ورځ عیسیٰ د فصل په پټو تېرېدو او د هغۀ مریدانو
وَږی شوکول، هغه يې په لاسونو کښې مږل او خوړل يې. ② ځینو فریسیانو دا
ووئیل چې، ”تاسو هغه کار ولې کوئ کوم چې د سبت په ورځ ناروا وی؟“ ③
عیسیٰ ورله جواب ورکړو، ”تاسو دا نۀ دی لوستلی کله چې داؤد او د هغۀ
دوستان اوږی وُو نو هغوئ څۀ وکړل؟ ④ هغه د خُدائ پاک کور ته ننوتو او
پېش کړے شوې روټئ يې راواخسته او وې خوړه، اګر چې هغه په دۀ او د دۀ په
ملګرو ناروا وه او صرف اِمامانو ته روا وه. او هغۀ څۀ خپلو دوستانو له هم
ورکړه.“ ⑤ بیا هغۀ دا وفرمائیل چې، ”اِبن آدم د سبت د ورځې مالِک دے.“

## د یو وُچ لاسی سړی روغول

⑥ د یو بل سبت په ورځ عیسیٰ عبادتخانې ته ننوتو او تعلیم يې ورکولو. هلته په
ګڼه کښې یو سړے وو چې ښے لاس يې اوچ شوے وو. ⑦ او د شرعې عالمانو
او فریسیانو دې ته کتل چې عیسیٰ به د سبت په ورځ دے روغ کړی او کۀ نه؟ د
دې دپاره چې په هغۀ باندې د هغۀ خلاف څۀ اِلزام ولګوی. ⑧ خو هغه پوهېدو
چې د دوئ په زړونو کښې څۀ دی. نو هغۀ هغه سړی ته چې لاس يې وُچ وو،
وفرمائیل چې، ”پاڅه او دلته ودرېږه.“ نو هغه پاڅېدو او هلته ودرېدلو. ⑨
عیسیٰ بیا هغوئ ته وفرمائیل چې، ”تاسو راته دا ووایئ چې د سبت په ورځ نېکی
کول روا دی کۀ بد، ژوند بچ کول کۀ تباه کول؟“ ⑩ هغۀ ټولو ته ګېرچاپېره
وکتل او بیا يې هغه سړی ته وفرمائیل چې، ”خپل لاس اوږد کړه.“ نو هغۀ داسې
وکړل او د هغۀ لاس روغ جوړ شو. ⑪ خو هغوئ د غصې نه سرۀ شول او یو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بل ته يې ووئيل چې، ”مونږ د عيسیٰ سره څهٔ وکړو؟“

## د دولسو رسولانو غوره کول

۱۲ هم په دغه ورځو کښې عيسیٰ غرونو ته لاړو چې دُعا وکړی او ټوله شپه يې د
خُدائ پاک نه دُعا وغوښتله. ۱۳ چې سحر شو نو هغهٔ خپل مريدان راوبلل او د
هغوئ نه يې دولس کسان خوښ کړل او هغوئ يې رسولان وبلل: ۱۴ شمعون په
چا چې هغهٔ پطروس نوم کېښودو، او د هغهٔ ورور اندرياس، يعقوب، يوحنا،
فيليپوس، برتلمای، ۱۵ متی، توما، د حلفئ زوئ يعقوب، او شمعون چې ورته
ننګيالے هم وئيلے شی، ۱۶ او د يعقوب زوئ يهوداه، او يهوداه اِسکريوتی چا
چې وروستو د هغهٔ جاسوسی وکړه.

## د حضرت عيسیٰ تعليم او شفا ورکول

۱۷ عيسیٰ د هغوئ سره د غرهٔ نه راکوز شو او په هوار مېدان کښې ودرېدو. په
دغه ځائ کښې د هغهٔ د مريدانو ډله او ډېر خلق، چې ټول د يهوديه او يروشلم او
د صور او د صيدا د سمندری غاړې نه راټول شوی وُو، ۱۸ او د هغهٔ اورېدو ته
راغلی وُو او چې دوئ د خپلو رنځونو نه شفا ومومی. او هغه څوک چې پيريانو
نيولی وُو، روغ شول. ۱۹ ټولو خلقو کوشش کولو چې لاس وروړی ځکه چې د
هغهٔ نه يو طاقت راوتلو او ټول به يې روغول.

## برکتونه او غمونه

۲۰ بيا عيسیٰ خپلو مريدانو ته مخ راواړولو او وې فرمائيل چې، ”تاسو بختور يئ
چې غريبان يئ، ځکه چې د خُدائ پاک بادشاهی ستاسو ده. ۲۱ تاسو بختور يئ
چې اوږی يئ، ستاسو لوږه به په مړېدو بدله شی. تاسو بختور يئ چې اوس ژاړئ،
ستاسو ژړا به په خندا بدله شی. ۲۲ تاسو بختور يئ کله چې خلق تاسو نه نفرت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی او د خپل مینځ نه مو شړی او درته سپکې سپورې وائی او د اِبن آدم د مریدی په وجه په تاسو اِلزام لګوی. ۲۳ نو په هغه ورځ تاسو خوشحالی کوئ او په خوشحالۍ ټوپونه وهئ ځکه چې په آسمان کښې ستاسو دپاره لوئ اجر دے. هم دغه شان د دوئ پلار نیکونو هم د نبیانو سره دغه شان سلوک کړے وو. ۲۴ خو اے مالدارو. په تاسو افسوس دے ځکه چې تاسو خپل د خوشحالۍ دور تیر کړو. ۲۵ په تاسو افسوس چې اوس ماړهٔ يئ ځکه چې تاسو به اوږی شئ. په تاسو افسوس چې اوس خاندئ، ځکه چې تاسو به په غم آخته شئ او ژاړئ به. ۲۶ افسوس دے په تاسو کله چې ټول خلق ستاسو ښهٔ تعریف کوی نو دغه شان د هغوئ پلار نیکونو د دروغژنو نبیانو تعریف هم کولو.

## دشمنانو سره مینه

۲۷ خو ما ته غوږ شئ چې زهٔ درته څهٔ وایم د خپلو دشمنانو سره مینه کوئ او ښوک چې ستاسو نه نفرت کوی د هغوئ سره ښهٔ کوئ. ۲۸ د هغوئ دپاره برکت غواړئ ښوک چې په تاسو لعنت کوی او د هغوئ دپاره دُعا کوئ ښوک چې تاسو بې‌عزته کوی. ۲۹ کهٔ ښوک تاسو په یو مخ ووهی نو هغهٔ ته بل مخ هم ورواړوئ. کهٔ ښوک ستاسو چُوغه واخلی نو هغهٔ ته خپل قمیص هم ورکړئ. ۳۰ ښوک هم چې ستاسو نه څهٔ وغواړی هغوئ له يې ورکړئ. کله چې تاسو نه ښوک هم ستاسو ښیز واخلی نو د هغهٔ نه يې بیا تپوس مهٔ کوئ. ۳۱ د نورو سره داسې سلوک کوئ لکه ښنګه سلوک چې تاسو د ځان دپاره غواړئ. ۳۲ کهٔ تاسو صرف د هغوئ سره مینه کوئ ښوک چې تاسو سره مینه کوی نو بیا تاسو د کوم اجر اُمیدوار يئ؟ ځکه چې ګناه ګار هم د هغه چا سره مینه کوی ښوک چې د هغوئ سره مینه کوی. ۳۳ او کهٔ چرې تاسو د هغه چا سره نیکی کوئ ښوک چې تاسو سره ښیګړه کوی نو ستاسو څهٔ اجر دے؟ ځکه چې ګناه ګار خو هم دغسې کوی. ۳۴ او کهٔ چرې تاسو تش هغه چا له قرض ورکوئ چې ستاسو باور وی چې تاسو ته به يې واپس کړی نو په دې کښې ستاسو اجر څهٔ دے؟ ځکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ګناه ګار هم يو بل له قرض ورکوی او يو بل ته يې پوره واپس کوی. ﴿۳۵﴾ خو تاسو د خپلو دشمنانو سره مينه او نېکی کوئ او قرض بغېر د څۀ لالچه ورکوئ. نو تاسو به ډېر لوئ اجر ومومئ. تاسو به بيا د خُدائ تعالیٰ زامن شئ ځکه چې هغه په خپله هم په ناشُکرو او په شريرانو مهربانه دے. ﴿۳۶﴾ ترس ناک شئ لکه څنګه چې ستاسو پلار هم ترس ناک دے.

## په نورو خلقو اِلزام لګول

﴿۳۷﴾ په نورو اِلزام مۀ لګوئ نو په تاسو به هم اِلزام ونۀ لګولے شی. بل څوک مۀ مجرموئ نو تاسو به هم مجرم ونۀ ګڼلے شئ. معاف کوئ نو تاسو به هم معاف کړے شئ. ﴿۳۸﴾ ورکړئ، نو تاسو ته به واپس درکړے شی. نو ستاسو جولۍ ته به ستاسو برخه ښۀ منډلې دربلې ښۀ ډکه تر خولې خولې واپس مِلاو شی. نو چې څنګه تاسو د بل ناپ تول کوئ دغه رنګ به واپس ستاسو ناپ تول کولے شی."
﴿۳۹﴾ او عيسیٰ هغوئ ته يو مِثال هم وئيلو چې، "ولې يو ړوند بل ړوند ته لار ښودلے شی څۀ؟ آيا دواړه به په کنده کښې ونۀ غورزيږی څۀ؟ ﴿۴۰﴾ شاګرد د خپل اُستاذ نه لوئ نۀ وی خو هر هغه څوک چې پوره تربيت حاصل کړی نو هغه به د خپل اُستاذ په شان شی. ﴿۴۱﴾ تاسو د خپل ورور د سترګې خسنې ته ولې ګوته نيسئ خو په خپله سترګه کښې درته تير نۀ ښکاری؟ ﴿۴۲﴾ تۀ څنګه خپل ورور ته دا وئيلے شې چې، وروره، راشه چې ستا د سترګې نه دا خسنے وباسم، خو حال دا چې په خپله سترګه کښې درته تير نۀ ښکاری؟ اے رياکاره، اول د خپلې سترګې نه تير وباسه، نو بيا به ستا سترګې وغړيږی چې د خپل ورور د سترګې نه خسنے وباسې.

## ونه د مېوې نه پېژندلے شی

﴿۴۳﴾ هيڅکله ښۀ ونه بده مېوه نۀ نيسی، او هيڅکله بده ونه ښۀ مېوه نۀ نيسی، ﴿۴۴﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هره ونه په خپلې مېوې پېژندلے کېږی. تهٔ د ازغو بوټو نه اينځر نهٔ شې راټولولے او نهٔ د جاړو بوټو نه انګور راشوکولے شې. ﴿۴۵﴾ ښهٔ سړے به د خپل زړهٔ د خزانې نه ښهٔ څيزونه راوياسی او بد سړے به د خپل زړهٔ د بدې خزانې نه بدې خبرې وياسی، ځکه چې کومې خبرې چې په خولهٔ راځی هغه د زړهٔ نه راوځی.

## دوه قسمه بنيادونه

﴿۴۶﴾ تاسو ما ته ولې مالِک مالِک وايئ او هغه کار هيڅکله هم نهٔ کوئ چې زهٔ يې درته وايم؟ ﴿۴۷﴾ هر هغه څوک چې ما له راځی او زما خبرې اوری او عمل پرې کوی نو زهٔ به تاسو ته وښايم چې هغه د چا په شان دے. ﴿۴۸﴾ هغه د يو داسې سړی په شان دے چا چې د کور جوړولو دپاره ښهٔ ژور بنيادونه وکنستل او بنياد يې په پوخ ګټ کېښودلو. او هر کله چې سېلاب راغلو نو په کور وروختو خو هغه يې ونهٔ خوځولے شو ځکه چې هغه پوخ جوړ شوے وو. ﴿۴۹﴾ خو څوک چې زما خبرې اوری او عمل پرې نهٔ کوی نو هغه د داسې سړی په شان دے چا چې د خپل کور بنياد د زمکې په مخ جوړ کړو. کله چې سېلاب راغلو نو په کور وروختو نو هغه يې راوغورزولو او بلکل تباه يې کړو.“

## د صوبه دار د نوکر روغول

۷ ﴿۱﴾ کله چې يې ټولې خبرې خلقو ته خلاصې کړې نو عيسىٰ کفرنحُوم ته لاړو. ﴿۲﴾ هلته د صوبه دار يو نوکر وو کوم چې په هغهٔ ډېر ګران وو. او هغه مرګی حال پروت وو. ﴿۳﴾ نو کله چې صوبه دار د عيسىٰ په حقله واورېدل نو هغهٔ يو څو يهوديان مشران ورولېږل او خواست يې ورته وکړو چې هغه راشی او د هغهٔ نوکر له شفا ورکړی. ﴿۴﴾ هغوئ عيسىٰ له راغلل او ډېر زاری مِنت يې ورته وکړو او ورته يې ووئيل چې، ”صوبه دار ستا د مدد حقدار دے، ﴿۵﴾ ځکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه زمونږ د قوم خوږمن دے او هغۀ زمونږ دپاره عبادتخانه هم جوړه کړې ده.“ ۶ عيسىٰ د هغوئ سره لاړو. نو چې هغه کور ته نزدې شو نو صوبه دار يو څو دوستان په دې غرض ورولېږل چې، ”مالِکه، نور تکليف مۀ کوه ځکه چې زۀ د دې جوګه نۀ يم چې تۀ زما کور ته راشې. ۷ زۀ په خپله خو څۀ هم نۀ يم نو په دې وجه زۀ تاسو ته حاضر نۀ شوم. خو کۀ تاسو صرف حکم وکړئ نو زما نوکر به جوړ شى. ۸ ځکه چې زۀ پوهېږم چې زۀ په خپله د بل د حکم لاندې يم او سپاهيان زما د حکم لاندې دى. زۀ چې يو ته ووايم چې لاړ شه نو هغه لاړ شى، او چې بل ته ووايم چې دېخوا راشه، نو هغه راشى او چې خپل غلام ته ووايم چې داسې وکړه نو هغه يې هغه شان کوى.“ ۹ کله چې عيسىٰ دا واورېدل نو د هغۀ ايمان ته حېران شو، نو هغۀ ګڼې ته وفرمائيل چې، ”زۀ تاسو ته دا وايم چې ما داسې ايمان په بنى اِسرائيلو کښې چرته هم نۀ دے ليدلے.“ ۱۰ او هغه مشران چې کور ته واپس راغلل نو هغوئ هغه نوکر روغ جوړ وليدو.

## د نائن د کونډې ښځې زوئ ژوندے کول

۱۱ پس له هغې عيسىٰ نائن نومې ښارېے ته لاړو. د هغۀ سره خپل مريدان او نور ګڼ خلق هم ورسره وُو. ۱۲ کله چې هغه د ښارېے دروازې ته ورسېدلو نو يوه جنازه يې وليده. دغه جنازه د يوې کونډې د يک يو زوئ وه او د دې سره د ښارېے ګڼ خلق وُو. ۱۳ کله چې مالِک عيسىٰ هغه وليدله نو زړۀ يې پرې وسوزېدلو او وې فرمائيل، ”بس نوره مۀ ژاړه.“ ۱۴ د دې سره هغه وروړاندې شو او د جنازې په کټ يې لاس کېښودلو او جنازه وړُونکى ودرېدل. بيا هغۀ وفرمائيل چې، ”راپاڅه اے زلميه.“ ۱۵ هغه مړے کښېناستو او په خبرو يې شروع وکړه او عيسىٰ هغه خپلې مور ته بيا حواله کړو. ۱۶ په هغه ټولو خلقو باندې زبردسته يره خوره شوله او هغوئ ټولو د خُدائ پاک ثنا ووئيله او وې وئيل چې، ”زمونږ په مينځ کښې يو لوئ نبى راښکاره شوے دے او خُدائ پاک د خپلو خلقو د مدد دپاره راغلے دے.“ ۱۷ عيسىٰ چې څۀ کړى وُو هغه قيصه د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهوديه په ټوله علاقه او خوا او شا کښې خوره شوه.

## د حضرت يحيىٰ پېغام وړُونکى لېږل

۱۸ د يحيىٰ مريدانو هغه په دې هر څۀ خبر کړو. هغۀ خپل دوه مريدان
راوغوښتل ۱۹ او مالِک له يې ولېږل چې تپوس وکړى چې، ”تۀ هغه راتلونکے
يې يا دا چې مونږ د بل چا اِنتظار وکړو؟“ ۲۰ هغه پېغام وړُونکى عيسىٰ له لاړل
او ورته يې ووئيل، ”بپتسمه ورکوونکى يحيىٰ مونږ تا له رالېږلى يُو چې تپوس
وکړو چې تۀ هغه راتلونکے يې کۀ مونږ د بل چا اِنتظار وکړو؟“ ۲۱ هم په هغه
ساعت عيسىٰ ډېرو خلقو ته د بيماريانو نه شفا ورکړله، طاعون او بد پېريان يې
لرې کړل او ډېرو ړندو له يې بينائى ورکړه. ۲۲ بيا هغۀ هغه مريدانو ته جواب
ورکړو چې، ”لاړ شئ او هر څۀ چې تاسو اورئ او ګورئ هغه يحيىٰ ته ووايئ چې
ړاندۀ بينا کيږى، شل ګرځى، جذاميان پاکيږى، کاڼۀ اورى، مړى بيا ژوندى کيږى
او غريبانان ښۀ زيرے اورى. ۲۳ او بختور دى هغه څوک چې ما نۀ ازاروى.“
۲۴ کله چې د يحيىٰ مريدان رُخصت شول نو عيسىٰ د هغۀ په حقله خلقو ته
وفرمائيل چې، ”تاسو د څۀ ليدلو دپاره بيابان ته تلى وئ؟ يوه لوخه چې باد
خوځوله څۀ؟ ۲۵ نو بيا تاسو د څۀ ليدو له وتلى وئ؟ يو کس چې قيمتى جامې
يې اچولې وې؟ ګورئ، د چا چې قيمتى لباس وى او عيش عشرت کوى هغوئ په
محلونو کښې ژوند کوى. ۲۶ نو بيا تاسو بهر د څۀ ليدو له وتلى وئ؟ يو نبى ليدو
له؟ آو، زۀ دا وايم چې د يو نبى نه هم ډېر لوئ. ۲۷ دا هغه څوک دے چې د چا
په حقله چې ليکلے شوى دى چې، ”ګوره، زۀ خپل پېغمبر ستا نه وړاندې لېږم
چې ستا مخې ته لاره تياره کړى.“ ۲۸ زۀ تاسو ته وايم د زمکې په مخ بل څوک د
يحيىٰ نه لوئ نشته خو بيا هم د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې د ټولو نه کمزورے
کس د هغۀ نه لوئ دے.“ ۲۹ او ټولو خلقو چا چې د عيسىٰ خبرې واورېدلې نو
سره د محصولچيانو يې د خُدائ پاک لار سمه وګڼله ځکه چې د يحيىٰ نه يې
بپتسمه اخستې وه، ۳۰ خو بې د فريسيانو او د شرعې د عالمانو نه چا چې د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د بپتسمې نه اِنکار کړے وو او د ځان دپاره يې د خُدائ پاک د حُکم نه مخ اړولے وو. ۳۱ ”د دې پيړۍ د خلقو مِثال په څهٔ درکړم؟ هغوئ د چا په شان دی؟ ۳۲ هغوئ په بازار کښې د ناستو ماشومانو په شان دی څوک چې يو بل ته چغې وهی او وائی چې، مونږ تاسو ته شپيلۍ وغږولې او تاسو گډا ونهٔ کړه. مونږ ژړا انګولا وکړه او تاسو وير ونهٔ کړو. ۳۳ ځکه چې بپتسمه ورکوونکے يحيىٰ راغلو چې هغهٔ نهٔ روټۍ خوړله او نهٔ يې مے څښله نو تاسو وئيل چې، په هغهٔ پيريان ناست دی. ۳۴ او کله چې اِبن آدم راغلو چې خوری څښی نو تاسو وايئ چې، دهٔ ته وګورئ. دا ګېډور شرابی د محصولچيانو او ګناهګارو دوست دے. ۳۵ خو بيا هم حکمت په خپلو کارونو کولو صادق ثابت شو.“

## يوه ګناهګاره ښځه معاف کول

۳۶ يو فريسی د عيسىٰ مېلمستيا وکړله. هغه د فريسی کور ته لاړو او خوراک ته کښيناستو. ۳۷ نو په هغه ښار کښې يوه زناکاره ښځه چې د عيسىٰ د راتلو نه خبر شوله چې د يو فريسی په کور کښې مېلمه دے نو قيمتی عطر يې د مرمرو په عطردان کښې راوړل. ۳۸ هغه د عيسىٰ د پښو سره وروستو ودرېدله او په ژړا شوه او د هغهٔ پښې د هغې په اوښکو لمدې شوې او هغه هغې په خپلو وېښتو وچې کړې او ښکل يې کړې او عطر يې پرې واچول. ۳۹ کله چې د هغهٔ کوربه فريسی دا وليدل نو د ځان سره يې ووئيل، ”کهٔ دا سړے چرې رښتينے نبی وے نو هغه به په دې خبر وے چې دا لاس وروړونکې ښځه څوک ده او دا څنګه ښځه ده يعنې يوه ګناهګاره ده.“ ۴۰ عيسىٰ د هغهٔ په زړهٔ پوهه شو او ورته يې وفرمائيل چې، ”شمعونه. زهٔ تا ته څهٔ وئيل غواړم.“ هغهٔ ووئيل چې، ”ووايه مالِکه.“ ۴۱ عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”د يو سودخور دوه قرضداری وُو. يو ته يې پينځهٔ سوه ديناره قرض وُو او په بل يې پنځوس. ۴۲ د دواړو سره د قرض ورکولو هيڅ درک نهٔ وو نو دواړو ته يې ويخښل. نو اوس ووايه چې په دې دواړو کښې به د هغهٔ سره زياته مينه کوم يو کوی؟“ ۴۳ شمعون جواب ورکړو، ”زما په خيال



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کوم سړی ته یې زیاتې وبخښلې.“ عیسیٰ وفرمائیل چې، ”بېشکه تۀ صحیح
وائې.“ ۴۴ بیا یې ښځې ته مخ وروا‌ړولو او شمعون ته یې وفرمائیل چې، ”تۀ دا
ښځه وینې؟ زۀ ستا کور ته راغلم او تا زما د پښو دپاره اوبۀ قدرې هم رانۀ کړې
خو دې ښځې زما پښې په خپلو اوښکو لمدې کړې او هغه یې په خپلو وېښتو
وچې کړې. ۴۵ تا زۀ ښکل قدرې نۀ کړم خو د کوم وخت نه چې زۀ راغلے یم
هغه لګیا ده زما پښې ښُکلوی. ۴۶ تا زما سر په تېلو غوړ نۀ کړو او هغې زما په
پښو عطر واچول. ۴۷ زۀ تا ته دا وایم چې هغې دومره مینه وکړله ځکه چې د
هغې ډېر ګناهونه بخښلے شوی دی. د چا چې لږ ګناهونه بخښلے شوی وی هغه
لږه مینه کوی.“ ۴۸ بیا عیسیٰ هغې ته وفرمائیل چې، ”ستا ګناهونه وبخښلے
شول.“ ۴۹ نو مېلمنو په خپلو کښې ووئیل چې، ”دے لا څوک دے چې ګناهونه
هم بخښی؟“ ۵۰ او بیا عیسیٰ هغې ښځې ته وفرمائیل چې، ”تۀ خپل ایمان بچ
کړې، په خیر لاړه شه.“

## د حضرت عیسیٰ زنانه مریدانې

۸ ۱ د دې نه پس عیسیٰ ښار په ښار او کلی په کلی ګرځېدو، بیان یې کولو او
د خُدائ پاک د بادشاهۍ زیرے یې اورولو. او هغۀ سره هغه دولس مریدان هم
وُو، ۲ او یو څو ښځې وې څوک چې د پیریانو نه خلاصې شوې وې او د
رنځونو نه جوړې شوې وې. په دوئ کښې مریم چې د مګدلینی په نوم یادېده د
چا نه چې اووۀ پیریان شړلے شوی وُو، ۳ او یوانه چې د هیرودیس د خُوزا
نومې ناظر ښځه وه او سوسناه او نورې ډېرې ښځې چې په خپل مال دولت یې د
هغوئ خرچه کوله.

## د زمیندار مِثال

۴ او ډېر خلق د مختلفو ښارونو نه عیسیٰ ته راجمع کېدل نو هغۀ په دې مِثال



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې خبرې وکړې، ۵ ”یو زمیندار د تخم کَرلو دپاره بهر لاړو نو چې کله هغهٔ په خپل پټی کښې تخم نوستلو نو څهٔ تخم ترې نه په لاره پرېوتو او د پښو د لاندې شو او د هوا مارغان راغلل هغه يې وخوړو. ۶ څهٔ تخم په کاڼيزه زمکه پرېوتو او څهٔ وخت پس زرغون شو او اوچ شو ځکه چې د نمی کمے وو. ۷ او څهٔ تخم په غنو کښې پرېوتو، ازغی ورسره لوئ شول او فصل يې لاندې کړو. ۸ او څهٔ تخم په زرخيزه زمکه پرېوتو او راوټوکېدو او لوئ شو يو په سل غله يې وکړه.“ هر کله چې عيسیٰ دا وفرمائيل نو آواز يې وکړو، ”کهٔ څوک د اورېدو غوږونه لری نو هغه دې واوری.“

## د مِثالونو مطلب

۹ د هغهٔ مريدانو تپوس ترې وکړو چې د دې مِثال مطلب څهٔ وو؟ ۱۰ نو هغهٔ وفرمائيل چې، ”تاسو ته دا موقع درکړے شوې ده چې د خُدائ پاک د بادشاهئ په رازونو پوهه شئ، خو زهٔ د نورو دپاره په مِثالونو کښې تعليم ورکوم، ”هغوئ ګوری خو وينی نه، اوری خو پوهېږی نه.“

## د زميندار د مِثال تشريح

۱۱ د دې مِثال مطلب دا دے چې تخم د خُدائ پاک کلام دے. ۱۲ او د لارې په غاړه هغه څوک دی چې څوک دا اوری خو وروستو اِبليس راشی او هغه کلام د هغوئ د زړهٔ نه يوسی، هسې نه چې ايمان راوړی او خلاصون بيامومی. ۱۳ په کاڼيزه زمکه د کَرلے شوی تخم مِثال د هغه چا دے چې هر کله چې کلام واوری په خوشحالئ سره يې قبول کړی خو جرړې يې نهٔ وی او د لږ وخت دپاره پرې ايمان راوړی نو د آزمېښت په وخت کښې تيندک وخوری. ۱۴ او په غنو کښې د پرېوتلی تخم مِثال د هغه چا دے څوک چې کلام واوری خو نوره وده يې د مال دولت لالچ او د ژوند د خوشحالو په وجه مړئ خپه کړی او مېوه يې پخه نهٔ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ خو د ښې زمکې مِثال د هغه چا دے څوک چې په ښۀ او پاک زړۀ سره کلام
واورى او پرې مضبوط شى او په دې د صبر مېوه راوړى.

## د ښانک د لاندې ډيوه

۱۶ داسې هيڅوک نشته چې ډيوه بله کړى او بيا يې د لوښى د لاندې پټه کړى او
يا يې د کټ لاندې کېږدى بلکې هغه يې په ډيوټ ږدى چې هر راتلونکے کس يې
رڼا ووينى. ۱۷ داسې پټ څيز نشته چې هغه به ښکاره نۀ شى او نۀ داسې پټ
راز شته چې هغه به ښکاره نۀ شى. ۱۸ نو خبردار شئ چې تاسو څنګه اورئ
ځکه چې د هر چا سره چې څۀ وى هغۀ له به نور هم ورکړے شى، او د چا سره
چې څۀ نۀ وى هغۀ نه به هغه څۀ هم واخستلے شى چې ورسره وى.“

## د حضرت عيسىٰ رښتينې رشته‌دار

۱۹ بيا د عيسىٰ مور او ورونه راغلل خو د ګڼې له کبله هغۀ ته ورونۀ رسېدل.
۲۰ چا هغۀ ته ووئيل چې، ”ستا مور او ورونه بهر ولاړ دى، هغوئ تا سره
مِلاوېدل غواړى.“ ۲۱ هغۀ جواب ورکړو، ”زما مور او زما ورونه هغه څوک دى
چې د خُدائ پاک کلام اورى او عمل پرې کوى.“

## د حضرت عيسىٰ په درياب کښې طوفان ودرول

۲۲ يوه ورځ عيسىٰ د خپلو مريدانو سره په کشتۍ کښې سور شو او ورته يې
وفرمائيل، ”راځئ چې د درياب پورې غاړې ته لاړ شُو.“ نو هغوئ روان شول.
۲۳ او کله چې هغوئ په کِشتۍ کښې روان وُو، نو هغه اودۀ شو. خو په درياب
کښې يو زورَور طوفان راغلو، او کِشتۍ د اوبو نه په ډکېدو شوه او هغوئ په
سخته خطره کښې وُو. ۲۴ مريدان هغۀ له ورغلل او په چغو يې راببدار کړو،
”مالِکه، مالِکه، مونږ ډوبيږو.“ هغه ببدار شو او سيلۍ او د اوبو چپې يې ورټلې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طوفان ودرېدو نو په هغه ساعت قلاره قلارې شوه. ﴿۲۵﴾ هغۀ ترې تپوس وکړو، ”ستاسو ايمان چرته دے؟“ هغوئ په يره او حېرانتيا يو بل ته ووئيل چې، ”دا لا څۀ قِسم سړے دے چې هوا او چپو له حکم ورکوی او هغوئ يې حکم منی؟“

## په ګِراسينيانو کښې د پيريانو نيولے سړے روغول

﴿۲۶﴾ بيا عيسیٰ د خپلو مريدانو سره د ګِراسينيانو علاقې ته ورسېدلو کوم چې د ګليل په بله غاړه وو. ﴿۲۷﴾ څنګه چې عيسیٰ وچې ته راکوز شو نو يو سړے يې وليدو چې پيريانو نيولے وو او د ډېر وخت نه يې نۀ خو جامې اغوستې وې او نۀ کور کښې اوسېدلے وو خو په قبرستان کښې دېره وو. ﴿۲۸﴾ کله چې هغۀ عيسیٰ وليدلو نو چغې يې کړې او سجده يې ورته وکړه او دا چغې يې وهلې، ”اے عيسیٰ، د خُدائ پاک زويه، تۀ زما نه څۀ غواړې؟ د خُدائ تعالیٰ دپاره ما مۀ په عذابوه.“ ﴿۲۹﴾ ځکه چې عيسیٰ پيريانو ته حکم کړے وو چې دې سړی نه راوځئ. ډېر ځله يې هغه نيولے وو او د حفاظت د کبله به په زنځيرونو کښې وتړلے شو او زولنې به ورواچولے شوې خو هر ځل به هغۀ ځان خلاصولو او پيريانو به هغه بيابان ته بوتلو. ﴿۳۰﴾ بيا عيسیٰ د هغۀ نه تپوس وکړو چې، ”نوم دې څۀ دے؟“ هغۀ ووئيل چې، ”زما نوم لښکر دے،“ ځکه چې هغه ډېرو پيريانو نيولے وو. ﴿۳۱﴾ هغوئ مِنت زارې ورته وکړه چې دا حکم مۀ راکوه چې تاترين ته وغورزېږئ. ﴿۳۲﴾ نو هلته د غرۀ په خوا کښې د خنزيرانو يوه لويه رمه څرېده او پيريانو مِنت زارې ورته وکړه چې، ”مونږ له اجازت راکړه چې په دوئ کښې ورننوځو.“ نو هغۀ هغوئ له اجازت ورکړو. ﴿۳۳﴾ بيا پيريان د سړی نه راووتل او په خنزيرانو کښې ورننوتل او ټوله رمه په منډه شوه او د کمر نه ښکته درياب ته پرېوته او ډوبه شوه. ﴿۳۴﴾ د خنزيرانو ساتونکو چې دا وليدل نو وتښتېدل. هغوئ ښار او بانډو ته دا خبر ورسولو. ﴿۳۵﴾ او خلق د دې تماشې دپاره بهر راووتل. کله چې هغوئ عيسیٰ له راغلل هغه سړے چې پيريان ترې تللی وُو يې وليدو چې جامې يې اغوستې وې او سم دم د عيسیٰ په پښو کښې ناست وو او هغوئ وېرېدل. ﴿۳۶﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومو خلقو چې دا واقعه ليدلې وه هغوئ نورو ته ووئيل چې دا پيريانو نيولے سړے څنګه روغ شو. ۳۷ نو د ګِراسينيانو د مُلک ټولو خلقو عيسیٰ ته مِنت زارۍ وکړه چې د دې علاقې نه لاړ شه. ځکه چې هغوئ ډېر يرې اخستی وُو. نو هغه کشتۍ ته وختلو او واپس لاړو. ۳۸ د کوم سړی نه چې پيريان پاڅېدلی وُو هغهٔ ورته خواست وکړو چې ورسره ملګرے شی. خو عيسیٰ هغه رُخصت کړو او ورته يې وفرمائيل چې، ۳۹ "خپل کور ته واپس لاړ شه او هغه هر څهٔ بيان کړه چې خُدائ پاک ستا دپاره وکړل." هغه لاړو په ښار کښې هرې خوا ته وګرځېدو او چې عيسیٰ د هغهٔ دپاره څهٔ کړی وُو هغه يې خلقو ته بيان کړل.

## د حضرت عيسیٰ يوه جينۍ راژوندۍ کول او يوې ښځې له شفا ورکول

۴۰ کله چې عيسیٰ راواپس شو نو خلقو ورته هرکلے ووې ځکه چې هغوئ ټول ورته په اِنتظار وُو. ۴۱ بيا يائير نومې يو سړے راغلو چې د عبادتخانې يو مشر وو. هغه د عيسیٰ په پښو پرېوتو او مِنت زارۍ يې ورته وکړه چې، "ما سره کور ته لاړ شه." ۴۲ ځکه چې د هغهٔ د دولسو کالو يک يو لور وه چې مرګی حال وه. کله چې عيسیٰ ورسره لاړو نو د خلقو په ګڼه کښې راګېر شو. ۴۳ په هغوئ کښې يوه ښځه وه چې د دولسو کالو راسې يې وينه بهېدله او هيچا يې علاج نهٔ شو کولے. ۴۴ هغه د شا د طرفه راغله او د هغهٔ د جامو لمن له يې لاس وروړو او سمدستی يې وينه ودرېده. ۴۵ عيسیٰ وفرمائيل، "دا چا ما له لاس راوړو؟" ټول منکر شول او پطروس ووئيل، "مالِکه، ګڼه دربانديې راټوله ده او خلق درته راجُختيږی." ۴۶ خو عيسیٰ وفرمائيل چې، "چا خو ما له لاس راوړو ځکه چې زهٔ پوهه شوم چې يو طاقت ما نه بهر شو." ۴۷ کله چې ښځه پوهه شوه چې هغه پټېدے نهٔ شی، نو په رېږدو سره راغله او د هغهٔ په پښو کښې پرېوتله او د ټولو خلقو په وړاندې يې د دې اِقرار وکړو چې هغې ولې هغهٔ له لاس وروړو او څنګه هغه سمدستی جوړه شوه. ۴۸ نو هغهٔ هغې ته وفرمائيل چې، "زما لورې، ستا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایمان تهٔ روغه کړي، په خیر لاړه شه.“ ﴿۴۹﴾ هغهٔ لا دا خبرې کولې چې د
عبادتخانې د مشر د کور نه څوک راغلو چې خبر ورکړی چې، ”ستا لور مړه شوه
او اُستاذ نور مهٔ په تکلیف کوه.“ ﴿۵۰﴾ خو عیسیٰ چې دا واورېدل نو هغهٔ ته یې
وفرمائیل چې، ”یرېږه مهٔ. صرف ایمان وساته نو هغه به بچ شی.“ ﴿۵۱﴾ کله چې
هغه کور ته ورسېدو هغهٔ د پطروس، یوحنا، یعقوب او د جینۍ د مور پلار نه
علاوه څان سره نور څوک ننوتلو ته پرې نهٔ ښودل. ﴿۵۲﴾ هغوئ ټولو د هغې جینۍ
دپاره ژړا انګولا کوله. خو هغهٔ وفرمائیل چې، ”مهٔ ژاړئ، هغه مړه نهٔ ده، هغه خو
اوده ده.“ ﴿۵۳﴾ خو هغوئ ورپورې وخندل څکه چې ښهٔ خبر وُو چې هغه مړه ده.
﴿۵۴﴾ خو عیسیٰ هغه د لاسه ونیوله او ورته یې وفرمائیل چې، ”پاڅه زما بچۍ.“
﴿۵۵﴾ د هغې روح واپس راغلو، هغه سمدستی پاڅېده بیا هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل
چې هغې ته د خوړلو څهٔ ورکړئ. ﴿۵۶﴾ د هغې مور پلار اریان دریان شول خو هغهٔ
هغوئ ته حکم ورکړو چې، ”هر څهٔ چې وشول دا چا ته مهٔ وایئ.“

## د دولسو رسولانو لېږل

۹ ﴿۱﴾ بیا عیسیٰ دولس مریدان راوغوښتل او هغوئ له یې د پیریانو د شړلو او
د بیماریانو د شفا اختیار ورکړو. ﴿۲﴾ او هغهٔ هغوئ د خُدائ پاک د بادشاهۍ د
بیانولو او د بیمارانو د شفا دپاره ولېږل. ﴿۳﴾ هغوئ ته یې وفرمائیل چې، ”څان
سره هیڅ مهٔ اخلئ، نهٔ امسا، نهٔ تیلۍ، نهٔ روټۍ او نهٔ پیسې او نهٔ دوېم قمیص. ﴿۴﴾
کوم کور ته چې تاسو ننوځئ نو هلته پاتې شئ او هم هلته نه رُخصت شئ. ﴿۵﴾
او کوم خلق چې تاسو قبول نهٔ کړی نو چې کله تاسو د هغوئ ښار پرېږدئ نو د
خپلو پښو نه دوړې وڅنډئ چې د هغوئ خلاف ګواهی شی.“ ﴿۶﴾ نو هغوئ روان
شول، کلی په کلی ګرځېدل او په هر ځائ کښې یې زیرے خورولو او بیمارانو له
یې شفا ورکوله.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د هيروديس پريشانى

٧ اوس ګورنر هيروديس هم د دې هر څۀ په حقله خبر شو او په سوچ کښې
ډوب شو ځکه چې ځينې خلقو دا وئيل چې يحيىٰ بيا د مړو نه راژوندے شوے
دے. ٨ او چا وئيل چې الياس راښکاره شوے دے او ځينو وئيل چې د پخوانو
پېغمبرانو نه يو راژوندے شوے دے. ٩ هيروديس ووئيل چې، "د يحيىٰ سر ما
په خپله پرې کړے دے خو دا لا څوک دے چې دا دومره زور شور يې دے؟" نو
هغه د عيسىٰ سره د مِلاوېدو په کوشش کښې وو.

## پينځۀ زره سړو او ورسره ښځو او ماشومانو له روټۍ ورکول

١٠ کله چې رسولان واپس راغلل نو عيسىٰ ته يې خپله کار ګزارى بيان کړه نو
هغه هغوئ سره بيت‌ِصيدا نومې ښارېې ته پټ لاړو. ١١ خو خلق خبر شول او
وريسې لاړل. هغۀ خلقو ته هرکلے ووئيلو او هغوئ ته يې د خُدائ پاک د
بادشاهۍ په حقله خبرې وکړې او چا ته چې د علاج ضرورت وو، هغوئ له يې
شفا ورکړه. ١٢ کله چې ماښام شو نو هغه دولس مريدان هغۀ له ورغلل او ورته
يې ووئيل، "دا خلق رُخصت کړه چې خوا او شا کلو او بانډو ته لاړ شى او ځان
له د شپې تېرولو او د خوراک بندوبست وکړى ځکه چې مونږ دلته په خوشى
بيابان کښې يُو." ١٣ خو عيسىٰ جواب ورکړو چې، "تاسو د ځانه دوئ ته د
خوراک څۀ ورکړئ چې وې خورى." نو هغوئ ووئيل چې، "مونږ سره خو پينځۀ
روټۍ او دوه کبان دى، نور هيڅ نشته، ترڅو چې مونږ په خپله لاړ نۀ شُو او د
دوئ دپاره د خوراک څښاک بندوبست ونۀ کړُو." ١۴ دا خوا او شا پينځۀ زره
سړى وُو. هغۀ خپلو مريدانو ته وفرمائيل چې، "د دوئ نه د پنځوسو پنځوسو
کسانو پېنډې جوړې کړئ." ١٥ هغوئ هم داسې وکړل او ټول يې کښېنول. ١٦
بيا عيسىٰ هغه پينځۀ روټۍ او دوه کبان واخستل او آسمان ته يې پاس وکتل،
برکت يې ورکړو، ماتې يې کړې او مريدانو له يې ورکړې چې په خلقو يې تقسيم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی. ۱۷ هغوئ ټولو ښهٔ په مړه ګېډه خوراک وکړو او کومې پاتې ټوکړې چې
راټولې کړے شوې نو دولس ټوکرۍ ترې ډکې شوې.

## د حضرت عيسیٰ په حقله د پطروس اِقرار

۱۸ يوه ورځ چې عيسیٰ يواځې دُعا کوله او د هغهٔ مريدان هم حاضر وُو نو هغهٔ
د هغوئ نه تپوس وکړو چې، ”خلق څهٔ وائی چې زهٔ څوک يم؟“ ۱۹ هغوئ
جواب ورکړو، ”ځينې وائی چې بپتسمه ورکوونکے يحيیٰ دے، نور دې الياس
ګڼی، او ځينې وائی چې د پخوانو نبيانو نه يو بيا راژوندے شوے دے.“ ۲۰ نو
هغهٔ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو څهٔ وايئ چې زهٔ څوک يم؟“ پطروس جواب
ورکړو، ”تهٔ د خُدائ پاک مسيح يې.“

## د حضرت عيسیٰ د خپل مرګ او بيا ژوندی کېدلو په حقله پېشګوئي

۲۱ بيا هغهٔ هغوئ په سختۍ سره منع کړل او حکم يې ورکړو چې، ”هيچا ته مهٔ
وايئ.“ ۲۲ او هغهٔ وفرمائيل چې، ”اِبن آدم به خامخا ډېرې سختۍ وزغمی او
مشران، مشران اِمامان او د شرعې عالمان به يې رد کړی، او هغه به ووژلے
شی، او په دريمه ورځ به راژوندے شی.“ ۲۳ بيا هغهٔ هغوئ ټولو ته وفرمائيل،
”کهٔ څوک زما مريدان جوړېدل غواړی، هغه دې د خپل ځان نه منکر شی، او
هره ورځ دې خپله سولۍ راواخلی او ما پسې دې راځی. ۲۴ څوک چې خپل
ځان ساتل غواړی هغه به يې بائيلی، خو څوک چې زما د خاطره خپل ژوند
بائيلی، نو هغه به يې بچ کړی. ۲۵ کهٔ څوک د خپل ابدی ژوند په بدله کښې ټوله
دُنيا ومومی نو هغهٔ ځان له څهٔ فائده ورکړه؟ ۲۶ څوک چې په ما او زما په کلام
شرميږی نو اِبن آدم به د هغوئ نه وشرميږی، کله چې هغه په خپل جلال او د پلار
او د پاکو فرښتو جلال سره راشی. ۲۷ خو زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې دلته ځينې
داسې کسان ولاړ دی چې هغوئ به تر هغې نهٔ مری ترڅو چې د خُدائ پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهی ونۀ وینی.“

## د حضرت عیسیٰ شکل بدلېدل

۲۸ د دې خبرو نه اتۀ ورځې پس هغۀ پطروس، یوحنا او یعقوب د ځان سره
کړل او د دُعا دپاره غرۀ ته لاړل. ۲۹ هر کله چې هغۀ دُعا کوله نو د هغۀ شکل
بدل شو او د هغۀ جامې برېښېدونکې سپینې شوې. ۳۰ نو ناګهانه هغوئ دوه
سړی ولیدل چې موسیٰ او الیاس وُو، چې د هغۀ سره یې خبرې کولې. ۳۱
هغوئ په جلال کښې ښکاره شول او د هغۀ د مرګ په حقله یې خبرې وکړې چې
په یروشلم کښې پوره کېدونکې وې. ۳۲ په دې وخت کښې پطروس او د هغۀ
ملګری په ښۀ خوب ورغلی وُو، خو هر کله چې هغوئ بېدار شول نو هغوئ د دۀ
جلال ولیدو او هغه دوه سړی یې هم ورسره ولاړ ولیدل. ۳۳ او کله چې هغوئ د
عیسیٰ نه رخصتېدل نو پطروس عیسیٰ ته ووئیل چې، ”مالِکه، زمونږ دپاره دلته
پاتې کېدل ښۀ دی. مونږ پرېږده چې درې جونګړې جوړې کړُو، یوه ستا دپاره،
یوه د موسیٰ دپاره او یوه د الیاس دپاره.“ خو هغه نۀ پوهېدو چې څۀ یې وئیل.
۳۴ هغۀ لا دا خبرې کولې چې یوه وریځ راخوره شوه او په هغوئ یې سورے
وکړو. هغوئ وېرېدل څنګه چې په وریځ کښې ننوتل. ۳۵ بیا د وریځې نه یو آواز
راغلو چې وې فرمائیل، ”دا زما زوئ دے، زما غوره کړے. د دۀ خبرې واورئ.“
۳۶ هر کله چې آواز ختم شو نو عیسیٰ یې یواځې ولیدلو. نو مریدان غلی پاتې
شول او هر څۀ چې یې لیدلی وُو، په هغه وخت یې هیچا ته هم حال ونۀ وې.

## پیریانو نیولے هلک روغول

۳۷ بله ورځ چې هغوئ د غرۀ نه راکوز شول نو ډېره لویه ګڼه ورته راټوله شوې
وه. ۳۸ بیا د ګڼې نه یو سړی چغه کړه، ”اُستاذه، زاری درته کوم چې زما په یک
یو زوئ نظر وکړه. ۳۹ هر وخت یې پیرے نیسی، چغې ترې وباسی، تاو راتاو یې
کړی او را وی غورزوی او په خوله یې ځګونه رامات شی او چې ډېر بد یې زخمی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی نو هله ترې لاړ شی. ﴿۴۰﴾ ما ستا مریدانو ته خواست وکړو چې دا ترې نه وباسئ خو هغوئ پاتې راغلل.“ ﴿۴۱﴾ عیسیٰ جواب ورکړو، ”اے بې‌ایمانه او بدکاره پیړۍ. زۀ به ترڅو تاسو سره یم او تاسو به زغمم؟ خپل زوئ دلته راوله.“ ﴿۴۲﴾ خو د راوستو نه مخکښې پیریانو هغه ماشوم راوپرزولو او تاو راتاو یې کړو، خو عیسیٰ پیرے ورټلو، هلک یې روغ کړو او پلار ته یې واپس حواله کړو. ﴿۴۳﴾ او هغوئ ټول د خُدائ پاک د لویئ او د هغۀ د شان او شوکت یرې واخستل.

## د حضرت عیسیٰ د خپل مرګ په حقله بیا پیشګوئي

ټول خلق د دۀ په دې ټولو کارونو حیران شول او عیسیٰ په دې وخت کښې خپلو مریدانو ته وفرمائیل، ﴿۴۴﴾ ”پریږدئ او دا خبرې په کولاو غوږونو واورئ. اِبن آدم به د دشمنانو لاسونو ته حواله کړے شی.“ ﴿۴۵﴾ خو هغوئ د هغۀ په دې وینا پوهه نۀ شول ځکه چې د دې مطلب د هغوئ نه پټ وو د دې دپاره چې هغوئ په دې ونۀ رسی او هغوئ په دې حقله د هغۀ نه د تپوس کولو نه هم یریدل.

## د ټولو نه لوئ څوک دے؟

﴿۴۶﴾ د هغوئ په مینځ کښې دا بحث شروع شو چې په مونږ کښې د ټولو نه لوئ څوک دے. ﴿۴۷﴾ عیسیٰ په دې پوهه وو چې د دوئ په زړُونو کښې څۀ تېریږی نو هغۀ یو ماشوم د لاسه ونیولو او په خپله خوا کښې یې ودرولو ﴿۴۸﴾ او هغوئ ته یې وفرمائیل، ”څوک چې زما په نوم داسې ماشوم قبول کړی هغه ما قبلوی، او څوک چې ما قبلوی هغه، هغه څوک قبلوی چې زۀ یې رالیږلے یم. ځکه چې په تاسو ټولو کښې ورکوټے په تاسو ټولو کښې لوئ دے.“

## هغه څوک چې ستا مخالف نۀ دے، ستا ملګرے دے

﴿۴۹﴾ یوحنا ووئیل، ”مالِکه، مونږ یو سړے ولیدو چې ستا په نوم پیریان شړی، او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ د هغهٔ د منع کولو کوشش وکړو ځکه هغه زمونږ نه نهٔ وو.“ ۞۵۰ خو عيسىٰ هغهٔ ته وفرمائيل، ”هغه مهٔ منع کوئ ځکه چې څوک ستاسو مخالف نهٔ دے، هغه ستاسو ملګرے دے.“

## په سامريه کښې د حضرت عيسىٰ نه اِنکار

۞۵۱ هر کله چې هغه وخت رانزدې شو چې عيسىٰ پاس آسمان ته وخېژولے شى نو هغهٔ يروشلم ته د تلو پوخ نيت وکړو. ۞۵۲ او هغهٔ د ځان نه وړاندې پيغام وړُونکى ولېږل. هغوئ لاړل او د سامريه يو کلى ته ورغلل چې د هغهٔ دپاره د ځائ تيارى وکړى. ۞۵۳ خو د کلى خلقو هغه قبول نهٔ کړو ځکه چې هغهٔ مخه د يروشلم په لور ترلې وه. ۞۵۴ هر کله چې د هغهٔ مريدانو يعقوب او يوحنا دا حال وليدلو نو وې وئيل، ”مالِکه، مونږ د آسمان نه د دې کلى د سوزولو دپاره اور وغواړو څهٔ؟“
۞۵۵ خو هغهٔ ورته مخ ورواړوو او وې رټل. ۞۵۶ نو بيا هغوئ بل کلى ته لاړل.

## د حضرت عيسىٰ د مريد کېدو شرطونه

۞۵۷ کله چې هغوئ په لاره روان وُو نو يو سړى هغهٔ ته ووئيل، ”هر چرته چې تهٔ ځې، زهٔ به هم درپسې ځم.“ ۞۵۸ عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”د لومبړو خپل غارونه وى او د مارغانو جالې، خو اِبن آدم دومره ځائ قدرې هم نهٔ لرى چې سر په کښې ولګوى.“ ۞۵۹ بل چا ته هغهٔ وفرمائيل چې، ”په ما پسې راځه.“ خو سړى جواب ورکړو، ”مالِکه، اول ما ته اجازت راکړه چې خپل پلار ښخ کړم.“ ۞۶۰ خو عيسىٰ ورته وفرمائيل، ”مړى پرېږدئ چې مړى ښخوى خو تهٔ خامخا لاړ شه او د خُدائ پاک د بادشاهۍ زيرے ورکوه.“ ۞۶۱ او بيا يو بل ووئيل، ”مالِکه، زهٔ به درپسې يم خو دومره اجازت راکړه چې د خپل کور د خلقو نه رُخصت واخلم.“ ۞۶۲ عيسىٰ هغهٔ ته وفرمائيل، ”کوم سړے چې قُلبه کول شروع کړى بيا شاته ګورى هغه د خُدائ پاک د بادشاهۍ لائق نهٔ دے.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دوه اویا مریدان لیږل

۱۰ ۞۱ د دې نه پس بیا مالِک نور دوه اویا کسان مقرر کړل او هغوئ یې دوه
دوه کسان هر ښار او کلی ته د ځان نه وړاندې ولیږل، کومو ته چې د هغهٔ د
ورتلو اراده وه. ۞۲ هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل، ”فصل ډېر دے خو مزدوران لږ دی.
د دې دپاره تاسو د فصل مالِک ته خواست وکړئ چې د خپل فصل دپاره
مزدوران راولیږی. ۞۳ په خپله لاره ځئ او ګورئ، زهٔ تاسو لکه د ګډو په شان د
شرمخانو مینځ ته لېږم. ۞۴ د ځان سره بټوه مهٔ اخلئ، نهٔ تیلۍ او نهٔ پېزار. او په
لاره د چا سره په دُعا سلام ډېر وخت مهٔ ضائع کوئ. ۞۵ هر کله چې تاسو یو
کور ته ننوځئ نو اول دا ووایئ، په دې کور کښې دې خیر او سلامتی وی. ۞۶
کهٔ چرې هلته یو کس خیر خواه وی نو ستاسو سلامتی به د هغهٔ دپاره وی، او کهٔ
نهٔ وی نو هغه به تاسو ته راواپس شی. ۞۷ هم هغه کور کښې پاتې شئ او د
هغوئ سره خوړل څښل وکړئ او ست مهٔ غواړئ ځکه چې مزدور د مزدورۍ
حقدار وی. کور په کور مهٔ ګرځئ. ۞۸ هر کله چې تاسو یوې ښارېې ته
ورننوځئ او هغوئ تاسو ته هرکلے ووائی نو کوم خوراک چې تاسو ته درکړی،
هغه وخورئ. ۞۹ هلته بیماران روغ کړئ او هغوئ ته ووایئ چې د خُدائ پاک
بادشاهی ستاسو مینځ ته راغلې ده. ۞۱۰ خو چې تاسو یو ښار ته ننوځئ او هغوئ
تاسو قبول نهٔ کړی نو د دې کوڅو ته بهر ووځئ او ووایئ، ۞۱۱ ستاسو د ښارېې
دا کومه دوړه چې زمونږ په پښو پورې انښتې ده، مونږ یې ستاسو خلاف څنډو.
خو دا خبره یاده لرئ چې د خُدائ پاک بادشاهی ستاسو مینځ ته راغلې ده. ۞۱۲
زهٔ تاسو ته دا وایم چې د قیامت په ورځ به د سدوم حال د دغه ښار نه زیات د
زغملو وی.

## په ناتوبه ګار ښار باندې افسوس

۞۱۳ افسوس دې وی په تا اے خورازینه، افسوس دې وی په تا بیتِصیدا، ځکه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومې معجزې چې په تا کښې وشوې کۀ چرې دا په صور او صیدا کښې شوې
وې نو دوئ به ډېر پخوا د ځان نه د ټاټ جامې تاو کړې وې او په ایرو کښې به
ناست وُو او توبه به یې ویستې وه. ۱۴ خو د قیامت په ورځ به د صور او صیدا
حالت ستاسو نه ډېر غوره وی. ۱۵ او اے کفرنحُومه، ولې تۀ دا گڼې چې ستا
مقام به تر آسمانه پورته کړے شی څۀ؟ نه، تۀ به تاترین ته وغورزولے شې. ۱۶
هر څوک چې ستاسو خبرې ته غوږ نیسی، هغه ما ته غوږ نیسی او هر څوک چې
ستاسو خبره رد کوی، هغه ما رد کوی او څوک چې ما رد کوی، هغه هم هغه رد
کوی چې زۀ یې رالېږلے یم.“

## د دوو اویاؤ مریدانو واپس راتلل

۱۷ بیا هغه دوه اویا کسان خوشحاله واپس راغلل او وې وئیل چې، ”اے مالِکه،
ستا په نوم پیریان هم زمونږ تابعداری کوی.“ ۱۸ هغۀ جواب ورکړو، ”ما دا
ولیدل چې شیطان لکه د برېښنا په شان د آسمان نه راکوز شو. ۱۹ گورئ، ما
تاسو له اختیار درکړو چې ماران او لړمان د پښو لاندې کړئ او د دشمن طاقت
هم ختموئ او هیڅ څیز به هم تاسو ته نقصان نۀ شی درکولے. ۲۰ خو په دې مۀ
خوشحالېږئ چې پیریان ستاسو تابعداری کوی بلکې په دې خوشحاله شئ چې
ستاسو نومونه په آسمان کښې ولیکلے شول.“

## د حضرت عیسیٰ خوشحالیدل

۲۱ هم په دغه وخت عیسیٰ په روحُ القُدس کښې لویه خوشحالی وکړه او عیسیٰ
وفرمائیل، ”اے پلاره، د آسمان او د زمکې مالِکه، زۀ ستا ثنا او صِفت کوم ځکه
چې تا دا خبرې د پوهانو او هوښیارو نه پټې کړې او وړو ماشومانو ته دې
ښکاره کړې. آو، پلاره، دا ستا رضا وه. ۲۲ هر څۀ ما ته زما پلار سپارلی دی،
او هیڅوک بې د پلاره زوئ نۀ پېژنی، او نۀ څوک پلار پېژنی بې له زویه او بې له



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ نه چې زوئ يې ورته په ګوته کوی.“ ﴿۲۳﴾ بيا هغه خپلو مريدانو ته
راوګرځېدو او ځان له يې ورته وفرمائيل، ”هغه سترګې بختورې دی چې هغه څۀ
وينی چې تاسو يې وينئ. ﴿۲۴﴾ زۀ تاسو ته وايم چې د ډېرو نبيانو او بادشاهانو دا
ارمان وُو چې هغه څۀ ووينی څۀ چې تاسو وينئ خو هغوئ ونۀ ليدل او هغه څۀ
واوری چې تاسو يې اوس اورئ خو هغوئ وانۀ وريدل.“

## د نيک سامری مثال

﴿۲۵﴾ په يوه موقع يو د شرعي عالم راغلو او په عيسىٰ يې د آزمېښت دپاره دا سوال
وکړو، ”اُستاذه، زۀ داسې څۀ وکړم چې د ابدی ژوندون وارث شم؟“ ﴿۲۶﴾ عيسىٰ
ورته وفرمائيل، ”په شريعت کښې يې څۀ ليکلی دی؟ تۀ يې څنګه لولې؟“ ﴿۲۷﴾ هغۀ
ورته جواب ورکړو، ”د مالِک خپل خُدائ پاک سره په پوره زړۀ او په پوره ځان
او په پوره طاقت او په پوره عقل سره مينه ساتئ، او، د خپل ګاونډی سره د خپل
ځان په شان مينه ساتئ.“ ﴿۲۸﴾ عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”هم دغه صحيح جواب
دے. دغه شان کوه نو ژوندے به اوسې.“ ﴿۲۹﴾ خو هغۀ خپل ځان د صحيح
ثابتولو دپاره د عيسىٰ نه تپوس وکړو چې، ”زما ګاونډی څوک دے؟“ ﴿۳۰﴾ عيسىٰ
ورته جواب ورکړو چې، ”يو سړے د يروشلم نه يريحو ته روان وو چې په لاره
ډاکوانو ګېر کړو، جامې يې ترې وويستلې، وې وهلو او مرګی حال يې پرېښودلو
او ترينه لاړل. ﴿۳۱﴾ اتفاقی يو اِمام په دغه لار تېرېدو، چې هغه يې وليدو نو د لارې
بل طرف ته واوړېدو او ترې نه لاړو. ﴿۳۲﴾ هم دغه شان يو ليوی هغه ځائ ته
راغلو او چې هغه يې وليدلو نو بل طرف ته ترې نه واوړېدو او دے هم په مخه
ترې لاړو. ﴿۳۳﴾ خو يو سامری مسافر چې هغۀ له نزدې راغلو او چې هغه يې
وليدو نو زړۀ يې پرې وسوزېدو. ﴿۳۴﴾ هغه ورغلو او د هغۀ زخمونه يې په تېلو او
ميو ووينځل او پټی يې پرې ولګوله او بيا يې په خپل ښاروی سور کړو او يو
سرائی ته يې د ځان سره بوتلو او هلته يې د هغۀ خِدمت وکړو. ﴿۳۵﴾ بله ورځ هغۀ
دوه ديناره د خپل جيب نه راوويستل او د سرائی مالِک له يې ورکړل او ورته يې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل چې د دهٔ خِدمت کوه او کهٔ نوره خرچه دې پرې راغله نو په واپسئ کښې
به يې درکړم. (۳۶) ستاسو څهٔ خيال دے چې په دې درېو واړو کښې د هغه سړی
رښتينے ګاونډی څوک دے کوم چې غلو وهلے وو؟" (۳۷) هغهٔ جواب ورکړو،
"هغه څوک چا چې په هغهٔ رحم وکړو." عيسیٰ ورته وفرمائيل، "لاړ شه او هم
دغسې کوه لکه چې هغهٔ وکړل."

## حضرت عيسیٰ دپاره د مرتا او مريم مېلمستيا

(۳۸) هر کله چې هغوئ په لاره تلل نو عيسیٰ يو کلی ته راغلو چرته چې مرتا نومې
يوې ښځې په خپل کور کښې مېلمه کړو. (۳۹) د هغې يوه خور وه چې نوم يې
مريم وو. هغه د مالِک په پښو کښې کښېناستله او د هغهٔ کلام يې اورېدلو. (۴۰)
خو چې مرتا د ډېر کار په وجه پرېشانه وه نو هغهٔ ته ورغله او ورته يې ووئيل،
"مالِکه، تهٔ دا خيال نهٔ کوې چې زما خور زهٔ خِدمت ته يواځې پرېښې يم؟ هغې ته
ووايه چې راشی او زما مدد وکړی." (۴۱) مالِک په جواب کښې ورته وفرمائيل،
"مرتا، مرتا، تهٔ د ډېرو څيزونو په سوچونو کښې ډوبه شوې يې. (۴۲) خو د دې نه
يوه خبره ضروری ده او مريمې چې کومه خوښه کړې ده هغه بهتره ده او دا به د
هغې نه هيڅکله وانهٔ خستلے شی."

## د دُعا په حقله تعليم

**۱۱** (۱) يوه ورځ داسې وشول چې عيسیٰ په يو ځائ کښې دُعا کوله. هغهٔ چې
دُعا خلاصه کړه نو د هغهٔ يو مريد ورته ووئيل، "مالِکه، مونږ ته د دُعا کولو
طريقه وښايه لکه څنګه چې يحيیٰ خپلو مريدانو ته ښودلې وه." (۲) عيسیٰ
جواب ورکړو، "هر کله چې تاسو دُعا کوئ نو داسې وايئ، اے پلاره، ستا نوم
دې پاک وی او ستا بادشاهی دې راشی. (۳) مونږ له خپل روزمره رزق راکړه.
(۴) او زمونږ ګناهونه معاف کړه، څنګه چې مونږ خپل قصوروار معاف کوُو. او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ په آزمېښت کښې مهٔ اچوه." ۵ بیا عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، "فرض کړئ
کهٔ په تاسو کښې یو کس په نیمه شپه د خپل ملګری کور ته ورشی او ورته ووائی
زما ملګریه، ما له لږه روټئ راکړه. ۶ ځکه چې زما یو ملګرے د سفر نه
راغلے دے او ما کره د خوړلو دپاره هیڅ هم نشته چې هغهٔ ته کېږدم. ۷ او
هغه ورته په جواب کښې ووائی چې ما مهٔ تنګوه. په دې نیمه شپه خو ورونه بند
دی، زهٔ او زما بچی په کټ کښې اودهٔ یُو، په دې وخت اوس زهٔ تا له څهٔ نهٔ شم
درکولے. ۸ خو زهٔ تاسو ته وایم، کهٔ چرې د دوستئ په وجه درله څهٔ درنهٔ
کړی خو ستا د زیات مِنت کولو په وجه به هغه راپاڅی او تا له به هر څهٔ درکړی.
۹ او دغه شان زهٔ تاسو ته وایم چې وغواړئ نو تاسو ته به درکړے شی، ولټوئ
نو تاسو به یې وموموئ، ور وټکوئ نو درته به کولاو کړے شی. ۱۰ ځکه هر
څوک یې چې غواړی، هغهٔ ته ملاوېږی، او څوک یې چې لټون کوی، هغه یې
مومی، او څوک چې ور ټکوی، هغهٔ ته کولاوېږی. ۱۱ کهٔ چرې ستاسو ماشومان
تاسو نه کب وغواړی نو ولې تاسو به ورله مار ورکړئ څهٔ؟ په تاسو کښې به کوم
پلار داسې وکړی؟ ۱۲ او یا چې ماشوم ترې هګئ وغواړی نو ولې تاسو به ورله
لړم ورکړئ څهٔ؟ ۱۳ نو کهٔ بیا تاسو چې دومره ګناهګاران یئ، په دې پوهېږئ
چې خپل اولاد له ښهٔ څیزونه ورکړئ نو ستاسو آسمانی پلار به څومره زیات
روحُ القُدس هغه چا له ورکړی چې څوک یې ترې غواړی."

## حضرت عیسیٰ او بعلزبول

۱۴ یوه ورځ عیسیٰ د یو سړی نه ګونګے پیرے وشړلو چا چې خبرې نهٔ شوې
کولے نو کله چې پیری پرېښودو نو دې سړی خبرې شروع کړې، او خلق په دې
کار حق حېران شول. ۱۵ خو ځینو په کښې ووئیل چې، "دے خو د پیریانو د
سردار بعلزبول په مدد پیریان شړی." ۱۶ او نورو د آزمېښت په توګه ورنه څهٔ
آسمانی نښه وغوښته. ۱۷ خو هغه د هغوئ په زړونو پوهه شو او ورته یې
وفرمائیل چې، "هره بادشاهی چې په خپلو کښې بےاتفاقه شی نو هغه تباه کېږی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په بې‌اتفاقۍ سره بادشاهی ورانیږی. (۱۸) هم دغه شان که چرې اِبلیس د خپل ځان خلاف شی نو څنګه به یې بادشاهی پاتې شی؟ لکه څنګه چې ستاسو ګُمان دے چې زهٔ د بعلزبول په مدد پیریان وباسم، (۱۹) نو کهٔ چرې زهٔ پیریان د بعلزبول په مدد شړم نو ستاسو مریدان یې د چا په وسیله شړی؟ نو په هم دې وجه به هغوئ تاسو ملامته کړی. (۲۰) خو کهٔ چرې زهٔ د خُدائ پاک په قدرت پیریان شړم نو بیا پوهه شئ چې د خُدائ پاک بادشاهی ستاسو په مینځ کښې ده. (۲۱) هرکله چې یو زورَور وسله وال سړے د خپل کور ساتنه کوی نو د هغهٔ مال حال به محفوظ وی. (۲۲) خو هرکله چې د هغهٔ نه زیات زورَور سړے په هغهٔ وریږی او دے قابو کړی نو هغه وسله ترې واخلی چې په کومه د دهٔ باور وی او د هغهٔ لوټ شوے مال حال په خپلو کښې تقسیم کړی. (۲۳) څوک چې ما سره نهٔ دے، هغه زما خلاف دے. څوک یې چې ما سره یو ځائ نه راټولوی نو هغه یې نولی.

## د یو پیری واپس راتلل

(۲۴) کله چې د یو کس نه پیرے بهر شی نو هغه په صحراګانو سر شی چې آرام ومومی، خو چې وې نهٔ مومی نو هغه بیا د خپل ځان سره داسې ووائی چې زهٔ به واپس هغه ځائ ته لاړ شم د کوم نه چې راوتلے یم. (۲۵) نو هغه چې واپس راشی نو هغه ځائ صفا او جارُو کړے او د اوسېدو جوګه بیامومی. (۲۶) بیا هغه لاړ شی او نور اووهٔ پیریان د ځان سره راولی چې د دهٔ نه هم زیات خراب وی او هغوئ ټول راشی او په پیری نیولی کس دیره شی او د هغهٔ اَنجام د پخوا نه هم لا خراب شی." (۲۷) کله چې عیسیٰ دا خبره کوله په ګڼه کښې یوې ښځې چغې کړې، "بختوره ده هغه مور چې تهٔ یې زیږولے یې او تا له یې یئ درکړی دی." (۲۸) نو هغهٔ جواب ورکړو، "نه، بختور هغه دی څوک چې د خُدائ پاک کلام اوری او عمل پرې کوی."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نښه غوښتل

۲۹ کله چې عيسیٰ ته د خلقو ګڼه زياتېدله نو هغهٔ داسې وفرمائيل، "دا يوه ګناهګاره پيړۍ ده. دوئ نښې غواړی خو د يُونس نبی د نښې نه سيوا يوه نښه به هم دوئ له ورنهٔ کړے شی. ۳۰ لکه څنګه چې يُونس د نينوه د خلقو دپاره نښه وګرځېدو، دغه شان به اِبن آدم هم د دې پيړۍ دپاره نښه وګرځی. ۳۱ د شيبا مَلِکه به د قيامت په ورځ د دې پيړۍ د خلقو خلاف په عدالت کښې ودريږی او دوئ به مجرمان ثابت کړی، ځکه چې هغه د دُنيا د بل سر نه د سليمان د حِکمت خبرو اورېدو له راغلې وه، او څوک چې دلته دے هغه د سليمان نه هم لوئ دے. ۳۲ د نينوه خلق به هم د دې زمانې د خلقو په خلاف د قيامت په ورځ ودريږی او دا پيړۍ به مجرمه ثابته کړی ځکه چې هغوئ د يُونس په بيان توبه ګار شوی وُو، او اوس څوک چې دلته دے، هغه د يُونس نه لوئ دے.

## د وجود رڼا

۳۳ هيڅوک بله شوې ډيوه په پټ ځائ کښې او يا د لوښی لاندې نهٔ ږدی بلکې د ډيوټ دپاسه يې ږدی چې کور ته راتلونکی خلق يې رڼا ووينی. ۳۴ ستا سترګې ستا د بدن دپاره ډيوې دی. کهٔ ستا سترګې روغې وی، نو ستا ټول بدن به د رڼا نه ډک وی. خو کهٔ ستا سترګې خرابې وی، نو ستا په ټول بدن کښې به تورتم وی. ۳۵ نو بيا پام کوه چې کومه رڼا په تا کښې ده چې هغه تورتم نهٔ وی. ۳۶ کهٔ چرې ستا ټول بدن د رڼا نه ډک وی، او يو اندام دې هم په تورتم کښې نهٔ وی، نو ستا ټول ژوندون به روښانه وی، داسې لکه چې يوه ډيوه په تا ځليږی."

## د فريسی او د شرعې عالم ملامتول

۳۷ کله چې عيسیٰ خبرې ختمې کړې نو يو فريسی هغهٔ ته د روټۍ دعوت ورکړو. هغه دننه ورغلو او ورسره کښېناستو. ۳۸ فريسی په دې ليدو حيران شو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغۀ د روټۍ خوړلو نه مخکښې لاسونه ونۀ وينځل. (۳۹) خو مالِک هغۀ ته
وفرمائيل، ”تاسو فريسيان خو د کنډول او رکېبۍ بهر مخ وينځئ خو دننه تاسو د
حرص او بدکارۍ نه ډک کړی وی. (۴۰) اے کم عقلو، چا چې بهرنۍ حِصه
جوړه کړې ده، ولې هغۀ دننه حِصه نۀ ده جوړه کړې څۀ؟ (۴۱) خو څۀ چې
ستاسو په لوښو کښې دی هغه خېراتی ورکړئ. نو بيا به تاسو دننه او بهر مکمل
پاک شئ. (۴۲) اے فريسيانو، په تاسو دې افسوس وی. تاسو د باغ د پودينې او
سپېلنو او د هر قِسم سبزۍ لسمه حِصه خو ورکوئ خو د اِنصاف او د خُدائ
پاک سره د مينې نه اِنکار کوئ. په کار خو دا وو چې تاسو په دې هم عمل کولے
او هغه مو هم نۀ پرېښودلے. (۴۳) اے فريسيانو، په تاسو دې افسوس وی. تاسو
په عبادتخانو کښې د مشرۍ کُرسۍ خوښوئ او په بازارونو کښې په سلامونو ډېر
خوشحالېږئ. (۴۴) افسوس چې تاسو د هغه قبرونو په شان يئ چې نښه يې نۀ
معلومېږی او خلق پرې په بې‌خيالۍ سره دپاسه ګرځی.“ (۴۵) د دې په جواب
کښې يو د شرعې عالِم ووئيل، ”اُستاذه، کله چې تاسو داسې خبرې کوئ نو دا
زمونږه سپکاوے کوئ.“ (۴۶) عيسیٰ ورته وفرمائيل، ”اے د شرعې عالمانو په
تاسو دې هم افسوس وی. ځکه چې تاسو په خلقو بې‌اندازې بوج وراچوئ ولې په
خپله د دې د اوچتولو دپاره يوه ګوته قدرې هم نۀ وروړئ. (۴۷) په تاسو دې
افسوس وی چې تاسو د هغه نبيانو زيارتونه جوړَوئ کوم نبيان چې ستاسو پلار
نيکونو وژلی وُو. (۴۸) او تاسو په خپله په دې کار د خپل پلار نيکۀ په جرمونو
کښې شريک شوئ، هغوئ پېغمبران ووژل او تاسو پرې زيارتونه جوړ کړل. (۴۹)
ځکه خو خُدائ پاک په خپل حِکمت کښې وئيلی دی چې زۀ به تاسو ته نبيان او
رسولان درولېږم او په دوئ کښې به ځينې ووژلے شی او ځينې به وزورولے
شی. (۵۰) نو دغه شان به د دُنيا د شروع نه تر اوسه پورې د دې موجوده پيړۍ نه
د ټولو نبيانو د تويو شوو وينو تپوس وکړے شی، (۵۱) د هابيل د وينې نه د
زکرياه تر وينې پورې، څوک چې د خُدائ د کور او قربان‌ګاه په مينځ کښې
وژلے شوے وو. زۀ تاسو ته دا وايم، چې دې پيړۍ ته به د دې ټولو د وينو تويولو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سزا ملاوېږی. ﴿۵۲﴾ اے د شرعي عالمانو، په تاسو دې افسوس وی. ځکه چې تاسو د عِلم کُنجياني قبضه کړې دی، تاسو په خپله هم په کښې داخل نۀ شوئ او څوک چې داخلېدل هغوئ مو هم پرې نۀ ښودل.“ ﴿۵۳﴾ کله چې عيسیٰ د کوره بهر شو نو فريسيانو او د شرعي عالمانو دا کوشش وکړو چې د هغۀ سخت مخالفت شروع کړی او د دۀ نه بېواره بېواره تپوسونه وکړی، ﴿۵۴﴾ او په دې اِنتظار وُو چې هغه په خپلو خبرو کښې راګېر کړی.

## د منافقت خلاف خبردارے

١٢ ﴿۱﴾ په دې دوران کښې د زرګونو خلقو ګڼه جوړه شوې وه او داسې تېل جوړ شوے وو چې خلقو يو بل د پښو لاندې کول. نو عيسیٰ اول خپلو مريدانو ته خبرې شروع کړې چې، ”د فريسيانو د خمبيرې نه ځان ساتئ. زما مطلب د هغوئ د منافقت نه دے. ﴿۲﴾ داسې يو پټ څيز نشته چې هغه به ښکاره نۀ شی او نۀ داسې پټ راز شته چې هغه به ښکاره نۀ شی. ﴿۳﴾ نو هر هغه څۀ چې تاسو په تيارۀ کښې وايئ، هغه به په رڼا ورځ واورېدلے شی او هغه څۀ چې تاسو په بندو کمرو کښې يو بل ته په غوږ کښې وئيلی دی، هغه به د چت نه په چغه واورولے شی.

## د چا نه يرېدل

﴿۴﴾ اے دوستانو، زۀ تاسو ته دا وايم، د هغه چا نه مۀ يرېږئ څوک چې ستاسو بدن وژنی خو د مرګ نه پس نور تاسو سره هيڅ نۀ شی کولے. ﴿۵﴾ خو زۀ به تاسو خبردار کړم چې د چا نه يره په کار ده. د هغه چا نه يرېږئ څوک چې د وژلو نه پس دوزخ ته د اچولو طاقت هم لری. آو، زۀ تاسو ته وايم چې د هم هغۀ نه يره کوئ. ﴿۶﴾ ولې پينځۀ چنچنې په دوو پيسو نۀ خرڅېږی څۀ؟ او خُدائ پاک بيا هم په دوئ کښې يوه هم نۀ هېروی. ﴿۷﴾ خو ستاسو د سر ټول وېښتۀ هم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمېرلے شوی دی. نو بيا مۀ يرېږئ، تاسو د بےشمېره چڼچڼو نه زيات قيمتی يئ.

## د خلقو په وړاندې د حضرت عيسیٰ اِقرار

۸ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې هر هغه څوک چې د خلقو په وړاندې زما اِقرار وکړی نو اِبن آدم به هم د خُدائ پاک د فرښتو په وړاندې د هغۀ اِقرار وکړی. ۹ خو څوک چې د خلقو په وړاندې زما نه اِنکار کوی نو د خُدائ پاک د فرښتو په وړاندې به د هغۀ نه اِنکار وشی. ۱۰ هر هغه څوک چې د اِبن آدم په خلاف څۀ خبره وکړی نو هغه به ويخښلے شی، خو څوک چې د روحُ القُدس په خلاف کُفر ووائی نو هغه به معاف نۀ کړے شی. ۱۱ کله چې تاسو د عبادتخانو او د حاکمانو او د اختيار د خاوندانو په وړاندې د عدالت دپاره ودرولے شئ نو په دې وخت کښې انديښنه مۀ کوئ چې تاسو به د دوئ په وړاندې په خپله صفائی کښې څۀ وايئ. ۱۲ ځکه چې روحُ القُدس به هغه ساعت تاسو ته وښائی چې څۀ وئيل په کار دی.“

## د نادانه مالدار مِثال

۱۳ په ګڼه کښې يو سړی عيسیٰ ته ووئيل، ”اُستاذه، زما ورور ته ووايه چې زما سره د ميراث تقسيم وکړی.“ ۱۴ هغۀ جواب ورکړو چې، ”وروره، زۀ چا ستاسو منصف او ثالث مقرر کړے يم؟“ ۱۵ بيا هغۀ خلقو ته وفرمائيل، ”خبردار شئ. د هر قِسم حرص نه ځان ساتئ ځکه چې د بنی آدم ژوند په ډېر مال دولت پورې تړلے نۀ دے.“ ۱۶ او بيا ورته عيسیٰ دا مِثال پېش کړو چې، ”يو مالداره سړے وو چې په زمکه کښې يې ښۀ فصل وشو. ۱۷ هغۀ د ځان سره ووئيل، ما ته څۀ کول پکار دی؟ ما سره خو دومره ځائ هم نشته چې دا غله په کښې انبار کړم. ۱۸ بيا هغۀ ووئيل چې زۀ به داسې وکړم چې خپلې خمبې به ونړوم او لوئې به يې جوړې کړم او په هغې کښې به خپله ټوله غله او نور مال دولت سمبال کړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ او بيا به خپل ځان ته ووايم، سړيه، ډېر ځيزونه دې جمع کړل چې د ډېرو
کالونو پورې ستا دپاره کافي دی، اوس په آرام ژوند کوه، خوره څښه او
خوشحاله ګرځه. ۲۰ خو خُدائ پاک هغۀ ته وفرمائيل، اے کم عقله. هم په دې
شپه به دې ساه وخېژی. او تا چې کوم مال دولت راجمع کړو، دا به اوس د چا
شی؟ ۲۱ دا د هغه چا مِثال دے چا چې د خپل ځان دپاره مال دولت راجمع
کړو، خو دے د خُدائ پاک په نزد مالداره نۀ دے.“

## انديښنې مۀ کوئ

۲۲ بيا هغۀ خپلو مريدانو ته وفرمائيل، ”ځکه زۀ تاسو ته دا وايم چې د خپل
ژوندون دپاره دا انديښنې مۀ کوئ چې، څۀ به خورو يا څۀ به اغوندو. ۲۳ ځکه
چې ژوندون د روټۍ او بدن د جامو نه بهتر دے. ۲۴ کارغانو ته وګورئ، دوئ
نۀ خو کَرى او نۀ رېبی، نۀ خو د دوئ ذخيرې شته، نۀ خمبې، خو بيا هم خُدائ
پاک هغوئ له رزق ورکوی. نو بيا تاسو هغۀ ته د مارغانو په نسبت ډېر اهم يئ.
۲۵ په تاسو کښې داسې څوک شته چې هغه په انديښنو خپل ژوند يو ساعت
قدرې زيات کړی؟ ۲۶ کۀ چرې تاسو دا معمولی کار قدرې هم نۀ شئ کولے نو
بيا نورو انديښنو ولې اخستی يئ؟ ۲۷ ځنګلی ګلونو ته خو لږ خيال وکړئ، نۀ خو
هغوئ خوارى کوی او نۀ ځان دپاره جامې جوړوی خو زۀ تاسو ته دا وايم چې
سليمان چرې هم سره د خپل ټول شان او شوکت د دې ګلونو په شان ښائسته
جامې اچولې نۀ وې. ۲۸ خو کۀ چرې خُدائ پاک د پټو واښو ته داسې جامې
ورکوی، کوم چې نن شته او سبا په تنور کښې غورزولے شی، نو ولې هغه به بيا
تاسو له ښکلې جامې درنۀ کړی څۀ؟ اے د کم ايمان خاوندانو. ۲۹ نو ځکه تاسو
د خوراک څښاک پسې منډې مۀ وهئ، تاسو د دې ځيزونو انديښنه مۀ کوئ. ۳۰
ځکه چې د دُنيا نور قومونه په دې ځيزونو پسې په منډه دی خو ستاسو پلار د
مخکښې نه ستاسو د حاجتونو نه ښۀ خبر دے. ۳۱ خو تاسو د هر څۀ نه اول د
هغۀ د بادشاهۍ په لټون کښې شئ نو بيا به هغه ستاسو ټول حاجتونه پوره کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿۳۲﴾ اے وړې قبيلې. مهٔ يرېږئ. ځکه چې ستاسو د پلار دا خوښه ده چې تاسو له بادشاهي درکړی. ﴿۳۳﴾ خپل مال حال خرڅ کړئ او حاجتمندو ته يې ورکړئ او د ځان دپاره داسې بټوې تيارې کړئ چې هيڅکله نهٔ زړېږی او خپل ځان له په آسمان کښې داسې خزانې جوړې کړئ چې هيڅکله نهٔ ختميږی، چرته چې نهٔ غل شته او نهٔ وينهٔ. ﴿۳۴﴾ ځکه چې چرته ستا خزانه وی هلته به ستا زړهٔ هم وی.

## هر وخت بېداره نوکران

﴿۳۵﴾ د خِدمت دپاره تيار اوسئ او خپلې ډيوې بلې ساتئ. ﴿۳۶﴾ د هغو سړو په شان شئ څوک چې د خپل مالِک د وادهٔ د روټئ نه د واپس راتلو په اِنتظار وی نو چې هغه څهٔ وخت راشی، او ور وټکوی نو چې سمدستی هغوئ ورته ور کولاو کړی. ﴿۳۷﴾ هغه خادِمان بختور دی چې مالِک يې د خپل راتلو په وخت بېدار ووينی. زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې مالِک به په خپله د کار جامې واچوی او دوئ به خوراک ته کښېنوی او په خپله به د دوئ خِدمت کوی. ﴿۳۸﴾ بختور دی هغه خادِمان کله چې د هغوئ مالِک په نيمه شپه او يا سحر سبا راشی او هغه دوئ بېدار ووينی. ﴿۳۹﴾ خو ياد ساتئ، کهٔ د کور مالِک خبر وے چې غل به د شپې په کوم وخت کښې راځی نو هغه به بېدار وے او خپل کور به يې کنډر کېدو ته پرېښے نهٔ وو. ﴿۴۰﴾ نو بيا تاسو هم تيار اوسئ ځکه چې اِبن آدم به په داسې وخت کښې راځی چې ستاسو به په خيال خاطر کښې هم نهٔ وی.“ ﴿۴۱﴾ پطروس ووئيل چې، ”مالِکه، تهٔ دا مِثال يواځې مونږ ته وائې او کهٔ ټولو ته؟“ ﴿۴۲﴾ مالِک ورته وفرمائيل چې، ”نو بيا وفادار او خيال ساتونکے نوکر څوک دے؟ هغه څوک چا ته چې مالِک د کور اختيار ورکړے وی چې د کور د نورو نوکرانو خيال ساتی او هغوئ له مناسب خوراک ورکوی. ﴿۴۳﴾ بختور دے هغه نوکر چې د مالِک د راتلو په وخت په خپل کار آخته وی. ﴿۴۴﴾ زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې مالِک به دهٔ ته د خپل ټول مال واک اختيار ورکړی. ﴿۴۵﴾ خو کهٔ هغه نوکر د خپل ځان سره داسې ووائی چې بويه چې زما مالِک راځی او بيا د نورو نوکرانو په وهلو لاس پورې کړی او په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوړلو او څښلو آخته وی او په نشه کښې وی، ۴۶ نو مالِک به يې په داسې ورځ راشی چې د دۀ په خيال خاطر کښې به نۀ وی او په داسې وخت به راشی چې هغه به خبر هم نۀ وی، نو هغه به يې په وهلو ټک ټک کړی او په بې‌ايمانانو کښې به يې وشميری. ۴۷ خو هغه نوکر چې د خپل مالِک په طبيعت پوهيږی خو بيا هم د هغۀ په مرضۍ عمل ونۀ کړی، هغه به سخت وهل وخوری. ۴۸ خو څوک چې د خپل مالِک په مرضۍ نۀ پوهيږی او غلط کارونه کوی نو د هغۀ سزا به لږه وی. کوم سړی ته چې زيات ورکړے شوے وی د هغۀ نه به زيات تپوس کولے شی او څومره زيات چې چا ته څۀ سپارلے شوی وی، هومره زيات به د هغۀ نه غوښتلے شی.

## د حضرت عيسیٰ په وجه بيلتون

۴۹ زۀ دې له راغلے يم چې په زمکه اور پورې کړم او زما دا څومره خواهش وو چې دا د مخکښې نه بل وی. ۵۰ زۀ به د يوې سختې بپتسمې نه تيريږم او د هغې د پوره کيدو پورې به په ما درووند بار وی. ۵۱ ولې تاسو دا سوچ کوئ چې زۀ دُنيا ته د امن راوستو دپاره راغلے يم؟ خو زۀ د دې دپاره راغلے يم چې خلق په خپلو کښې جدا کړم. ۵۲ د دې نه پس به په يو کور کښې پينځۀ تنه خپلو کښې بې‌اتفاقه شی، درې به د دوو خلاف او دوه به د درېو خلاف شی، ۵۳ دوئ به په خپلو کښې مخالفت شروع کړی، پلار به د زوئ او زوئ به د پلار خلاف، مور به د لور او لور به د مور خلاف، خواښې به د اِنږور او اِنږور به د خواښې خلاف شی.“

## وخت او زمانه پيژندل

۵۴ عيسیٰ خلقو ته دا هم وفرمائيل، ”هر کله چې تاسو نمرپريواتۀ طرف ته وريځې په راختو ووينئ نو تاسو بيا زر دا وايئ چې باران کيدونکے دے نو بيا هم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې باران وشی. ۵۵ او هر کله چې باد د جنوب د طرفه وی نو تاسو وايئ چې
د ګرمۍ چپه راتلونکې ده او هم داسې وشی. ۵۶ اے مُنافقانو. تاسو د زمکې او د
آسمان حالت معلوموليے شئ نو بيا تاسو څنګه د اوسنۍ زمانې په حالت نۀ
پوهيږئ؟

## د خپل مخالف سره روغه کول

۵۷ نو تاسو بيا په خپله سمې فېصلې ولې نۀ شئ کوليے؟ ۵۸ کله چې تاسو د
خپل مخالف سره عدالت ته په لار روان يئ نو دا کوشش کوئ چې په لاره کښې د
هغۀ سره روغه جوړه وکړئ. ګنې هغه به تاسو قاضی ته پېش کړی او قاضی به
تاسو سپاهی ته حواله کړی او سپاهی به مو جېل کښې واچوی. ۵۹ زۀ تاسو ته
دا وايم چې تاسو به تر هغې آزاد نۀ شئ ترڅو چې مو خپله جرمانه پيسه پيسه ادا
کړې نۀ وی.“

## توبه يا مرګ

۱۳ ۱ هم په دغه وخت کښې ځينې کسانو عيسیٰ د هغه ګليليانو په حقله
خبر کړو چې پيلاطوس هغوئ د خُدائ په کور کښې ووژل کله چې هغوئ قربانی
کوله. ۲ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”ستاسو څۀ خيال دے چې په کومو
ګليليانو چې دا زياتے وشو، هغوئ د نورو ګليليانو نه زيات ګناه ګار وُو څۀ؟
۳ بلکل نه، زۀ تاسو ته وايم چې، خو کۀ تاسو هم توبه ګار نۀ شئ نو ټول به هم
هغه شان تباه شئ. ۴ يا هغه اتلس کسان چې په سيلوم کښې پرې برج راونړېدو
او دوئ ترې لاندې مړۀ شول، ستاسو دا خيال دے چې هغوئ په يروشلم کښې د
اوسېدونکو ټولو خلقو نه زيات ګناه ګار وُو؟ ۵ بلکل نه، زۀ تاسو ته دا وايم چې
کۀ تاسو توبه ګار نۀ شوئ نو ټول به هم هغه شان تباه شئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شنډ اينځر مِثال

٦ بيا عيسىٰ دا مِثال وفرمائيلو چې، ”د يو سړى په باغ کښې د اينځر ونه ولاړه وه. نو هغه مېوې لټولو له ورغلو خو هيڅ يې په کښې پيدا نۀ کړل. ٧ نو هغۀ باغوان ته ووئيل، ګوره، د تېرو دريو کالو راسې زۀ په دې اينځر کښې د مېوې لټولو په طمع راځم خو هيڅ مېوه په کښې نۀ وى. نو بس دا د بېخه وباسه. دې هسې ځائ نيولے دے؟ ٨ خو باغوان جواب ورکړو، صاحبه، سږ کال يې پرېږده، مۀ يې وباسه چې زۀ ورته ځائ جوړ کړم او سَره ورله ورکړم. ٩ کۀ په راتلونکى موسم کښې يې مېوه ونيوله نو ډېر ښۀ، ګنې بيا يې د بېخه وباسه.“

## د سبت په ورځ د يوې کوبې ښځې جوړول

١٠ د سبت په ورځ عيسىٰ په يوه عبادتخانه کښې تعليم ورکولو. ١١ نو يوه ښځه وه چې د اتلسو کالو راسې پيريانو نيولې وه او بې‌حاله کړې يې وه او ملا يې ورله داسې کږه کړې وه چې هيڅکله نېغه نۀ شوه ودرېدلے. ١٢ کله چې عيسىٰ هغه وليده نو راوې بلله او ورته يې وفرمائيل، ”اے مورې، تۀ د خپل تکليف نه آزاده شوې.“ ١٣ او بيا يې خپل لاسونه په هغې کېښودل، نو بيا سمدستى هغه نېغه ودرېده او د خُدائ پاک ثنا يې ووئيله. ١٤ خو د عبادتخانې مشر د سبت په ورځ د عيسىٰ د روغولو په عمل ډېر خفه شو او موجودو خلقو ته يې ووئيل چې، ”د کار دپاره شپږ ورځې مقرر شوې دى. په هغو ورځو کښې د شفا حاصلولو دپاره راځئ خو د سبت په ورځ مۀ راځئ.“ ١٥ خو مالِک هغۀ ته جواب ورکړو او وې فرمائيل، ”اے مُنافقانو، په تاسو کښې يو کس هم داسې شته څوک چې د سبت په ورځ خپل غوائى يا خر د اخور نه نۀ پرانيزى او اوبو له يې نۀ بوځى. ١٦ او دلته دا مور د اِبراهيم لور ده چې د اتلسو کالو راسې شيطان قېد کړې وه ولې دا ښۀ خبره نۀ ده چې د سبت په ورځ هغه د دې قېد نه آزاده شى؟“ ١٧ د هغۀ په دې وينا د هغۀ ټول مخالفين شرمنده شول او خلقو د دۀ په دې عجيبه کارونو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولو ډېره خوشحالی وکړه.

## د شړشمو د تخم مِثال

۱۸ بیا عیسیٰ وفرمائیل چې، "د خُدائ پاک بادشاهی په څۀ شان ده؟ زۀ د خُدائ
بادشاهی د څۀ سره بیان کړم؟ ۱۹ دا د شړشمو د هغه تخم په شان ده چې یو
سړی راواخستو او په خپل باغ کښې یې وکَرلو او چې شړشم راوټوکېدل نو لکه د
ونې په رنګ لوئ شول نو مارغان راتلل او په څانګو کښې به یې جالې جوړولې."

## د خمبيرې مثال

۲۰ هغۀ بیا دا وفرمائیل، "زۀ د خُدائ پاک بادشاهی د څۀ سره بیان کړم؟ ۲۱
دا د خمبيرې په شان ده چې یوې ښځې راواخسته او په درېو قلپو اوړو کښې یې
ګډه کړه نو بیا هغه درې واړه خمبيره شول."

## تنګه دروازه

۲۲ کله چې عیسیٰ یروشلم ته تلو نو په کلو او ښاریو تېرېدو او په تلو تلو کښې
یې خلقو ته ځائ په ځائ تعلیم ورکولو. ۲۳ یو کس ترېنه تپوس وکړو، "مالِکه،
ولې صرف یو څو تنه به بچ شی؟" نو هغۀ ورته په جواب کښې وفرمائیل، ۲۴
"کوشش وکړئ چې په تنګه دروازه ورداخل شئ، ځکه چې زۀ درته دا وایم چې
ډېر به د داخلېدو کوشش کوی خو داخلېدلے به نۀ شی. ۲۵ خو چې کله د کور
مالِک راپاڅی او د خپل کور دروازه بنده کړی کۀ تاسو بهر ولاړ یئ او دروازه
ټکوئ او مِنت کوئ چې مالِکه، مونږ ته دروازه کولاو کړه. خو هغه به جواب
درکړی چې زۀ خو تاسو نۀ پېژنم چې تاسو څوک یئ. ۲۶ نو بیا به تاسو داسې
وایئ چې، مونږ خو تا سره یو ځائ خوړل څښل کړی دی او تا زمونږ په کوڅو
کښې تعلیم ورکولو. ۲۷ خو هغه به بیا درته داسې ووائی چې، زۀ خو تاسو د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره نهٔ پېژنم چې د کوم ځائ نه راغلی يئ. تاسو ټول بدکاران زما نه ورک شئ.
۲۸ بيا به هلته تاسو ووينئ چې اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب او نور ټول پېغمبران د
خُدائ پاک په بادشاهئ کښې دی خو تاسو به هغه ځائ ته غورزولے شئ چرته
چې ژړا وير او د غاښونو چيچل وی، ۲۹ د دُنيا د هر ګوټ نه به خلق د خُدائ
پاک د بادشاهئ مېلمستيا ته راځی. ۳۰ بېشکه يو څو کسان چې په کښې آخر
دی، هغوئ به د ټولو نه اول شی او يو څو کسان چې اول دی هغوئ به د ټولو نه
آخر شی.“

## د يروشلم په باب کښې وير

۳۱ په هم دغه وخت يو څو فريسيان راغلل او عيسىٰ ته يې ووئيل چې، ”تهٔ د دې
ځايه ووځه او لاړ شه ځکه چې هيروديس ستا د وژلو نيت کړے دے.“ ۳۲ خو
هغهٔ جواب ورکړو، ”لاړ شئ او هغه ګيدړ ته ووايئ چې واوره. نن او سبا به زهٔ
پيريان وباسم او د شفا ورکولو کار به جاری ساتم او په دريمه ورځ به خپل کار
سر ته ورسوم. ۳۳ بيا هم ما ته پکار دی چې زهٔ نن او سبا په خپله لاره تلل
وکړم او په بله ورځ هم، ځکه چې د نبی دپاره دا ناممکنه ده چې هغه دې د
يروشلم نه بغير په بل ځائ کښې مړ شی. ۳۴ اے يروشلمه، اے د يروشلم
ښاريې چې تهٔ نبيان وژنې او رسولان سنګساروې کوم چې تا ته رالېږلے شوی
دی. ما څو ځله دا ارمان وکړو چې ستا بچی راغونډ کړم، داسې لکه چې چرګه
خپل بچی د وزرو لاندې راغونډوی، خو تا دا نهٔ غوښتل. ۳۵ وګوره، ستا کور تا
ته وران ويجاړ پاتې کيږی او زهٔ تا ته دا وايم چې تهٔ به ما تر هغې په سترګو ونهٔ
وينې ترڅو چې تهٔ دا ونهٔ وائې چې، بختور دے هغه څوک چې د مالِک خُدائ په
نوم راځی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پړسوب بیمارى روغول

١۴ (١) د سبت په ورځ عیسىٰ د یو مشر فریسی په کور کښې روټۍ خوړلو له
ورغلو او د خلقو په هغهٔ نظر وُو. (٢) هلته یو سړے وو چې ورته د پړسوب
بیمارى لګېدلې وه. (٣) عیسىٰ د شرعې د عالمانو او فریسیانو نه تپوس وکړو
چې، ”د سبت په ورځ خلقو له شفا ورکول روا دى او کهٔ نه؟“ (۴) هغوئ لاجوابه
پاتې شُو نو عیسىٰ هغه سړے د لاسه ونیولو او شفا یې ورکړه او رُخصت یې
کړو. (۵) بیا هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل، ”کهٔ چرې د سبت په ورځ ستاسو زوئ یا
ځاروے په کوهى کښې پرېوځى، ولې تاسو به هغه سمدستى راونهٔ باسئ؟“ (۶)
نو د هغوئ سره د دې خبرې هیڅ جواب نهٔ وو.

## د کوربه او مېلمنو دپاره نصیحت

(٧) کله چې عیسىٰ دا وکتل چې مېلمنو څنګه د عزت ځایونه کتل نو هغهٔ هغوئ
ته دا مِثال تیر کړو، (٨) ”کله چې تاسو څوک د وادهٔ روټۍ ته وغواړى نو د عزت
په ځائ مهٔ کښېنئ. کېدے شى چې ستاسو نه څوک زیات عزتمند رابللے شوے
وى. (٩) نو کوربه به راشى او تاسو ته به ووائى چې دې سړى ته خپل ځائ
پرېږده او بیا به تهٔ په هغه وخت ډېر کچه شې کله چې تهٔ د ټولو نه وروستو
کښېنې. (١٠) کله چې تا ته بلنه درکړے شى نو لاړ شه او د ټولو نه وروستو
کښېنه څکه چې کله چې کوربه راشى نو هغه به درته ووائى، زما آشنا، وړاندې
راشه. نو ستا ټول ملګرى مېلمانهٔ به ستا د هغه عزت تماشه وکړى، کوم چې تا ته
درکړے شو. (١١) څکه چې هر هغه څوک چې ځان اوچتوى، هغه به عاجز کړے
شى او هر هغه څوک چې ځان عاجز کړى، هغه به اوچت شى.“ (١٢) بیا عیسىٰ
خپل کوربه ته وفرمائیل، ”هر کله چې تهٔ د غرمې یا ماښام د روټۍ دپاره څوک
راغواړې نو خپلو دوستانو، وروڼو، عزیزانو او امیرانو ګاونډیانو ته بلنه مهٔ ورکوه
څکه چې هغوئ به هم تا ته بلنه درکړى او بدل به دې خلاص کړى. (١٣) خو هر



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې تهٔ دعوت کوې نو غريبانان، شل ګوډ او ړاندهٔ راوبله، ۱۴ او دغه شان
به تاسو برکت ومومئ ځکه چې هغوئ تاسو ته د بدل درکولو جوګه نهٔ دی، خو د
قيامت په ورځ به خُدائ پاک تاسو له د صادقانو سره اجر درکړی."

## د لوئې ميلمستيا مِثال

۱۵ په دې خلقو کښې يو کس چې د عيسىٰ سره روټۍ ته ناست وو نو په دې
خبرې اورېدو سره يې هغهٔ ته ووئيل، "بختور دی هغه څوک چې د خُدائ پاک د
بادشاهۍ په ميلمستيا کښې ګډون وکړی." ۱۶ عيسىٰ جواب ورکړو، "يو سړی د
يوې لوئ ميلمستيا بندوبست کړے وو او ګڼ خلق يې رابللی وُو. ۱۷ د روټۍ په
وخت هغهٔ خپل نوکر رابللے شوو ميلمنو پسې ولېږلو او ورته يې ووئيل چې
مهربانی وکړئ، روټۍ تياره ده راشئ. ۱۸ خو هغوئ ټولو څهٔ نه څهٔ بهانه وکړه.
وړومبی ووئيل، ما يوه ټوټه زمکه اخستې ده، زهٔ ځم چې هغه وګورم. نو مهربانی
وکړه زما عُذر قبول کړه. ۱۹ دويم ووئيل چې، ما پينځهٔ قلبې غويان اخستی دی،
زهٔ ځم چې هغوئ جوت کړم. نو مهربانی وکړه، زما عُذر قبول کړه. ۲۰ بل
ووئيل، ما اوس اوس وادهٔ کړے دے، په دې وجه درتلے نهٔ شم. ۲۱ کله چې
نوکر واپس شو نو دا هر څهٔ يې خپل مالِک ته ووئيل. د کور مالِک په غصه شو
او نوکر ته يې ووئيل چې زر د ښار کوځو او بازارونو ته لاړ شه خواران، شل ګوډ
او ړاندهٔ راټول کړه او دلته يې راوله. ۲۲ نوکر ووئيل، صاحبه، ستا حکم په ځائ
کړے شو خو بيا هم ځائ شته. ۲۳ نو مالِک ورته ووئيل چې لاړ شه او لويو
لارو کوځو ته ووځه او خلق په مِنت سره راوله چې زما کور د دوئ نه ډک شی.
۲۴ خو دا درته وايم څوک چې اول رابللے شوی وُو په هغوئ کښې به يو تن هم
دا روټۍ ونهٔ څکی."

## د حضرت عيسىٰ د مريدی قيمت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ اوس چې يوه لويه ګڼه د عيسیٰ سره جوړه شوې وه، هغهٔ هغوئ ته مخ
راواړولو او ورته يې وفرمائيل، ۲۶ ”هغه څوک چې زما مريد جوړېدل غواړی نو
کهٔ هغه د خپل مور، پلار، ښځې، بچو، وروڼو، خوېندو او د خپل ځان نه زړهٔ
صبر نهٔ کړی نو هغه زما مريد جوړېدے نهٔ شی. ۲۷ او کوم سړے چې خپله
سولۍ په خپله نهٔ پورته کوی او په ما پسې نهٔ راځی، هغه زما مريد جوړېدے نهٔ
شی. ۲۸ ولې په تاسو کښې داسې څوک شته چې هغه يو برج جوړول غواړی او
د مخکښې نه به د خرچې اندازه ونهٔ لګوی چې په هغې يې سر ته رسولے شی او
کهٔ نه؟ ۲۹ ګنې کهٔ چرې هغهٔ د دې بنيادونه اېښی وی او بيا يې سر ته نهٔ شی
رسولے نو ټول ليدونکی به وريورې خندا ګانې کوی. ۳۰ هغوئ به وائی چې دهٔ
ته ګورئ چې کار يې شروع کړو او سر ته يې ونهٔ رسولو. ۳۱ يا کوم بادشاه به
داسې وی چې هغه به د بل بادشاه سره د جنګېدو نه وړاندې دا اندازه نهٔ لګوی
چې د لسو زرو کسانو سره زهٔ د هغه بادشاه مقابله کولے شم څوک چې د شلو
زرو کسانو سره په ما حمله کوی؟ ۳۲ او کهٔ هغه نهٔ شی کولے نو د حملې کولو
نه وړاندې به هغه خپله جرګه هغهٔ ته ورولېږی او د صُلح د شرطُونو به ورنه
خواست وکړی. ۳۳ هم دغه شان تاسو کښې يو کس هم تر هغې زما مريد
کېدے نهٔ شی ترڅو چې هغهٔ خپل ټول مال دولت ته شا کړې نهٔ وی.

## بې‌خونده مالګه

۳۴ مالګه ښهٔ څيز دے، خو کهٔ مالګه بې‌خونده شی، نو بيا به څنګه مالګينه شی؟
۳۵ بيا دا نهٔ په زمکه او نهٔ په ډېران پکارېږی، دا بس د عبث غورزولو ده. کهٔ
څوک د اورېدو غوږونه لری نو هغوئ دې واوری.“

## د ورکې شوې ګډې مِثال

۱۵ ۱ ټول محصولچيان او نور بدکاره خلق راغونډ وُو چې د عيسیٰ خبرې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوری. ۲ خو فریسیانو او د شرعي عالمانو په خپلو کښې غوربدل شروع کړل او داسې لګیا ؤو، "ګورئ دا سړے خو ګناهګارانو ته هرکلے وائی او ورسره خوراک هم کوی." ۳ نو عیسیٰ ورته دا مِثال تیر کړو، ۴ "کهٔ چرې په تاسو کښې د یو تن سل ګډې وی او یوه ترینه ورکه شی نو ولې هغه به دغه نورې یو کم سل تر هغې په تش مېدان پرې نهٔ ږدی ترڅو چې يې هغه ورکه شوې موندلې نهٔ وی؟ ۵ کله چې يې ومومی نو هغه به دا اوږو ته پورته کړی او خوشحالی به وکړی، ۶ او کله چې هغه کور ته واپس شی نو خپلو دوستانو او ګاونډیانو له به دعوت ورکړی او ورته به ووائی، ما سره زما په خوشحالۍ کښې شریک شئ. ځکه چې ما خپله ورکه شوې ګډه بیا ومونده. ۷ دغه شان زهٔ تاسو ته وایم چې په آسمان کښې هم دا رنګ د یو ګناه ګار په توبه ګار کېدو بېحسابه خوشحالی کیږی، په نسبت د هغه یو کم سلو صادقانو چې د توبې حاجت نهٔ لری.

## د ورکې شوې سیکې مِثال

۸ یا دا چې کهٔ د یوې ښځې سره لس د سپینو زرو سیکې وی او یوه ترینه ورکه شی. ولې هغه به ډیوه نهٔ بلوی، کور به نهٔ جارُو کوی او د کور ګوټ ګوټ به تر هغې نهٔ لټوی ترڅو چې يې هغه موندلې نهٔ وی؟ ۹ نو کله چې يې ومومی نو هغه به خپلې ملګرې او ګاونډیانې راوبلی او ورته به ووائی چې ما سره خوشحالی وکړئ ځکه چې ما خپله ورکه شوې سیکه بیا ومونده. ۱۰ زهٔ تاسو ته وایم چې د یو ګناه ګار په توبه کولو د خُدائ پاک په فرښتو کښې هم دغه شان خوشحالی کیږی."

## د ورک شوی زوئ مِثال

۱۱ عیسیٰ بیا وفرمائیل چې، "د یو سړی دوه زامن ؤو. ۱۲ نو کشر خپل پلار ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل، پلاره، زما برخه جائيداد ما له راکړه. نو پلار خپل جائيداد په هغوئ تقسيم کړو. ﴿١٣﴾ لږه موده پس هغه کشر زوئ خپل ټول جائيداد خرڅ کړو، پېسې يې پرې نغدې کړې او چرته لرې مُلک ته لاړو او هلته يې خپل مال په بدچلنۍ دوړه کړو، ﴿١٤﴾ کله چې هغهٔ هر څهٔ خرچ کړل نو په هغه مُلک کښې سخت قحط راغلو او هغه ضرورتمند شو، ﴿١٥﴾ نو بيا هغه په هم هغه مُلک کښې د يو زميندار سره نوکر شو نو زميندار هغه خپلو پټو ته ولېږلو چې خنزيرانو له د خوراک بندوبست وکړی. ﴿١٦﴾ د هغهٔ ډېر زړهٔ کېدو چې د هغه پوستکو نه ګېډه ډکه کړی کوم چې به خنزيرانو خوړل خو دهٔ ته د دې اجازت نهٔ وُو. ﴿١٧﴾ خو کله چې د هغهٔ عقل سر ته راغلو نو وې وئيل، زما د پلار ټولو نوکرانو سره د خپل ضرورت نه زيات خوراک شته او زهٔ دلته د لوږې مرم. ﴿١٨﴾ زهٔ به لاړ شم خپل پلار ته به ووايم چې، پلاره، ما د خُدائ پاک او ستا خلاف ګناه کړې ده. ﴿١٩﴾ نور زهٔ د دې قابل نهٔ يم چې زهٔ ستا زوئ وګڼلے شم، نو ما خپل ځان سره نوکر کړه. ﴿٢٠﴾ نو په دې نيت هغه پاڅېدو او د خپل پلار کور طرف ته روان شو. خو هغه لا ډېر لرې وو چې د پلار پرې نظر شو نو زړهٔ يې پرې درد وکړو او ورمنډه يې کړه او ورترغاړه وتو او ښکل يې کړو. ﴿٢١﴾ خو زوئ ووئيل، پلاره، ما د خُدائ پاک او ستا خلاف ګناه کړې ده. د دې نه پس زهٔ ستا د زوئ وئيلو قابل نهٔ يم. ﴿٢٢﴾ خو پلار يې خپلو نوکرانو ته ووئيل، زر شئ. زما د ټولو نه ښهٔ چُوغه راوړئ او دهٔ ته يې ورواغوندئ او ګوته ورپه لاس کړئ او څپلۍ ورپه پښو کړئ. ﴿٢٣﴾ زمونږ هغه ښُکلے او ځورب سخے راولئ او حلال يې کړئ او راځئ چې په شريکه خوشحالی وکړُو. ﴿٢٤﴾ ځکه چې زما دا مړ زوئ بيا راژوندے شو، دے خو ورک شوے وو او بيا موندے شو. او دغه شان هغوئ خوشحالی شروع کړه. ﴿٢٥﴾ نو په هم دې وخت کښې مشر زوئ يې په پټو کښې کار کولو کله چې کور ته واپس راروان شو نو په لار کښې د ساز او ګډا آوازونه د هغهٔ تر غوږه شُو. ﴿٢٦﴾ هغهٔ د خپل يو نوکر نه تپوس وکړو چې دا څهٔ مېله ده؟ ﴿٢٧﴾ نوکر ورته ووئيل، ستا ورور خپل کور ته راواپس شوے دے او ستا پلار هغهٔ ته ښکلے سخے حلال کړو ځکه چې هغه يې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روغ رمټ بیا موندلو. ۲۸ خو مشر زوئ يې غصه شو او کور ته د ننوتو نه يې
اِنکار وکړو. د هغهٔ پلار بهر راغلو او ورته يې مِنت زارى وکړه چې دننه راځه. ۲۹
خو هغهٔ ورته په جواب کښې ووئيل، دا دومره کالونه ما ستا لکه د غلام په شان
تابعدارى کړې ده او کله مې هم ستا د حُکم نه مخ نهٔ دے اړولے او تا ما له يو
چيلے هم نهٔ دے راکړے چې ما پرې خپلو دوستانو ته ميلمستيا کړے وے. ۳۰
خو چې اوس ستا دا زوئ راغلو چې ستا مال يې په کنجرو والوځولو نو تا هغهٔ ته
ښکلے سخے حلال کړو. ۳۱ نو پلار يې په جواب کښې ورته ووئيل، زما زويه،
تهٔ خو مدام ما سره يې او څهٔ چې زما دى هغه ټول ستا دى. ۳۲ نو مونږ ته څکه
خوشحالى او جشن کول په کار دى چې ستا دا مړ ورور اوس بيا راژوندے شو،
دے خو ورک وو او مونږ بيا وموندلو.“

## د بې‌ايمانه ناظر مِثال

**۱۶** ۱ بيا عيسىٰ خپلو مريدانو ته وفرمائيل چې، ”يو دولتمند سړى ته د هغهٔ
د ناظر په سر چا شکايت وکړو چې هغه ستا مال الوځوى. ۲ نو هغهٔ هغه
راوبللو او ورته يې ووئيل، دا ستا په حقله زهٔ څهٔ خبرې اورم؟ خپل حساب کِتاب
راوړه څکه چې د دې نه پس به تهٔ زما ناظر نهٔ يې. ۳ ناظر د ځان سره ووئيل،
زما دا نيک چې مې د نوکرۍ نه وباسى نو اوس به زهٔ څهٔ کوم؟ زهٔ خو دومره
تکړه نهٔ يم چې ختې لوټې وکړم او په خير غوښتلو هم شرمېږم. ۴ نو بيا اوس
زهٔ په دې پوهېږم چې څهٔ وکړم. چې کله مې دے د نوکرۍ نه وباسى نو زما ډېر
دوستان به زما مدد ته تيار وى. ۵ هغهٔ د خپل مالِک قرضدارى ځان ځان له
راوبلل او اول کس ته يې ووئيل چې زما د مالِک په تا څومره قرض دے؟ ۶
هغهٔ جواب ورکړو، د زيتُونو تيل تقريباً درې زره ليټره. هغهٔ ورته ووئيل چې خپل
بِل دې واخله او زر کښېنه او څلور سوه يې وليکه. ۷ بيا يې بل ته ووئيل، او په
تا څومره قرض پاتې دے؟ هغهٔ ورته ووئيل، سل بورى غنم. هغهٔ ورته ووئيل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل بِل دې واخله او اتيا بورى وليکه. ⑧ او مالِک د خپل بےايمانه ناظر د دې هوښيارتيا ستائينه وکړه، ځکه چې د دې پيړۍ خلق په خپلو کښې په لېن دېن کولو کښې د ايماندارانو نه زيات هوښيار دى. ⑨ نو ځکه زهٔ تاسو ته وايم چې د دُنيا په مال دولت خپل ځان له دوستان جوړ کړئ نو چې کله مال دولت درنه لاړ شى نو دا خلق به تاسو په ابدى کور کښې قبول کړى. ⑩ کوم سړے چې په لږ کار کښې ديانتداره وى، هغه به په غټ کار کښې هم ديانتداره وى او کوم سړے چې په لږ کښې بدديانته وى، هغه به په ډېرو کښې هم بدديانته وى. ⑪ نو کهٔ چرې تاسو ځان د دې دُنيا په دولت کښې ديانتداره ثابت نهٔ کړو نو په حقيقى دولت کښې به په تاسو باندې څوک اِعتبار وکړى؟ ⑫ او کهٔ چرې تاسو په پردى مال دولت کښې ځان بدديانته ثابت کړے وى نو بيا به داسې څوک وى چې تاسو له به خپل مال دولت درکړى؟ ⑬ يو غلام هم د دوو مالِکانو خِدمت نهٔ شى کولے، ځکه چې يا خو به هغه د يو نه نفرت کوى او د بل سره مينه، او يا به هغه د يو وفادار وى او د بل نه به کرکه کوى. تاسو د خُدائ پاک او د مال دولت دواړو يو ځائ خِدمت نهٔ شئ کولے.“

## شريعت او د خُدائ بادشاهت

⑭ او فريسيان څوک چې په مال مئين وُو هغوئ چې دا خبرې واورېدلې نو په عيسىٰ پورې يې خندا وکړه. ⑮ عيسىٰ ورته وفرمائيل، ”هم تاسو خلق خپل اولس په دې دوکه کوئ چې ګنې تاسو صادقان يئ خو خُدائ پاک ستاسو زړونه پېژنى. ځکه چې کوم څيزونه چې د خلقو په نظر کښې د صِفت وى، هغه د خُدائ پاک په نظر کښې پليت وى. ⑯ د يحيىٰ تر وخته د شريعت او نبيانو سلسله جارى وه. د دې نه پس د خُدائ پاک د بادشاهۍ د زيرى بيان اورولے شو نو د هر چا زړهٔ وو چې په هغې کښې داخل شى. ⑰ د زمکې او آسمان ختمېدل د شريعت نه د يو حرف يا زبر قدرې ورانولو په نسبت آسان کار دے. ⑱ کوم سړے چې خپله ښځه طلاقه کړى او د بلې سره وادهٔ وکړى نو هغه زنا کوى او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه سړے څوک چې د طلاقې شوې ښځې سره واده وکړی نو هغه هم زنا کوی.

## مالداره سړے او لعزر

۱۹ یو مالداره سړے وو چې کاسنی او د نرم کتان جامې یې اچولې او هره ورځ به یې ډېر په شان شوکت خلقو له دعوتونه ورکول. ۲۰ او یو عاجز سړے چې نوم یې لعزر وو او په وجود یې ډیرې دانې راختلې وې، د هغهٔ په دروازه کښې پروت وو. ۲۱ او هغه به د هغه ټوکړو خوړلو په طمع وو کومې به چې د دې مالداره سړی دسترخوان نه پاتې شوې وې، بلکې سپی به هم راتلل او د هغهٔ زخمونه به یې څټل. ۲۲ آخر یوه ورځ هغه عاجز سړے مړ شو او فرښتو یوړو او د اِبراهیم په غېږ کښې یې واچولو. هغه مالداره سړے هم مړ شو او ښخ کړے شو، ۲۳ او په عالمِ ارواح کښې چرته چې هغه په عذاب وو، هغهٔ چې پورته وکتل نو لرې یې لعزر د اِبراهیم په غېږ کښې ولیدلو. ۲۴ هغهٔ چغې کړې، اے پلاره، اِبراهیمه. په ما رحم وکړه. دا لعزر راولېږه چې خپل د ګوتې سر په اوبو کښې لوند کړی چې زما ژبه پرې یخه کړی ځکه چې زهٔ په دې اور کښې ډېر په عذاب یم. ۲۵ خو اِبراهیم ورته وفرمائیل چې، هغه وخت یاد کړه زویه. په دُنیا کښې ټول نعمتونه ستا په نصیب وُو او ټولې بدبختئ د لعزر په نصیب وې. اوس هغه دلته په آرام دے او تهٔ په عذاب کښې یې. ۲۶ خو بله خبره دا ده چې زمونږ او ستا تر مینځه یوه لویه کنده ده چې د هغې نه نهٔ څوک پورې وتلے شی او نهٔ ترینه څوک دېخوا راتلے شی. ۲۷ مالداره سړی جواب ورکړو چې بیا نو پلاره، زهٔ درته زاری مِنت کوم چې تهٔ دے زمونږ کور ته ولېږه ۲۸ چرته چې زما پینځهٔ وروڼه دی چې هغوئ خبرداره کړی، هسې نه چې هغوئ هم په دې عذاب کښې ګېر شی. ۲۹ خو اِبراهیم ورته وفرمائیل چې د هغوئ سره موسیٰ او نور نبیان شته، په کار دی چې دوئ هغوئ ته غوږ ونیسی. ۳۰ خو هغهٔ جواب ورکړو چې، نه، پلاره اِبراهیمه. کهٔ د مړو نه څوک هغوئ ته لاړ شی نو هغوئ به هله توبه ګار شی. ۳۱ اِبراهیم جواب ورکړو، کهٔ چرې هغوئ د موسیٰ او د نورو نبیانو خبرو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته غوږ نهٔ ږدی نو کهٔ څوک د قبر نه ورپاڅی هم نو هغوئ به پرې باور ونهٔ کړی.“

## د حضرت عيسیٰ يو څو خبرې

۱۷ ۱ عيسیٰ خپلو مريدانو ته وفرمائيل، ”تيندکونه به خامخا راځی خو چې
د چا د لاسه دا راځی، د هغوئ په حال افسوس دے. ۲ د هغهٔ دپاره به دا ښهٔ
وی چې د هغهٔ په غاړه کښې د ژرندې پل واچولے شی او په درياب کښې
وغورزولے شی، په ځائ د دې چې په دې وړو کښې يو له هم تيندک ورکړی.
۳ خبردار اوسئ. کهٔ چرې ستاسو ورور څهٔ ګناه وکړی نو وې رټئ او کهٔ هغه
پښيمانه شی نو وې بخښئ. ۴ او کهٔ چرې هم هغه په ورځ کښې اووهٔ ځله ستا
خلاف ګناه وکړی او بيا اووهٔ ځله درله راشی او داسې ووائی چې زهٔ توبه کوم نو
تهٔ يې معاف کړه.“ ۵ مريدانو مالِک ته ووئيل چې، ”زمونږ ايمان قوی کړه.“
۶ نو مالِک ورته جواب ورکړو، ”کهٔ چرې ستاسو ايمان د شړشمو د دانې
هومره هم وی نو کهٔ تاسو د تُوت دې ونې ته ووايئ چې د بېخه ووځه او په سمندر
کښې لاهو شه، نو دا به ستاسو حُکم ومنی. ۷ کهٔ چرې د يو کس نوکر د يوې
او ګېډو څرولو نه راواپس شی، نو ولې د هغهٔ نېک به ورته دا وائی چې زر راشه او
ما سره روټئ ته کښېنه؟ ۸ نه، هغه به ورته دا وائی چې زما روټئ تياره کړه،
ملا ترلے ودرېږه او زما خِدمت کوه. او تهٔ به زما نه وروستو روټئ وخورې. ۹
ولې هغه به د هغه نوکر شُکر ګزاری ونهٔ کړی چې د دهٔ حکم يې منلے وو؟ ۱۰
دغه شان کله چې تاسو هغه هر څهٔ چې تاسو ته يې حکم شوے دے پوره کړئ نو
بيا تاسو ته داسې وئيل په کار دی چې مونږ د تعريف قابل نوکران نهٔ يُو خو مونږ
صرف خپل فرض پوره کړو.“

## د لسو جذاميانو روغول

۱۱ کله چې عيسیٰ يروشلم ته روان وو نو هغه د سامريه او د ګليل تر مينځه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تېرېدلو. ⑫ کله چې هغه یو کلی ته ورسېدو نو لس جذامیان یې هلته ولیدل.
هغوئ په څۀ فاصله کښې ولاړ وُو، ⑬ او عیسیٰ ته یې نعرې کړې، ”اے مالِکه،
په مونږ رحم وکړه.“ ⑭ هر کله چې هغۀ هغوئ ولیدل نو ورته یې وفرمائیل، ”لاړ
شئ او خپل ځانونه اِمامانو ته وښایئ.“ او کله چې هغوئ لا په لاره روان وُو نو
هغوئ پاک کړے شول. ⑮ نو په هغوئ کښې چې یو تن خپل ځان روغ ولیدلو
نو واپس شو او په چغو چغو یې د خُدائ پاک ثناء ووئیله. ⑯ هغه د عیسیٰ په
پښو کښې پرېوتو او د هغۀ شکریه یې ادا کړه. او هغه یو سامرى وو. ⑰ بیا
عیسیٰ وفرمائیل چې، ”ولې لس واړه پاک نۀ کړے شوئ؟ نو هغه نور نهۀ څۀ
شول؟ ⑱ بې له دې یو مسافر نه بل یو هم داسې نۀ وو چې واپس راغلے وے او
د خُدائ پاک ثناء یې وئیلے وے؟“ ⑲ او عیسیٰ هغه سړى ته وفرمائیل، ”پاڅه
او لاړ شه، خپل ایمان تۀ جوړ کړې.“

## د خُدائ پاک د بادشاهئ راتلل

⑳ فریسیانو د عیسیٰ نه تپوس وکړو چې، ”د خُدائ پاک بادشاهى به کله
راځى؟“ هغۀ وفرمائیل چې، ”تاسو د نښو په لیدلو دا نۀ شئ وئیلے چې د خُدائ
پاک بادشاهى به کله راځى. ㉑ نۀ څوک داسې وئیلے شى چې گورئ هغه دلته
ده. یا هلته ده. ځکه چې په حقیقت کښې د خُدائ پاک بادشاهى ستاسو په مینځ
کښې ده.“ ㉒ بیا عیسیٰ مریدانو ته وفرمائیل چې، ”داسې وخت به راشى چې
تاسو به د اِبن آدم د راتلو په طمع یئ خو تاسو به یې لیدلے نۀ شئ. ㉓ خلق به
تاسو ته وائى چې گورئ هغه هلته دے یا دلته دے، خو هلته مۀ ځئ او مۀ هغوئ
پسې منډې وهئ. ㉔ لکه څنگه چې برېښنا د آسمان د یو سر نه تر بله سره
پورې رسى، دغه شان به د اِبن آدم راتلل وى. ㉕ خو اول به هغه خامخا ډېر
مصیبت وزغمى او دا پیړۍ به یې رد کړى ㉖ لکه څنگه چې د نوح په زمانه
کښې شوى وُو، هم هغه شان به د اِبن آدم د راتلو په ورځو کښې وشى. ㉗
هغوئ تر هغې ورځې پورې خوړل څښل او ودونه یې کول ترڅو چې نوح خپلې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کشتۍ ته ننوتو او سېلاب راغلو او هغوئ ټول يې غرق کړل. ۲۸ او لکه څنګه
چې د لوط په زمانه کښې شوی وُو هغوئ هم خوړل څښل او سوداګرى يې کوله
او بوټى يې کَرل او ودانۍ يې کولې. ۲۹ خو په کومه ورځ چې لوط د سدوم نه
ووتلو نو د آسمان نه اور او ګوګړ ورېدل شروع شول او دوئ يې ټول تباه کړل.
۳۰ دغه شان به د اِبن آدم د راتلو په ورځ هم وى. ۳۱ په هغه ورځ هر څوک چې
د چت دپاسه وى او سامان يې ښکته وى نو هغه دې د سامان اوچتولو دپاره
هيڅکله هم ښکته نۀ راکوزيږى او هم دغه شان څوک چې په پټى کښې وى هغه
دې کور ته نۀ واپس کيږى. ۳۲ د لوط ښځه رايادة کړئ. ۳۳ څوک چې خپل
ځان ساتل غواړى هغه به يې بائيلى، خو څوک چې ځان بائيلى، هغه به يې وساتى.
۳۴ زۀ تاسو ته وايم چې په هغه شپه به په يو کټ کښې دوه کسان وى، يو به
واخستلے شى او بل به پرېښودلے شى. ۳۵ او دوه ښځې به يو ځائ مېچن
کوى، يوه به واخستلے شى او بله به پرېښودلے شى. ۳۶ دوه سړى به په پټى
کښې وى، يو به واخستلے شى او بل به پرېښودلے شى.“ ۳۷ هغوئ چې دا
واورېدل نو تپوس يې وکړو، ”دا به چرته وى مالِکه؟“ عيسىٰ ورته وفرمائيل،
”چرته چې مرداره وى هلته به تپوسان راټوليږى.“

## د يوې کونډې او د يو قاضى مِثال

**۱۸** ۱ بيا عيسىٰ مريدانو ته يو مِثال ووئيلو، او ورته يې دا وښودل چې هغوئ
دې ضرور بار بار دُعا غواړى او زړۀ دې نۀ بائيلى. ۲ نو هغۀ وفرمائيل چې،
”په يو ښار کښې يو قاضى وو چې نۀ ورسره د خُدائ پاک يره وه او نۀ يې د
خلقو پرواه کوله. ۳ او هم په دغه ښار کښې يوه کونډه وه چې هغه به بيا بيا
هغۀ له راتله او ورته به يې وئيل چې زما د مخالفينو او زما تر مينځه اِنصاف
وکړه. ۴ ډېره موده هغۀ اِنکار کولو خو آخر يې په زړۀ کښې ووئيل، حقه خو دا
ده چې زۀ نۀ خو د خُدائ پاک نه يرېږم او نۀ د خلقو پرواه کوم، ۵ خو اوس
دا کونډه زما دپاره داسې بلا جوړه شوې ده او زۀ به د دې حق دې له ورکړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هسي نۀ چې په بار بار راتلو ما تر پوزې راولی.“ ⁦۶⁩ بيا مالِک عيسیٰ وفرمائيل،
”تاسو دې بې‌اِنصافه قاضی ته غوږ شئ چې دۀ څۀ ووئيل. ⁦۷⁩ نو ولې خُدائ
پاک به د خپلو غوره شوو دُعا نۀ اوری څوک چې ورته شپه او ورځ زاری او
مِنت کوی؟ ولې هغه به د دوئ په مدد کولو کښې ډېر وخت ولګوی؟ ⁦۸⁩ زۀ
تاسو ته وايم، هغه به ډېر زر د هغوئ سره اِنصاف وکړی. خو کله چې اِبن آدم
دوباره راشی، نو ولې هغه به څوک ايماندار په زمکه پيدا کړی؟“

## د فريسی او يو محصولچی مِثال

⁦۹⁩ عيسیٰ هغه خلقو ته هم چې په خپل ځان يې باور کولو چې مونږ صادقان يُو
او نور يې سپک ګڼل، دا مِثال ووئيلو، ⁦۱۰⁩ ”دوه سړی د دُعا دپاره د خُدائ کور
ته لاړل، يو فريسی وو او بل محصولچی. ⁦۱۱⁩ فريسی ودرېدو او داسې دُعا يې
شروع کړه، اے خُدايه پاکه، ستا شُکر دے چې زۀ د نورو خلقو په شان نۀ خو
دوکه مار، نۀ بې‌ايمانه، نۀ زناکار او نۀ لکه د هغه محصولچی په شان يم. ⁦۱۲⁩ زۀ
په هفته کښې دوه روژې نيسم او څۀ چې ګټم خُدائ پاک ته د هغې نه لسمه
ورکوم. ⁦۱۳⁩ خو محصولچی لرې ولاړ وو او پاس آسمان ته يې نۀ کتل او خپله
سينه يې وهله او وئيل يې، اے خُدايه پاکه، په ما رحم وکړه، زۀ ستا ګناه ګار يم.
⁦۱۴⁩ زۀ تاسو ته وايم چې هم دا سړے د هغه اولنی سړی نه زيات صادق کور ته
واپس لاړو، ځکه هر څوک چې ځان اوچتوی، هغه به عاجز کړے شی او څوک
چې ځان عاجز کړی، هغه به اوچت کړے شی.“

## ماشومانو له برکت ورکول

⁦۱۵⁩ خلقو عيسیٰ له خپل ماشومان راوستل چې د برکت دپاره لاس پرې کېږدی.
کله چې مريدانو دوئ وليدل نو وې رټل. ⁦۱۶⁩ خو عيسیٰ هغه ماشومان راوبلل او
وې فرمائيل، ”ماشومان ما ته راپرېږدئ، دوئ مۀ منع کوئ ځکه چې د خُدائ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک بادشاهی هم د داسې خلقو ده. ﴿۱۷﴾ زهٔ تاسو ته رښتیا وایم، هر څوک چې د خُدائ پاک بادشاهی لکه د ماشوم قبوله نهٔ کړی، هغوئ به هیڅکله په دې کښې داخل نهٔ شی.“

## یو مالدار حاکِم

﴿۱۸﴾ یو حاکِم د عیسیٰ نه دا تپوس وکړو، ”اے نېکه اُستاذه. داسې څهٔ وکړم چې د تل ژوندون وارث شم؟“ ﴿۱۹﴾ عیسیٰ هغهٔ ته وفرمائیل، ”تهٔ ما ته نېک ولې وائې؟ د خُدائ پاک نه بغیر بل هیڅوک نېک نشته. ﴿۲۰﴾ تا ته د شریعت حُکمونه خو معلوم دی، زنا مهٔ کوه، قتل مهٔ کوه، غلا مهٔ کوه، د دروغو ګواهی مهٔ کوه او د خپل مور پلار عزت کوه.“ ﴿۲۱﴾ حاکِم جواب ورکړو چې، ”ما د ځوانئ نه په دې هر څهٔ عمل کړے دے.“ ﴿۲۲﴾ د دې په اورېدو عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ”په تا کښې اوس هم د یو څیز کمے دے. لاړ شه، خپل ټول مال حال خرڅ کړه او خوارانو له یې ورکړه، نو بیا به تهٔ د آسمان خزانې ومومې. بیا راځه، او ما پسې شه.“ ﴿۲۳﴾ په دې خبرو د حاکِم زړهٔ په ډوبېدو شو ځکه چې هغه ډېر مالداره سړے وو. ﴿۲۴﴾ عیسیٰ چې د هغهٔ حالات ولیدل نو وې فرمائیل، ”د مالداره دپاره د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې داخلېدل څومره ګران کار دے. ﴿۲۵﴾ د یو مالداره سړی په نسبت د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې داخلېدل د یو اوښ دپاره د ستنې په سوری کښې تېرېدل آسان دی.“ ﴿۲۶﴾ چا چې دا واورېدل نو تپوس یې وکړو، ”نو څوک به بیا خلاصون ومومی؟“ ﴿۲۷﴾ عیسیٰ جواب ورکړو، ”څهٔ چې د بنی آدم دپاره نامُمکنه وی هغه خُدائ پاک ته ممکن وی.“ ﴿۲۸﴾ پطروس ووئیل، ”وګوره مونږ خپل کورونه پرېښی دی چې په تاسو پسې روان شو.“ ﴿۲۹﴾ عیسیٰ وفرمائیل، ”زهٔ تاسو ته دا وایم چې چا چې د خُدائ پاک د بادشاهۍ دپاره خپل کور، خپله ښځه، خپل ورونه، خپل مور پلار او خپل بچی پرېښی دی ﴿۳۰﴾ نو هغه به په دې دُنیا کښې په څو چنده ومومی او په آخر کښې به د تل ژوندون بیا مومی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په دریم ځل د حضرت عیسیٰ د خپل مرګ او د بیا ژوندی کېدلو په حقله پیشګوئي

۳۱ عیسیٰ دولس مریدان ځان له کړل او ورته يې وفرمائیل، "مونږ اوس یروشلم
ته ځو او د اِبن آدم په حق کښې هر څۀ چې د نبیانو په وسیله لیکلے شوی دی،
هغه به پوره شی. ۳۲ هغه به غېریهودیانو ته حواله کړے شی، هغوئ به په هغۀ
پورې ټوقې وکړی او بد سلوکی به ورسره وکړی او توکانړې به پرې وتوکی. ۳۳
هغوئ به يې په کوړو ووهی او مړ به يې کړی او په دریمه ورځ به هغه بیا ژوندے
راپاڅی." ۳۴ خو هغوئ په دې هیڅ ونۀ رسېدل او څۀ چې وئیلے شوی وُو،
مطلب يې د هغوئ نه پټ وو ځکه چې هغوئ يې په مطلب نۀ پوهېدل.

## په یریحو کښې د یو ړوند سړی بینا کول

۳۵ کله چې عیسیٰ یریحو ته نزدې شو نو یو ړوند سړے د لارې په غاړه ناست
وو او خیر يې غوښتو. ۳۶ هغۀ چې د ګڼو خلقو د تېرېدو آوازونه واورېدل نو
تپوس يې وکړو چې، "دا څۀ چل دے؟" ۳۷ هغوئ خبر کړو چې، "عیسیٰ
ناصری په دې لاره تېرېږی." ۳۸ نو هغۀ چغې کړې، "اے عیسیٰ د داؤد زویه، په
ما رحم وکړه." ۳۹ مخکښې چې کوم خلق روان وُو، هغوئ ورته په سخته ووئیل
چې، "چپ شه." خو هغۀ چغې لا نورې هم زیاتې کړې چې، "اے د داؤد زویه. په
ما رحم وکړه." ۴۰ عیسیٰ ودرېدلو او خلقو له يې حُکم ورکړو چې، "دے ما له
راولئ." کله چې هغه نزدې راغے نو تپوس يې ترې وکړو، ۴۱ "تۀ څۀ غواړې
چې زۀ يې ستا دپاره وکړم؟" هغۀ ووئیل، "مالِکه، زۀ خپل نظر غواړم." ۴۲
عیسیٰ هغۀ ته وفرمائیل چې، "بینا شه، تۀ خپل ایمان بچ کړې." ۴۳ نو سمدستی
هغه بینا شو او په هغۀ پسې روان شو. او د خُدائ پاک ثنا يې وئیله. او ټولو خلقو
چې دا ننداره ولیده نو د خُدائ پاک ثنا يې ووئیله.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت عیسیٰ او زکایٔ

١٩ ﴿١﴾ بیا عیسیٰ یریحو ته ننوتو او د ښار په مینځ کښې تېرېدو. ﴿٢﴾ هلته
زکایٔ نومې یو سړے وو. دے د محصولچیانو سردار او ډېر مالداره وو. ﴿٣﴾ د
هغهٔ دا تلوسه وه چې عیسیٰ به څنګه سړے وی، خو په قد مندرے وو او د ګڼو
خلقو له وجې یې هغه لیدلے نهٔ شو. ﴿٤﴾ نو هغهٔ د خلقو نه وړاندې منډه کړه او
یوې تیتې ونې ته وختلو چې هغه ووینی، ځکه چې عیسیٰ هم په دغه طرف روان
وو. ﴿٥﴾ او کله چې عیسیٰ هغه ځائ ته راورسېدو نو پورته یې وکتل او وې
فرمائیل چې، "اے زکایه، زر راکوز شه. زهٔ ضرور نن ستا کور کښې مېلمه
کېږم." ﴿٦﴾ نو هغه زر راکوز شو او ډېر په خوشحالۍ یې ورته هرکلے ووئیلو.
﴿٧﴾ نو خلقو چې دا ولیدل نو ټول ځان سره وغورېدل او وې وئیل، "هغه د یو
ګناه ګار سړی کور ته ورغلو چې ورسره مېلمه شی." ﴿٨﴾ خو زکایٔ ودرېدو او
مالِک ته یې ووئیل، "مالِکه، زهٔ خپل نیم مال خوارانو له ورکوم او کهٔ ما له چا نه
په دوکه باندې څهٔ اخستی وی نو هغهٔ له به یو په څلور واپس ورکړم." ﴿٩﴾ عیسیٰ
هغهٔ ته وفرمائیل چې، "هم نن دې کور ته نجات راغلے دے ځکه چې دے هم د
اِبراهیم زوئ دے. ﴿١٠﴾ ځکه چې اِبن آدم دې له راغلے دے چې ورک شوی
ولټوی او بچ یې کړی."

## د لسو سیکو مثال

﴿١١﴾ د هغوئ لا دې ته غوږ وو چې عیسیٰ ورته یو مِثال ووئیلو ځکه چې هغه اوس
یروشلم ته رانزدې وو او د هغوئ دا ګُمان وو چې د خُدائ پاک بادشاهی اوس زر
په ښکاره کېدو ده. ﴿١٢﴾ هغهٔ وفرمائیل، "د یو لوئ خاندان یو سړے په اوږد سفر
یو بل مُلک ته لاړو د دې دپاره چې هغه بادشاهت حاصل کړی او بیا واپس
راشی. ﴿١٣﴾ خو اول هغهٔ خپل لس نوکران راوبلل او هر یو ته یې په دې وینا د
سرو زرو یوه یوه سیکه ورکړه چې دوئ پرې سوداګری کوی ترڅو چې زهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راواپس نۀ شم. ﴿۱۴﴾ خو د خپل مُلک خلقو ورسره کينه کوله او په هغۀ پسې يې يوه جرګه ولېږله چې، مونږ دا سړے خپل بادشاه کېدل نۀ غواړو. ﴿۱۵﴾ خو بيا هم هغه د بادشاه په حيثيت واپس راغلو او کومو نوکرانو ته چې يې پېسې ورکړې وې هغوئ ته يې سوال جواب ولېږلو چې دا معلومه کړی چې په دوئ کښې هر يو څومره ګټه کړې ده. ﴿۱۶﴾ وړومبے راغے او وې وئيل، صاحبه، ستا د سرو زرو سيکې لس نورې ګټلې دی. ﴿۱۷﴾ هغۀ جواب ورکړو، شاباش، تۀ ډېر ښۀ نوکر يې. ځکه چې تا په لږو کښې خپل ځان ايمانداره ثابت کړو، تۀ د لسو ښارونو حاکِم شوې. ﴿۱۸﴾ بيا دوېم راغلو او وې وئيل چې، مالِکه، ستا د سرو زرو سيکو پينځۀ نورې ګټلې دی. ﴿۱۹﴾ او هغۀ ته يې ووئيل چې، تۀ هم د پينځو ښارونو حاکِم شوې. ﴿۲۰﴾ بيا بل نوکر راغلو او وې وئيل، مالِکه، دا ستا د سرو زرو سيکه ده. ما دا په رومال کښې انغښتې وه او سمباله کړې مې وه. ﴿۲۱﴾ زۀ ستا نه يرېدم ځکه چې تۀ يو ظالم سړے يې. هغه څۀ اخلې څۀ چې ستا نۀ وی او هغه څۀ رېبې کوم چې تا کَرلی نۀ وی. ﴿۲۲﴾ هغۀ جواب ورکړو، اے بد تميزه. زۀ به هم ستا په خولۀ تا سره اِنصاف وکړم. تا ته دا معلومه وه چې زۀ يو سخت سړے يم او هغه څۀ حاصلوم چې کوم ما نۀ وی ورکړی او هغه څۀ رېبم چې کوم ما نۀ وی کَرلی؟ ﴿۲۳﴾ نو بيا تا ولې زما د سرو زرو سيکه د صرافانو سره نۀ ده اېښې چې بيا ما په واپسۍ کښې سره د ګټې اخستے وے. ﴿۲۴﴾ هغۀ حاضرينو ته مخ راواړولو او وې وئيل چې، دغه د سرو زرو سيکه د دۀ نه واخلئ او هغۀ له يې ورکړئ چې د چا سره چې لس دی. ﴿۲۵﴾ هغوئ جواب ورکړو چې مالِکه، د هغۀ سره خو د اول نه لس دی. ﴿۲۶﴾ هغۀ هغوئ ته وفرمائيل، زۀ تاسو ته دا وايم چې د چا سره چې څۀ وی هغۀ ته به نور هم ورکړے شی تر دې چې ورسره لا نور زيات شی، خو د چا سره چې څۀ نۀ وی د هغۀ نه به هغه څۀ هم واخستلے شی کوم چې ورسره وی. ﴿۲۷﴾ خو زما هغه دشمنانو چې زۀ بادشاه کېدل نۀ غوښتم، هغوئ راولئ او زما په وړاندې يې قتل کړئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په يروشلم کښې د عيسىٰ کاميابه استقبال

(۲۸) د دې خبرو کولو نه پس عيسىٰ خپلو مريدانو نه مخکښې يروشلم ته روان
وو. (۲۹) هر کله چې هغه بيتِ‌فګے او بيتِ‌عنياه ته ورنزدې شو کوم چې د زيتُونو
په غرۀ ودان دى نو هغۀ دوه مريدان د دې هداياتو سره ولېږل چې، (۳۰) ”دې
مخامخ کلى ته ورشئ نو چې څنګه ورننوځئ نو تاسو به يو کوچانے تړلے
ومومئ چې تر اوسه پرې هيچا لا سورلى نۀ ده کړې. هغه پرانيزئ او دلته يې
راولئ. (۳۱) او کۀ څوک درنه دا تپوس وکړى چې تاسو دا کوچانے ولې پرانيزئ
نو ورته ووايئ چې زمونږ د مالِک په کار دے.“ (۳۲) دواړه په مخه لاړل او هم هغه
شان يې ومونده لکه چې عيسىٰ ورته فرمائيلى وُو. (۳۳) او کله چې هغوئ
کوچانے پرانستو نو د دې مالِکانو ترينه تپوس وکړو چې، ”تاسو دا کوچانے ولې
پرانيزئ؟“ (۳۴) هغوئ جواب ورکړو چې، ”دا زمونږ د مالِک په کار دے.“ (۳۵)
او هغوئ کوچانے عيسىٰ له راوستو، بيا هغوئ په کوچانى باندې خپلې جامې
واچولې او عيسىٰ وربانديې سورلى وکړه. (۳۶) کله چې هغه په لاره تېرېدو نو
خلقو ورته په لار کښې خپلې جامې غوړولې. (۳۷) اوس څۀ وخت چې هغه د
زيتُونو د غرۀ نه مخ په کوزېدو وو نو ټولو ملګرو او مريدانو يې په هغه ټولو عجيبه
معجزو چې هغوئ ليدلى وې د خُدائ پاک ثنا ووئيله. (۳۸) ”مبارک دے هغه
راتلونکے بادشاه چې د مالِک خُدائ په نامه راځى. سلامتى دې وى په آسمان
کښې او جلال دې وى په اوچت آسمان کښې.“ (۳۹) ځينو فريسيانو په دې ګڼه
کښې عيسىٰ ته ووئيل، ”اُستاذه، خپلو مريدانو ته ووايه چې غلى شى.“ (۴۰) عيسىٰ
جواب ورکړو، ”زۀ تاسو ته وايم کۀ چرې هغوئ غلى پاتې شى نو کاڼى بوټى به په
چغو سر شى.“

## د حضرت عيسىٰ د يروشلم په حال ژړل

(۴۱) هر کله چې هغه نزدې راغلو، ښار يې وليدلو نو هغۀ په دې باندې وژړل، (۴۲)



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او وې فرمائيل، "کهٔ چرې نن ورځ تا ته دا معلومه وے چې کومه د خير لاره ده،
خو نه، دا ستا د نظر نه پټه ده. ۴۳ يو وخت به په تا داسې راشي چې ستا
دشمنان به ستا محاصره وکړی، هغوئ به ستا نه چاپير شی او د هرې خوا نه به
دې راګېر کړی. ۴۴ نو تاسو به سره د خپلو بچو يو ځائ په زمکه راګزار کړی
او ستا يو کاڼے به هم د بل کاڼی دپاسه پرې نهٔ ږدی ځکه چې تاسو د خُدائ د
خلاصون هغه مقرر وخت ونهٔ پېژندلو."

## د خُدائ پاک کور پاکول

۴۵ عيسیٰ بيا د خُدائ کور ته ورننوتو او هغهٔ هغه ټول خلق چې د خُدائ په کور
کښې يې سوداګری کوله، وشړل ۴۶ او ورته يې وفرمائيل، "صحيفې فرمائی
چې، "زما کور به د دُعا کور بللے شی." خو تاسو ترېنه د ډاکوانو اډه جوړه
کړې ده." ۴۷ د خُدائ په کور کښې به هره ورځ عيسیٰ تعليم ورکولو. او مشران
اِمامان او د شرعې عالمان د دهٔ د وژلو په تلاش کښې وُو چې د اولسی مشرانو
مرسته هم ورسره وه. ۴۸ خو هغوئ په دې کښې بې‌وسه وُو، ځکه چې د خلقو د
عيسیٰ په خبرو يقين وو.

## د حضرت عيسیٰ د اختيار په حقله تپوس

۲۰ ۱ يوه ورځ چې عيسیٰ د خُدائ په کور کښې خلقو له تعليم ورکولو او
ورته يې زيرے اورولو نو مشران اِمامان، د شرعې عالمان او د قوم مشران ورله
راغلل. ۲ او هغوئ ورته ووئيل، "مونږ ته ووايه چې تهٔ دا کارونه په کوم اختيار
کوې؟ او دا اختيار تا له چا درکړے دے؟" ۳ عيسیٰ هغوئ له جواب ورکړو،
"زهٔ هم ستاسو نه يو تپوس کوم، تاسو يې جواب راکړئ ۴ چې د يحيیٰ بپتسمه
د آسمان د طرف نه وه او کهٔ د انسان؟" ۵ په دې هغوئ د يو بل سره په بحث
شول چې، "کهٔ چرې مونږ ووايو چې د آسمان نه، نو هغه به راته ووائی چې بيا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو په هغهٔ ایمان ولې رانهٔ وړو؟ ۶ خو کهٔ چرې مونږ ووایو چې د انسانانو د طرف نه وه، نو ټول خلق به مونږ سنګسار کړی ځکه چې هغوئ دا منی چې یحیئ نبی وو.“ ۷ نو هغوئ جواب ورکړو چې، ”مونږ خبر نهٔ یُو.“ ۸ نو عیسیٰ ورته وفرمائیل، ”بیا به زهٔ هم دا درته ونهٔ وایم چې زهٔ په کوم اختیار دا کارونه کوم.“

## د انګورو باغ او د باغوانانو مِثال

۹ نو بیا عیسیٰ خلقو ته دا مِثال تیر کړو چې، ”یو زمیندار وو چې د انګورو باغ یې ولګولو، او زمیندارانو له یې په اجاره ورکړو او یو بل مُلک ته د ډیرې مودې دپاره لاړو. ۱۰ کله چې موسم راغلو نو هغهٔ یو نوکر اجاره دارو له ورولیږلو چې د هغوئ نه د هغهٔ د انګورو د پېداوار برخه وصول کړی خو زمیندارو هغه بنهٔ ووهلو او خالی لاس یې واپس ولیږلو. ۱۱ هغهٔ بیا بل نوکر ورولیږلو خو هغوئ هغه هم ووهلو او بې‌عزته یې کړو، او تش لاس یې واپس ولیږلو. ۱۲ هغهٔ بیا دریم سړے ورولیږلو خو هغه یې هم زخمی کړو، او بهر یې وغورزولو. ۱۳ بیا د انګورو د باغ مالِک ووئیل چې اوس ما له څهٔ کول په کار دی؟ زهٔ به خپل خوږ زوئ ورولیږم. شاید چې د دهٔ خاطر وکړی. ۱۴ خو هر کله چې اجاره دارو هغه ولیدو نو یو بل ته یې ووئیل، دا د باغ وارث دے، راځئ چې مړ یې کړو او میراث به یې مونږ ته پاتې شی. ۱۵ نو اجاره دارو هغه د انګورو د باغ نه بهر وغورزولو او مړ یې کړو. نو بیا تاسو دا ووایئ چې د انګورو د باغ مالِک به د هغوئ سره څهٔ وکړی؟ ۱۶ هغه به راشی او دا ټول اجاره دار به مړهٔ کړی او د انګورو باغ به بل چا له ورکړی.“ هر کله چې هغوئ دا واورېدل نو وې وئیل، ”خُدائ مهٔ کړه.“ ۱۷ خو عیسیٰ ورته نیغ نیغ وکتل او وې فرمائیل، ”نو بیا د صحیفو د دې عبارت څهٔ مطلب دے، ”کوم کاڼے چې کِلکارانو رد کړے وو هم هغه د ګوټ سر کاڼے شو“؟ ۱۸ هر څوک چې د دې کاڼی سره ټینډک وخوری هغه به ټوټې ټوټې شی، او کهٔ په هر چا دا راپریوځی نو هغه به ریز مریز کړی.“ ۱۹ د شرعې عالمانو او مشرانو اِمامانو غوښتل چې هغهٔ ته هم په هغه وخت لاس ورواچوی ځکه چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ته دا پته ولګېدله چې دا مِثال د هغوئ په خلاف دے خو هغوئ ورسره څۀ ونۀ کړل ځکه چې هغوئ د خلقو نه يرېدل.

## قيصر له محصُول ورکول

٢٠ نو هغوئ په دې لټون کښې وُو چې څنګه به يې راګېر کړو. نو جاسوسان يې پټ د صادقانو په جامه کښې ورولېږل چې په هغۀ کښې څۀ داسې خبرې راپېدا کړى چې د هغې په بهانه هغه راګېر کړى او ګورنر ته يې حواله کړى. ٢١ هغوئ د هغۀ نه تپوس وکړو، ”اُستاذه، مونږ په دې خبر يُو چې تۀ څۀ وائې او کوم تعليم چې ورکوې هغه ټيک دے او د هيچا طرفدارے نۀ کوې خو په رښتيا سره د خُدائ پاک د لارې تعليم ورکوې. ٢٢ نو بيا مونږ ته دا ووايه چې د روم قيصر له محصُول ورکول روا دى او کۀ نه؟“ ٢٣ عيسىٰ د هغوئ په چل پوهه شو نو ورته يې وفرمائيل، ٢٤ ”ما ته د سپينو زرو يوه سيکه وښايئ. په دې د چا تصوير دے او د چا نوم؟“ هغوئ جواب ورکړو چې، ”د قيصر.“ ٢٥ عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”ښۀ ده، قيصر ته خپل حق ورکړئ او خُدائ پاک له خپل.“ ٢٦ دغه شان د خلقو په وړاندې د دوئ دا کوشش چې هغه په خبرو کښې راګېر کړى کامياب نۀ شو، او د هغۀ په جواب هغوئ حق حېران او غلى پاتې شول.

## د بيا ژوندى کېدلو په باب کښې تپوس

٢٧ بيا ځينې صدوقيان ځوک چې د قيامت نه منکر دى هغۀ له راغلل. ٢٨ او د هغۀ نه يې داسې تپوس وکړو چې، ”اُستاذه، موسىٰ مونږ ته دا ښودلى دى چې کۀ د چا ورور مړ شى او ښځه يې پاتې شى او بچى يې نۀ وى نو بل ورور دې هغه کونډه وادۀ کړى او د هغۀ نسل دې پيدا کړى. ٢٩ نو اوس اووۀ ورونه وُو. وړومبى وادۀ وکړو او بې‌اولاده مړ شو. ٣٠ بيا دوېم هغې ښځې سره وادۀ وکړو، ٣١ بيا درېم هغې سره وادۀ وکړو هم دغه شان اووۀ واړه مړۀ شول خو د يو هم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولاد ونۀ شو. ۳۲ آخر هغه ښځه هم مړه شوه. ۳۳ د قيامت په ورځ به دغه
ښځه د چا وی ځکه چې اووۀ واړو ورونړو ورسره وادۀ کړے وو؟“ ۳۴ عيسیٰ
هغوئ ته وفرمائيل، ”د دې دُنيا سړی او ښځې وادۀ کوی، ۳۵ خو هغه ځوک
چې د بلې دُنيا لائق ګڼلے شوی دی، هغوئ به نۀ وادۀ کوی نۀ به وادۀ کيږی. ۳۶
ځکه چې د هغې نه پس به هغوئ نۀ مړی، هغوئ به د فرښتو په شان وی. ځکه
چې هغوئ د مرګ نه پس بيا راژوندی شوی دی نو ځکه د خُدائ پاک بچی ګڼلے
کيږی. ۳۷ او دا چې مړی به راژوندی کولے شی، دا خو موسیٰ په خپله هم د
جاړو د سوزولو په واقعه کښې بيان کړے دے چرته چې د مالِک خُدائ په حقله
فرمائی، ”د اِبراهيم خُدائ پاک، د اِسحاق خُدائ پاک او د يعقوب خُدائ پاک.“
۳۸ نو هغه د مړو خُدائ پاک نۀ دے، بلکې د ژوندو خُدائ پاک دے. د هغۀ په
نزد ټول ژوندی دی.“ ۳۹ په دې د شرعې ځينو عالمانو ووئيل، ”اُستاذه، ډېر ښۀ
دې ووئيل.“ ۴۰ او د دې نه پس په چا کښې دا جرأت نۀ وو چې د هغۀ نه بل
سوال وکړی. ۴۱ بيا عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”هغوئ بيا دا څنګه وائی چې
مسيح د داؤد زوئ دے؟ ۴۲ ځکه چې داؤد په خپله په زبور کښې فرمائی چې،
”مالِک زما مالِک ته وفرمائيل، زما ښی لاس ته کښېنه، ۴۳ ترڅو چې زۀ ستا
دشمنان ستا د پښو لاندې نۀ کړم.“ ۴۴ داؤد خو په خپله هغۀ ته مالِک وائی، نو
بيا هغه د داؤد زوئ څنګه کيدے شی؟“

## د شرعې عالمان ملامته کول

۴۵ د ټولو خلقو په وړاندې عيسیٰ خپلو مريدانو ته وفرمائيل، ۴۶ ”د شرعې د
عالمانو نه ځان ساتئ ځوک چې په لويو لويو چوغو کښې ګرځی او په بازارونو
کښې د عزت په سلامونو ډېر خوشحاليږی او په عبادتخانو او په مېلمستياو کښې
د مشرئ په ځائ کښېناستل غواړی. ۴۷ هم دا هغه خلق دی چې د کونډو مالونه
خوری او د ريا اوږدې اوږدې دُعاګانې کوی، دوئ به د ټولو نه سخته سزا
مومی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کونډې ښځې شکرانه

۲۱ ① عیسیٰ چې پاس وکتل نو وې لیدل چې مالداره خلق د خُدائ د کور په خزانه کښې خپلې شکرانې اچوی. ② او هغهٔ یوه غریبه کونډه ولیدله چې دوه د تانبې سیکې یې ورواچولې. ③ هغهٔ وفرمائیل، "زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې دې غریبې کونډې د دې نورو ټولو نه زیاتې واچولې. ④ ځکه چې دې نورو چې په شکرانې کښې څهٔ هم واچول هغوئ د مال د زیاتوالی په سبب واچول خو د هغې سره چې د خپلې ګزارې نه هم کم وُو، هغه ټولې یې واچولې"

## د خُدائ پاک د کور د بربادېدو په حقله پېشګوئي

⑤ ځینې خلقو د خُدائ د کور او د هغې د ښکلو کاڼو او په ورکړے شوو نذرانو چې ښائسته کړے شوی وُو، د هغهٔ په حقله خبرې کولې. عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ⑥ "دا ځیزونه چې تاسو وینئ، داسې وخت راتلونکے دے چې په دې کښې به یو کاڼے هم د بل دپاسه پاتې نهٔ شی او ټول به ونړولے شی."

## د تکلیفونو او کړاونو نښې

⑦ هغوئ عیسیٰ نه تپوس وکړو چې، "اُستاذه، دا هر څهٔ به کله پېښیږی؟ او د دې د رانزدې کېدو نښې به څهٔ وی؟" ⑧ عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، "خیال کوئ چې څوک مو بې لارې نهٔ کړی ځکه چې ډېر به زما په نوم راشی او دعویٰ به کوی او وائی به چې زهٔ عیسیٰ یم، او وخت نزدې راغلے دے خو هغهٔ پسې مهٔ ځئ.
⑨ او کله چې تاسو د جنګونو او الې ګولې خبر واورئ نو مهٔ وار خطا کېږئ ځکه چې دا ځیزونه به ضرور اول کیږی خو لا به آخر وخت نهٔ وی." ⑩ بیا هغهٔ دا وفرمائیل، "قومونه به د قومونو په خلاف وی، بادشاهی به د بادشاهئ مخالفت کوی. ⑪ لوئې لوئې زلزلې او قحطونه، وباګانې به ځائ په ځائ راځی او په آسمان کښې به هیبتناکې او لوئې نښې ښکاره کیږی. ⑫ خو د دې هر څهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدو نه مخکښې به هغوئ تاسو ونيسى او تاسو به وزوروى. تاسو به عبادتخانو ته
حواله کېږئ او بندى‌خانو ته به اچولے کېږئ. تاسو به د بادشاهانو او حاکمانو په
وړاندې زما د نوم په سبب راوستلے شئ. ۱۳ نو دا به ستاسو دپاره د ګواهۍ
موقع وګرځى. ۱۴ خو ياد ساتئ چې د مخکښې نه د خپلې صفائى په حقله د
جواب ورکولو فکر مۀ کوئ، ۱۵ ځکه چې زۀ به په خپله تاسو ته د وينا داسې
طاقت او حِکمت درکړم چې ستاسو يو مخالف به هم د دې جوګه نۀ وى چې
ستاسو د خبرو مقابله وکړى يا يې دروغ ثابت کړى. ۱۶ تر دې چې ستاسو مور
پلار، ورونړه، ستاسو خاندان او دوستان به هم تاسو حواله کړى، په تاسو کښې به
ځينې مړۀ کړے شى، ۱۷ او زما د نوم په وجه به ټول ستاسو نه نفرت کوى.
۱۸ خو ستاسو د سر يو وېښتۀ قدرې به هم ضائع نۀ شى، ۱۹ د خپل صبر په
وجه به تاسو ژوندون وګټئ.

## د يروشلم د بربادېدو په حقله پېشګوئي

۲۰ خو کله چې تاسو دا ووينئ چې د يروشلم نه فوجونه راچاپېر شوى دى نو
تاسو پوهه شئ چې د هغې بربادى رانزدې شوې ده. ۲۱ نو بيا هغه خوک چې په
يهوديه کښې دى، غرونو ته دې وتښتى. او خوک چې په ښار کښې وى، هغوئ دې
د ښار نه بهر وځى او خوک چې د ښار نه بهر په کلو کښې وى هغوئ دې ښار ته
نۀ ځى. ۲۲ ځکه چې په هم دې وخت کښې به خُدائ پاک خپل بدل اخلى او څۀ
چې ليکلے شوى دى، هغه ټول به پوره شى. ۲۳ افسوس دے په هغه ښځو چې
په دغه وخت کښې اُميدوارې وى او په هغوئ چې بچو له سينه ورکوى. ځکه چې
په زمکه به ډېر لوئ مصيبت شروع وى او په دې خلقو به لوئ غضب نازل وى.
۲۴ هغوئ به په تُوره هلاک کړے شى او ټولو مُلکونو ته به لکه د قېديانو بوتلے
شى او تر هغه وخت پورې به يروشلم د غېريهوديانو تر پښو لاندې وى ترڅو چې
د غېرو قومونو زمانه پوره شوې نۀ وى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِبن آدم راتلل

۲۵ په نمر، سپوږمۍ او په ستورو کښې به خاص نښې ښکاره شي. د سمندر د
شور او چپو نه به په زمکه ټول قومونه پرېشانه وى. ۲۶ په خلقو کښې به په
زمکه د پېښېدونکو واقعاتو د يرې له کبله ساه پاتې نۀ وى ځکه چې آسمانى
طاقتونه به لړزولے شوى وى. ۲۷ بيا به هغوئ دا ووينى چې اِبن آدم به په
وريځو کښې په ډېر شان او شوکت سره راروان وى. ۲۸ کله چې دا هر څۀ
پېښېدل شروع شى نو پاڅئ او بره وګورئ ځکه چې ستاسو خلاصون نزدې
دے.“

## د اينځر د ونې سبق

۲۹ بيا عيسىٰ هغوئ ته دا مِثال تير کړو چې، ”د اينځر ونې ته وګورئ يا ټولو ونو
ته. ۳۰ کله چې دا غوټۍ وسپړى نو تاسو به په خپله وينئ او پوهه به شئ چې
اوړے رانزدې شوے دے. ۳۱ هم دغه شان چې تاسو دا هر څۀ په کېدو ووينئ
نو پوهه شئ چې د خُدائ پاک بادشاهى نزدې ده. ۳۲ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې
دا موجوده پيړۍ به تر هغې ختمه نۀ شى ترڅو چې دا ټولې خبرې ونۀ شى. ۳۳
زمکه او آسمان به فنا شى خو زما کلام به هيچرې فنا نۀ شى.

## د بېدار اوسېدلو تاکيد

۳۴ خيال ساتئ او پام کوئ. خپل زړونه په بد مستۍ، نشو او په دُنياوى غمونو
مۀ آخته کوئ، ځکه چې هغه ورځ ناګهانه تاسو لکه د لټ راګېر نۀ کړى. ۳۵
ځکه چې هغه ورځ به هر چا راتلونکى ده څوک چې په دې دُنيا کښې اوسيږى.
۳۶ خو هر وخت بېدار اوسئ او دا دُعا غواړئ چې تاسو د دې پېښو په وخت
کښې دومره تکړه يئ چې خپل ځان بچ کولے شئ او چې د اِبن آدم په وړاندې د
ودرېدو جوګه شئ.“ ۳۷ عيسىٰ دا ورځې د خُدائ په کور کښې په تعليم ورکولو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تېرولې او بيا به هغه د شپې تېرولو دپاره د زيتُونو غرۀ ته تلو. ۳۸ او سحر وختی
به ټول خلق د خُدائ کور ته راټولېدل چې د هغۀ خبرې واورى.

## د حضرت عيسىٰ د قتل سازش

۲۲ ۱ خو اوس د پتيرې روټۍ د اختر ورځ رانزدې شوې وه کومې ته چې د
فسح اختر وئيلے شى. ۲ نو په دې موقع مشرانو اِمامانو او د شرعې عالمانو دا
کوشش کولو چې څۀ داسې بهانه ولټوى چې عيسىٰ قتل کړى، ځکه چې هغوئ د
خلقو نه يرېدل. ۳ خو بيا شيطان په يهوداه اِسکريوتى کښې ورننوتو چې په هغه
دولسو مريدانو کښې يو وو. ۴ او يهوداه د مشرانو اِمامانو او د خُدائ د کور د
آفسرانو سره مشورې له لاړو چې داسې څۀ بهانه پيدا کړى چې عيسىٰ به څنګه
هغوئ ته حواله کړى. ۵ هغوئ ډېر خوشحاله شول او د هغۀ سره يې د پېسو
وعده وکړه. ۶ نو هغه په دې کار رضا شو او بيا د داسې موقعې په تلاش کښې
شو چې کله هغۀ سره نور خلق نۀ وى نو هغوئ ته به يې حواله کړى.

## د فسح د اختر تيارے

۷ بيا د پتيرې روټۍ ورځ راغله په کومه ورځ چې د فسح ګډورے قربانى
کېدونکے وو. ۸ نو عيسىٰ بيا پطروس او يوحنا د دې هداياتو سره ولېږل چې،
”لاړ شئ او زمونږ دپاره د فسح خوراک تيار کړئ چې وې خورو.“ ۹ هغوئ
تپوس وکړو چې، ”ستا کوم ځائ خوښ دے چې مونږ په کښې تا له د فسح
خوراک تيار کړُو؟“ ۱۰ هغۀ جواب ورکړو چې، ”څنګه چې تاسو ښار ته ننوځئ
نو تاسو به يو سړے ووينئ چې د اوبو منګے به وړى. هغه چې کوم کور ته
ورننوځى نو هم هغه کور ته ورننوځئ. ۱۱ او د کور خاوند ته دا پيغام ورکړئ،
اُستاذ وائى چې هغه د مېلمنو کمره کومه يوه ده چرته چې به زۀ د مريدانو سره د
فسح خوراک کوم؟ ۱۲ نو هغه به تاسو ته يوه لويه تياره کړے شوې بالاخانه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وښائی، زمونږ دپاره هلته د فسح تیاری وکړئ.“ ⑬ هغوئ لاړل او هلته يې هر څیز د هغهٔ د وینا په مطابق ولیدلو. هغوئ د فسح دپاره تیارے وکړو.

## د عشاء ربانی مقررول

⑭ کله چې هغه وخت راورسېدو نو عیسیٰ سره د خپلو رسولانو روټۍ ته کښېناستو. ⑮ هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”زما دا ډېر ارمان وو چې د مصیبت زغملو نه وړاندې زهٔ تاسو سره د فسح خوراک وکړم. ⑯ ځکه چې زهٔ تاسو ته دا وایم چې د دې نه پس به زهٔ تر هغې بیا دا روټۍ هیچرې ونهٔ خورم ترڅو چې د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې د دې مقصد پوره نهٔ شی.“ ⑰ بیا عیسیٰ یوه پیاله راواخسته او د شُکر کولو نه پس يې وفرمائیل، ”دا واخلئ او په خپلو کښې يې تقسیم کړئ. ⑱ ځکه چې زهٔ تاسو ته دا وایم چې د دې نه پس به زهٔ د انګورو رس بیا تر هغې ونهٔ څښم ترڅو چې د خُدائ پاک بادشاهی رانهٔ شی.“ ⑲ بیا هغهٔ روټۍ راواخسته، شُکر يې پرې وکړو او ماته يې کړه او هغوئ له يې ورکړه او وې فرمائیل، ”دا زما بدن دے چې ستاسو دپاره ورکړے کیږی. زما په یاد کښې دغه شان کوئ.“ ⑳ او هم دغه شان يې د روټۍ نه پس پیالۍ واخسته او وې فرمائیل چې، ”دا پیالۍ زما په هغه وینه کښې کومه چې ستاسو دپاره توئیږی، د خُدائ پاک او انسانانو تر مینځه نوے لوظ دے. ㉑ خو ګورئ، زما د مُخبر لاس هم ما سره په دسترخوان باندې دے. ㉒ ځکه چې اِبن آدم څنګه چې مقرر شوے دے، هغه شان به مرګ ته ورځی، خو افسوس په هغه سړی دے چې په اِبن آدم مُخبری کوی.“ ㉓ په دې خبره هغوئ په خپلو کښې په بحث شُو چې په مونږ کښې به دا کار څوک کوی.

## د لویوالی په حقله بحث کول

㉔ بیا د هغوئ په مینځ کښې دا بحث شروع شو چې په دوئ کښې به د ټولو نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوئ څوک وی. ۲۵ خو عیسیٰ وفرمائیل چې، ”د قومونو بادشاهان په خپلو
خلقو حکومت کوی او څوک چې پرې اختیار لری هغوئ ته د خلقو خیر خواه
وئیلے کیږی. ۲۶ خو په تاسو کښې دې داسې نهٔ وی. په تاسو کښې دې د ټولو
نه مشر ځان د ټولو نه کشر ګڼی او ستاسو مشر دې لکه ستاسو د خادِم په شان
وی. ۲۷ نو په دوئ کښې څوک لوئ دے؟ هغه څوک چې روټئ ته ناست وی او
کهٔ هغه څوک چې خِدمت کوی؟ یقیناً هغه څوک چې روټئ ته ناست وی. خو زهٔ
دلته ستاسو په مينځ کښې د خِدمتګار په شان يم. ۲۸ تاسو هغه خلق يئ چې زما
په آزمېښتونو کښې ما سره ولاړ وئ. ۲۹ او اوس زهٔ هغه بادشاهی تاسو له
درکوم کومه چې زما پلار ما له راکړې ده. ۳۰ نو تاسو به زما په بادشاهئ کښې
زما په دسترخوان خوړل څښل کوئ، او په تختونو به د بنی اِسرائيلو د دولسو
قبيلو د فيصلو دپاره کښېنئ.

## د حضرت عیسیٰ د پطروس د اِنکار پېشګوئي کول

۳۱ شمعونه، اے شمعونه، وګوره، خبردار شه. شيطان غواړی چې هغه تاسو
لکه د غنمو د دانو وشنډی. ۳۲ خو ما ستا دپاره دا دُعا کړې ده چې ستا ايمان
لاړ نهٔ شی او کله چې تهٔ ما ته راوګرځې نو تهٔ خپل ورونړه مضبوط کړه.“ ۳۳
پطروس جواب ورکړو چې، ”مالِکه، زهٔ تا سره جيل او مرګ ته هم تيار يم.“ ۳۴
عیسیٰ هغهٔ ته وفرمائيل، ”پطروسه، زهٔ تا ته وايم چې نن شپه به چرګ تر هغې
بانګ ونهٔ وائی ترڅو چې تهٔ زما د پېژندګلو نه درې ځله اِنکاری نهٔ شې.“

## په خُدائ پاک باندې توکل کول

۳۵ عیسیٰ خپلو مريدانو ته وفرمائيل، ”کله چې ما تاسو بېپېسو، بېبټوې او
بېپيزاره تش لاس لېږلی وئ، ولې تاسو د څهٔ څيز حاجتمند شوئ؟“ هغوئ
جواب ورکړو چې، ”نه.“ ۳۶ عیسیٰ وفرمائيل چې، ”اوس د چا سره چې بټوې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی، هغه دي د ځان سره واخلی او خپلي کڅوړي دي هم ورسره وی، او کهٔ تُوره ورسره نهٔ وی، نو هغه دي خپله چُوغه خرڅه کړی خو تُوره دي واخلی. ۳۷ ځکه چې صحيفي فرمائی چې، "هغه په باغيانو کښې حساب کړے شو،" او دا الفاظ به ضرور زما په حقله پوره کيږی، بېشکه هر څهٔ چې زما په حقله ليکلے شوی دی، هغه به پوره کيږی." ۳۸ هغوئ ووئيل، "وګوره مالِکه، مونږ سره دا دوه تُورې دی." هغهٔ وفرمائيل، "دا کافی دی."

## د زيتُونو په غر د حضرت عيسىٰ دُعا

۳۹ بيا عيسىٰ بهر ووتو او د خپل دستور په مطابق د زيتُونو غر ته لاړو او مريدان هم ورسره وُو. ۴۰ هر کله چې هغه هغه ځائ ته ورسېدو نو هغوئ ته يې وفرمائيل، "دُعا وکړئ چې د آزميښت په وخت ناکامه نهٔ شئ." ۴۱ هغه په خپله د هغوئ نه يو څو قدمه وړاندې لاړو، په ګوډو شو او دُعا يې شروع کړه، ۴۲ "اے پلاره، کهٔ دا چرې ستا رضا وی نو دا پيالہ زما نه اخوا کړه. زما مرضى نه بلکې ستا مرضى دې پوره شی." ۴۳ بيا يوه فرښته د آسمان نه راغله چې هغه مضبوط کړی. ۴۴ او په سخته پرېشانىٔ کښې يې لا نوره هم په جوش سره دُعا وکړه او د هغهٔ خوله لکه د وينو د څاڅکو په شان په زمکه څڅېدله. ۴۵ کله چې عيسىٰ د دُعا نه پاڅېدو او خپلو مريدانو له راغلو نو هغوئ يې غم زپلی اودهٔ ومونډل. ۴۶ هغوئ ته يې وفرمائيل، "دا تاسو ولې اودهٔ يئ؟ پاڅئ او دُعا وکړئ چې د آزميښت په وخت ناکامه نهٔ شئ."

## د حضرت عيسىٰ مُخبرى کول او د هغهٔ ګرفتارول

۴۷ خو چې عيسىٰ لا دا خبرې کولې نو ډېر خلق راغلل، او يهوداه نومې سړے څوک چې د دولسو مريدانو نه يو وو، د هغوئ نه مخکښې وو. هغه عيسىٰ له راغلو چې ښکل يې کړی. ۴۸ خو عيسىٰ ورته وفرمائيل، "يهوداه، تهٔ د اِبن آدم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُخبرى په ښکُلولو کوې څۀ؟“ ﴿۴۹﴾ کله چې د عيسىٰ ملګرو دا وليدل چې څۀ کيږى نو هغوئ ووئيل، ”مالِکه، مونږ د خپلو تُورو نه کار واخلو څۀ؟“ ﴿۵۰﴾ او په هغوئ کښې يو د مشر اِمام په نوکر ګزار وکړو او د هغۀ ښے غوږ يې پرې کړو. ﴿۵۱﴾ خو عيسىٰ جواب ورکړو، ”بس مۀ کوئ.“ بيا هغۀ د هغه سړى په غوږ لاس کيښودو او روغ يې کړو. ﴿۵۲﴾ بيا عيسىٰ مشرانو اِمامانو او د خُدائ د کور حفاظت کوونکو آفسرانو او مشرانو ته کوم چې د هغۀ نيولو له راغلى وُو وفرمائيل، ”ولې تاسو ما ډاکو ګڼئ چې تُورو او کوتکو سره زما نيولو له راغلى يئ؟ ﴿۵۳﴾ زۀ هره ورځ تاسو سره د خُدائ په کور کښې وم نو تاسو ما ته لاس وانۀ چولو خو اوس دا ستاسو دپاره موقع ده او د تورې تيارې اختيار.“

## د حضرت عيسىٰ نه د پطروس اِنکار

﴿۵۴﴾ بيا يې عيسىٰ ګرفتار کړو او د مشر اِمام کور ته يې بوتلو او پطروس ورپسې په څۀ فاصله کښې وروستو روان وو. ﴿۵۵﴾ کله چې هغوئ د صحن په مينځ کښې اور بل کړو او ګېرچاپېره ترې کښيناستل نو پطروس هم د هغوئ په مينځ کښې کښيناستو. ﴿۵۶﴾ نو بيا يوې وينځې چې د اور په رڼا کښې هغه وليدو نو ورته يې نيغ وکتل او وې وئيل، ”دا سړے خو هم ورسره وو.“ ﴿۵۷﴾ خو پطروس د دې نه اِنکار وکړو. هغۀ ووئيل، ”اے ښځې، زۀ يې څۀ پېژنم؟“ ﴿۵۸﴾ لږه شېبه وروستو بل چا وليدو او وې وئيل چې، ”تۀ خو هم په هغوئ کښې يو يې.“ خو پطروس ووئيل چې، ”نۀ، زۀ هغه نۀ يم.“ ﴿۵۹﴾ يوه ګينټه به تيره وه چې يو بل تن نور هم په کلکه ووئيل چې، ”بېشکه، دا سړے هم ورسره وو ځکه چې دے هم ګليلى دے.“ ﴿۶۰﴾ خو پطروس ووئيل، ”سړيه، زۀ خبر نۀ يم چې دا تۀ لا څۀ وائې.“ په هغه ساعت چې هغۀ لا خبرې کولې نو چرګ بانګ ووئيلو. ﴿۶۱﴾ بيا مالِک پطروس ته وکتل او پطروس ته د مالِک خبرې رايادې شوې چې ورته يې فرمائيلى وُو، ”نن هم په دې شپه د چرګ د بانګ وئيلو نه مخکښې به تۀ درې ځله زما نه اِنکارى شې.“ ﴿۶۲﴾ نو هغه بهر ووتو او په چغو چغو يې وژړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عيسىٰ سپکاوے او وهل

۶۳ کومو خلقو چې د عيسىٰ څوکيدارى کوله، هغوئ ورپورې ټوقې وکړلې او
وې وهلو. ۶۴ سترګې يې ورله وتړلې او د هغهٔ نه يې بار بار دا تپوسونه کول،
”کهٔ تهٔ نبى يې نو مونږ ته دا ووايه چې تهٔ چا ووهلې.“ ۶۵ او دغه شان هغوئ د
هغهٔ نور ډېر سپکاوے هم کولو.

## حضرت عيسىٰ د جرګې په وړاندې

۶۶ چې ورځ شوه نو اولسى مشران، مشران اِمامان او د شرعې عالمان راټول
شول او عيسىٰ يې د خپلې جرګې وړاندې پېش کړو. ۶۷ هغوئ ووئيل، ”مونږ ته
ووايه چې تهٔ په رښتيا مسيح يې؟“ هغهٔ جواب ورکړو، ”کهٔ زهٔ درته وايم نو تاسو
به په ما يقين ونهٔ کړئ. ۶۸ او کهٔ زهٔ درنه تپوس وکړم نو تاسو به جواب رانهٔ
کړئ. ۶۹ خو د دې نه پس به اِبن آدم د خُدائ پاک ښى لاس ته ناست وى.“ ۷۰
هغوئ ټولو ووئيل، ”نو بيا تهٔ د خُدائ پاک زوئ يې څهٔ؟“ هغهٔ جواب ورکړو، ”دا
تاسو وايئ چې زهٔ يم.“ ۷۱ بيا هغوئ ووئيل، ”ولې د دې نه پس مونږ ته د نورې
ګواهۍ حاجت شته څهٔ؟ مونږ د دهٔ د خپلې خولې نه په خپله دا خبره واورېده.“

## د حضرت عيسىٰ د پيلاطوس په وړاندې پېشى

۲۳ ۱ د دې سره ټوله غونډه پاڅېدله او عيسىٰ يې پيلاطوس له بوتلو. ۲ او
په دې وينا يې د هغهٔ خلاف دعوىٰ شروع کړه، ”مونږ دا سړے وليدلو چې زمونږ
د قوم خلق بې لارې کوى او قيصر ته د محصُول ورکولو نه خلق منع کوى او
وائى چې زهٔ مسيح بادشاه يم.“ ۳ بيا پيلاطوس د هغهٔ نه تپوس وکړو، ”ولې تهٔ
د يهوديانو بادشاه يې څهٔ؟“ هغهٔ وفرمائيل چې، ”دا ستا وينا ده.“ ۴ نو بيا
پيلاطوس مشرانو اِمامانو او حاضرو خلقو ته ووئيل چې، ”زهٔ په دې سړى کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیڅ جرم نۀ وینم.“ ۵ خو هغوئ اِصرار وکړو چې، ”د هغۀ تعلیمات په ټوله یهودیه کښې خلق بلوه کوی. چې د ګلیل نه راشروع شو او تر دې ښاره راورسېدو.“

## د حضرت عیسیٰ د هیرودیس په وړاندې پېشی

۶ کله چې پیلاطوس دا واورېدل نو تپوس يې وکړو چې، ”ولې دا سړے ګلیلی دے څۀ؟“ ۷ او چې د دې نه خبر شو چې عیسیٰ د هیرودیس د حکومت اختیار لاندې دے نو هغۀ دا مقدمه هیرودیس له ولیږله ځوک چې په خپله په هغه ورځو کښې د یروشلم په دوره وو. ۸ کله چې هیرودیس عیسیٰ ولیدو نو ډېر خوشحاله شو ځکه چې د هغۀ په حقله يې اورېدلی ؤو او د ډېر وخت نه يې دا خواهش وو چې هغه ووینی او په دې طمع وو چې د هغۀ د لاس نه څۀ معجزه ووینی. ۹ هیرودیس د عیسیٰ نه ډېر تپوسونه وکړل خو هغۀ هیڅ جواب ورنۀ کړو. ۱۰ خو مشران اِمامان او د شرعې عالمان راوړاندې شول او د عیسیٰ خلاف يې سخت اِلزامونه شروع کړل. ۱۱ بیا هیرودیس او د هغۀ سپاهیانو د هغۀ سپکاوے وکړو او بې‌عزته يې کړو او په ځلېدونکو جامو کښې يې پیلاطوس له واپس ولیږلو. ۱۲ هم په هغه ورځ هیرودیس او پیلاطوس دوستان شول، د دې نه وړاندې دوئ په خپلو کښې دشمنان ؤو.

## په حضرت عیسیٰ د مرګ فتویٰ

۱۳ پیلاطوس بیا مشران اِمامان، مشران او څۀ نور خلق راوبلل، ۱۴ او ورته يې ووئیل، ”تاسو دا سړے ما ته د خلقو د بې‌لارې کولو په اِلزام کښې راوستے دے خو لکه چې تاسو ګورئ ما په خپله ستاسو په وړاندې د هغۀ نه معلومات وکړو او په هغۀ کښې مې هغه جرم ونۀ موندلو چې تاسو پرې د کوم دعویٰ کړې ده. ۱۵ او نۀ هیرودیس په کښې څۀ وموندل ځکه چې هغۀ هغه واپس ما له



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راولېږلو. دې نه دا پته لګې چې دۀ داسې څۀ جرم نۀ دے کړے چې د مرګ لائق وی. ⁽١٦⁾ نو زما په خيال د يو څو کوړو سزا تېرولو نه وروستو به يې پرېږدم.“
⁽١٧⁾ د اختر په موقع به هغۀ ته دا اجازت وو چې د هغوئ په وينا يو قېدی آزاد کړی. ⁽١٨⁾ خو هغوئ ټولو په جمع شور جوړ کړو، ”دا سړے ختم کړه. مونږ ته برابا آزاد کړه.“ ⁽١٩⁾ برابا هغه څوک وو چې په ښار کښې د بغاوت او قتل په اِلزام کښې قيد کړے شوے وو. ⁽٢٠⁾ پيلاطوس هغوئ ته بيا مخاطب شو او دا يې غوښتل چې عيسىٰ آزاد کړی. ⁽٢١⁾ خو هغوئ چغې وهلې، ”دے په سولۍ راځوړند کړئ. دے په سولۍ راځوړند کړئ.“ ⁽٢٢⁾ پيلاطوس په دريم ځل بيا هغوئ ته ووئيل، ”ولې؟ دۀ څۀ ګناه کړې ده؟ ما هغۀ کښې داسې څۀ جرم ونۀ ليدو چې د مرګ سزا ورکړم، ځکه زۀ به د کوړو سزا ورکړم او بيا به يې آزاد کړم.“ ⁽٢٣⁾ خو هغوئ په ټينګه او په چغو ووئيل چې، ”دے دې په سولۍ کړے شی.“ او د هغوئ چغې ومنلے شوې. ⁽٢٤⁾ نو پيلاطوس دا فېصله وکړه چې د هغوئ د خوښې کار دې وشی. ⁽٢٥⁾ هغۀ هغه سړے آزاد کړو چې هغوئ غوښتو څوک چې د بغاوت او قتل په جرم کښې قيد شوے وو، او عيسىٰ يې د هغوئ مرضۍ ته وسپارلو.

## د حضرت عيسىٰ په سولۍ کول

⁽٢٦⁾ چې هغوئ عيسىٰ په سولۍ کولو له بوتلو نو شمعون کرينی نومې سړے يې راونيولو چې د کلی نه راتلو، سولۍ يې هغۀ ته په اوږه کړه او هغه يې عيسىٰ پسې روان کړو. ⁽٢٧⁾ ډېر خلق ورپسې ؤو چې په کښې ګڼې ښځې هم وې، چې ځانونه يې وهل او په هغۀ يې وير کولو. ⁽٢٨⁾ عيسىٰ هغوئ ته مخ راواړولو او ورته يې وفرمائيل، ”اے د يروشلم لونړو. ما پسې ژړا مۀ کوئ خو په خپل ځان او د خپل اولاد دپاره وير وکړئ. ⁽٢٩⁾ ځکه چې هغه ورځې راتلونکې دی چې هغوئ به وائی چې شنډې بختورې دی، چې کله يې هم بچی نۀ دی راوړی او کله يې هم سينه نۀ ده ورکړې. ⁽٣٠⁾ بيا به هغوئ غرونو ته وائی چې په مونږ راورغړئ. او غونډو ته به



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وائی چې مونږ پېټ کړئ. ۳۱ ځکه چې د شنې ونې دا حال وی نو د وچې به څهٔ
حال وی؟“ ۳۲ د عیسیٰ نه بغېر دوه نور مجرمان هم وُو چې هغهٔ سره په سولیٔ
کولو له بوتلے شول. ۳۳ کله چې هغوئ کوپړیٔ نومې ځائ ته ورسېدل نو هلته
یې هغه د دوو مجرمانو سره په سولیٔ کړو. یو یې د هغهٔ ښی او بل یې ورسره ګس
لاس ته راځوړند کړے وو. ۳۴ عیسیٰ وفرمائیل، ”پلاره، دوئ معاف کړه. ځکه
چې هغوئ نهٔ پوهیږی چې څهٔ کوی.“ سپاهیانو د هغهٔ په جامو خسنړے واچولو او
په خپلو کښې یې وویشلې. ۳۵ او خلق یې تماشې ته ولاړ وُو او د هغوئ حاکمانو
په هغهٔ پورې ټوقې کولې، ”هغهٔ خو نور خلق بچ کول، اوس دې خپل ځان بچ
کړی کهٔ چرې دے په رښتیا د خُدائ پاک غوره شوے مسیح وی.“ ۳۶
سپاهیانو هم په هغهٔ پورې ټوقې وکړې او هغهٔ له یې سرکه ورکړه. ۳۷ او ورته یې
وئیل چې، ”کهٔ چرې تهٔ د یهودیانو بادشاه یې نو خپل ځان بچ کړه.“ ۳۸ د هغهٔ د
سر دپاسه یې یوه تختیٔ لګولې وه چې پرې داسې لیکل وُو چې، ”دا د یهودیانو
بادشاه دے.“ ۳۹ په هغه مجرمانو کښې یو چې ورسره په ځنګ کښې راځوړند
وو عیسیٰ ته پېغور ورکړو، ”ولې تهٔ مسیح نهٔ یې څهٔ؟ نو بیا خپل ځان او مونږ هم
بچ کړه.“ ۴۰ خو دویم مجرم په دې هغه ورټلو او ورته یې ووئیل چې، ”تهٔ د
خُدائ پاک نه نهٔ یرېږې څهٔ؟ تا ته هم د دهٔ په شان سزا درکولے کیږی. ۴۱ مونږ
سره خو اِنصاف شوے دے. مونږ ته خو د خپل عمل سزا مِلاو شوه، ولې دهٔ خو
هیڅ بد کار نهٔ دے کړے.“ ۴۲ او هغهٔ ورته ووئیل، ”اے عیسیٰ، کله چې تهٔ
خپلې بادشاهیٔ ته ورسیږی نو ما هم یاد ساته.“ ۴۳ عیسیٰ جواب ورکړو، ”زهٔ تا
ته دا وایم چې تهٔ به نن ما سره په جنت فردوس کښې یو ځائ یې.“

## د حضرت عیسیٰ وفات کېدل

۴۴ د غرمې وخت وو او په ټوله زمکه تیارهٔ راخوره شوه او د ماسپښین تر دریو
بجو پورې وه. ۴۵ نمر پټ شو او د خُدائ د کور پرده په مینځ دوه شوه. ۴۶ نو
بیا عیسیٰ یوه تیزه کریکه وویسته او وې فرمائیل، ”اے پلاره، زهٔ خپل روح ستا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاسونو ته سپارم.“ او دې وئيلو سره يې ساه ورکړه. ﴿۴۷﴾ نو د دې هر څۀ په ليدلو صوبه دار د خُدائ پاک ثنا ووئيله او وې وئيل چې، ”بېشکه چې دا سړے بې‌گناه وو.“ ﴿۴۸﴾ خو هغه ټول خلق چې دې تماشې ته راجمع شوی وُو کله چې هغوئ دا واقعه وليدله نو ماتم يې وکړو او کورونو ته واپس لاړل. ﴿۴۹﴾ د عيسیٰ ټول دوستان هلته لرې ولاړ وُو او کومې ښځې چې د گليل نه ورپسې راغلې وې، هغوئ هم ورسره ولاړې وې او دا هر څۀ هغوئ په خپله وليدل.

## د حضرت عيسیٰ ښخول

﴿۵۰﴾ نو بيا هلته يوسف نومې يو سړے وو چې د جرگې ممبر او نيک او صادق سړے وو. ﴿۵۱﴾ د هغۀ د هغوئ په دې فيصلې او صلاح کښې ورسره راضی نۀ وو. چې د يهوديانو د ارمتيه ښارېې سره يې تعلق وو او د خُدائ پاک د بادشاهۍ په انتظار وو. ﴿۵۲﴾ نو هغه بيا پيلاطوس له لاړو او د عيسیٰ لاش يې ترې وغوښتو. ﴿۵۳﴾ بيا هغۀ لاش د سولۍ نه راکوز کړو او د کتان کفن يې ورکړو او په غار کښې يې په کنستلے شوی قبر کښې کېښودو چې د دې نه وړاندې په کښې څوک اېښودے شوے نۀ وو. ﴿۵۴﴾ دا د تيارۍ کولو ورځ وه او د سبت ورځ شروع کېدونکې وه. ﴿۵۵﴾ کومې ښځې چې ورسره د گليل نه راغلې وې هغوئ يوسف پسې وې او هغوئ قبر په نښه کړو او دا يې کتل چې د عيسیٰ لاش يې چرته ښخ کړو. ﴿۵۶﴾ بيا هغوئ کور ته لاړې او عُود او لوبان يې تيار کړل خو د شريعت په مطابق يې د سبت په ورځ آرام وکړو.

## د حضرت عيسیٰ بيا ژوندی کېدل

۲۴ ﴿۱﴾ خو د اِتوار په ورځ سحر وختی هم هغه ښځې قبر له راغلې او هغه تيارې کړې خوشبويۍ يې د ځان سره راوړې. ﴿۲﴾ خو هغوئ د غار نه کاڼے رغړېدلے وليدو. ﴿۳﴾ خو کله چې هغوئ دننه ورغلې هغوئ د مالِک عيسیٰ لاش



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هلته ونۀ موندلو. ﴿۴﴾ دوئ لا په دې واقعه حېراني ولاړې وې چې ناګهانه دوه
سړی په بربښناکو جامو کښې هغوئ سره ودرېدل. ﴿۵﴾ هغوئ يرېدلې او خپل
سرونه يې زمکې ته ټيټ کړل خو سړو ورته وفرمائيل چې، "تاسو ژوندی په مړو
کښې ولې لټوئ؟ ﴿۶﴾ هغه دلته نشته، هغه بيا ژوندے شوے دے. تاسو هغه
خبرې رايادې کړئ څۀ وخت چې هغه لا په ګليل کښې وو او درته يې کړې وې
﴿۷﴾ چې، اِبن آدم به ضرور د ګناهګارو سړو لاسونو ته حواله شي او په سولئ به
کړے شي او په درېمه ورځ به بيا ژوندے پاڅی." ﴿۸﴾ بيا هغوئ ته د عيسیٰ
خبرې وريادې شوې، ﴿۹﴾ او د قبر نه په واپسئ هغوئ دا ټولې خبرې هغه يوولسو
مريدانو او نورو ټولو خلقو ته واورولې. ﴿۱۰﴾ دا مريم مګدلينې، يوانه او د يعقوب
مور مريم وه او دوئ سره نورې ښځې وې چا چې رسولانو ته دا خبرې وکړې.
﴿۱۱﴾ خو دا خبرې هغوئ ته بېکاره ښکاره شوې او په هغوئ يې باور ونۀ کړو.
﴿۱۲﴾ خو پطروس پاڅېدلو او قبر له په منډه لاړو او چې غار ته ورټيټ شو او دننه
يې وکتل نو هغۀ صرف د کتان کفن وليدو، بيا هغه په دې شوې واقعه کور ته په
سوچونو کښې ډوب لاړو.

## اِماوس ته تلل

﴿۱۳﴾ هم په هغه ورځ اِماوس نومې کلی ته د دوئ نه دوه کسان روان وُو چې د
يروشلم نه تقريباً اووۀ ميله لرې دے. ﴿۱۴﴾ هغوئ په خپلو کښې يو بل سره په دې
واقعاتو خبرې کولې. ﴿۱۵﴾ کله چې هغوئ يو بل سره په دې بحث کښې لګيا وُو نو
عيسیٰ په خپله راغلو او د هغوئ سره يو ځائ روان شو. ﴿۱۶﴾ خو د هغوئ په
سترګو پرده اچولے شوې وه د دې دپاره چې هغه ونۀ پېژنی. ﴿۱۷﴾ هغۀ د هغوئ نه
تپوس وکړو چې، "دا تاسو په تلو تلو کښې د يو بل سره په څۀ خبره بحث کولو؟"
هغوئ غم زپلی ودرېدل. ﴿۱۸﴾ نو په هغوئ کښې يو کس چې نوم يې کليوپاس وو
ورته جواب ورکړو، "ولې تۀ په يروشلم کښې واحد مسافر يې چې د دې واقعې نه
ناخبره يې چې په تېرو څو ورځو کښې هلته څۀ شوی دی؟" ﴿۱۹﴾ هغۀ ورته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل چې، ”څۀ شوی دی؟“ هغوئ جواب ورکړو چې، ”د عيسىٰ ناصرى په
حقله چې د خُدائ پاک او ټولو خلقو په نظر کښې په کلام او عمل دواړو کښې يو
زورَور نبى وو. ⁽٢٠⁾ او زمونږ مشرانو اِمامانو او حاکمانو هغه حواله کړو چې د
مرګ حُکم پرې وشى او په سولۍ يې کړى. ⁽٢١⁾ خو زمونږ دا طمع وه چې هم
دے به بنى اِسرائيلو له خلاصون ورکوى. خو نن دريمه ورځ ده چې دا واقعه
شوې ده. ⁽٢٢⁾ خو د دې هر څۀ نه علاوه زمونږ د قبيلې يو څو ښځو مونږ په دې
خبره حق حېران کړُو. هغوئ سحر وختى د هغۀ قبر له تلې وې. ⁽٢٣⁾ خو چې
هغوئ د هغۀ لاش ونۀ موندو او د دې خبر سره واپس راغلې چې هغوئ ته فرښتې
ښکاره شوې او ورته يې وفرمائيل چې عيسىٰ ژوندے دے. ⁽٢٤⁾ نو زمونږ يو څو
ملګرى قبر له لاړل او څۀ چې هغه ښځو وئيلى وُو رښتيا هم هغه شان وُو خو
هغوئ هغه هلته ونۀ ليدو.“ ⁽٢٥⁾ عيسىٰ جواب ورکړو چې، ”اے نادانو خلقو تاسو
څومره ساده ګان يئ چې د نبيانو په کلام مو باور نۀ دے کړے. ⁽٢٦⁾ ولې د
مسيح دپاره دا مقرر نۀ وُو چې هغه به دا زحمتونه وزغمى او په خپل جلال کښې
به داخل شى؟“ ⁽٢٧⁾ بيا عيسىٰ د خپل ځان په حقله هغوئ ته د موسىٰ نه راواخله
تر ټولو نبيانو پورې هغه خبرې تشريح کړې کومې چې په صحيفو کښې راغلې
وې. ⁽٢٨⁾ کله چې هغوئ اِماوس کلى ته نزدې شُو نو عيسىٰ خپل ځان داسې
ظاهر کړو چې ګنې لا نور هم مخکښې روان دے. ⁽٢٩⁾ خو هغوئ هغۀ ته په کلکه
ووئيل چې، ”مونږ سره پاتې شه اوس ناوخته دے توره شپه راروانه ده.“ نو هغه
ورسره لاړو او د هغوئ سره پاتې شو. ⁽٣٠⁾ کله چې هغه د هغوئ سره خوراک ته
کښېناستو نو روټۍ يې راواخسته، شُکر يې پرې وويستو، ټُکړې يې کړه او هغوئ
له يې ورکړه. ⁽٣١⁾ بيا د هغوئ سترګې وغړېدلې او هغه يې وپېژندلو خو هغه د
هغوئ د نظر نه غيب شو. ⁽٣٢⁾ هغوئ يو بل ته ووئيل، ”زمونږ په زړونو کښې
څومره جذبه راغلې وه. کله چې په لاره هغۀ مونږ سره خبرې کولې او د صحيفو
تشريح يې کوله.“ ⁽٣٣⁾ بيا هغوئ هم په هغه وخت يروشلم ته واپس روان شول.
هلته هغوئ د هغه يوولسو مريدانو او نور ملګرو سره ملاقات وکړو، ⁽٣٤⁾ او وئيل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې، ”دا ربښتيا دی چې مالِک راژوندے شوے دے او شمعون ته ښکاره شوے دے.“ ﴿۳۵﴾ نو بيا هغوئ دواړو ورته د خپلې لارې واقعه بيان کړه چې هغوئ مالِک د روټۍ ماتولو په وخت کښې څنګه وپېژندلو.

## د حضرت عيسیٰ خپلو مريدانو ته څرګندېدل

﴿۳۶﴾ مريدانو لا دا خبرې کولې چې ناڅاپه عيسیٰ په خپله د هغوئ په مينځ کښې ودرېدو او ورته يې وفرمائيل، ”السلام عليکم.“ ﴿۳۷﴾ هغوئ يرې او هيبت واخستل او په دې سوچ کښې شُو چې ګنې پيرے يې وليدو. ﴿۳۸﴾ خو هغهٔ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو داسې وار خطا ولې يئ او ځان سره ولې وايئ چې دا څوک دے؟ ﴿۳۹﴾ زما لاسونو او پښو ته خيال وکړئ چې دا زهٔ په خپله يم. ما له لاس راوړئ او وګورئ، د پيری بدن نهٔ وی لکه څنګه چې زما دے.“ ﴿۴۰﴾ کله چې هغهٔ دا خبرې وکړې نو خپل لاسونه او پښې يې هغوئ ته وښودل. ﴿۴۱﴾ د هغوئ د خوشحالۍ په وجه اوس لا هم په هغهٔ باور نهٔ راتلو او حېران وُو، نو هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”تاسو سره د خوراک څهٔ بندوبست شته؟“ ﴿۴۲﴾ نو هغوئ ورله د ماهۍ يوه وريته شوې ټکره ورکړه. ﴿۴۳﴾ او هغهٔ واخستله او د هغوئ په وړاندې يې وخوړله. ﴿۴۴﴾ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”دا زما هغه کلام دے چې کله زهٔ تاسو سره وم نو درته به مې وئيل چې د موسیٰ په شريعت کښې د نبيانو په صحيفو کښې او په زبور کښې چې څهٔ زما په حقله ليکلے شوی دی، هغه به ضرور پوره شی.“ ﴿۴۵﴾ بيا هغهٔ د هغوئ ذهنونه کولاو کړل چې په صحيفو پوهه شی. ﴿۴۶﴾ هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”د پخوا نه دا ليکلے شوی دی چې مسيح به زحمت وزغمی او په درېمه ورځ به د مړو نه بيا ژوندے پاڅی. ﴿۴۷﴾ او د هغهٔ په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او د معافۍ وعظ کولے شی. چې د يروشلم نه به شروع شی. ﴿۴۸﴾ هم تاسو د دې هر څهٔ ګواهان يئ. ﴿۴۹﴾ ګورئ، زهٔ تاسو ته هغه څوک درلېږم د چا چې زما پلار تاسو سره وعده کړې وه، خو په دې ښار کښې تر هغې پاتې شئ ترڅو چې په تاسو آسمانی قوت نازل شوے نهٔ وی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عيسىٰ آسمان ته ختل

۵۰ بيا عيسىٰ هغوئ بهر د بيتِ‌عنياه پورې بوتلل او خپل لاسونه يې اوچت کړل
او هغوئ له يې برکت ورکړو. ۵۱ کله چې هغۀ هغوئ له برکت ورکولو نو هغه د
هغوئ نه جدا شو او آسمان ته پورته کړے شو. ۵۲ نو هغوئ د هغۀ عبادت
وکړو او ډېر په خوشحالۍ يروشلم ته واپس راغلل. ۵۳ او هغوئ خپل ټول وخت
د خُدائ پاک په کور کښې د خُدائ په ثنا وئيلو کښې تېرولو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
پښتو بائبل © pashtobibles.org يوسفزى ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.